الصرف ام العلوم و النحو ابوها

مجموعة الصرف والنحو

پښتو شرح
ارشاد الصرف نحومیر

از افادات

شیخ الفنون استاذ العلماء
حضرت مولانا محمد اجمل خان صاحب
فاضل دار العلوم کراچی دامت برکاتهم العالیة
مدرس جامعه مدینة العلوم عثمانیه کوئټه

ترتیب وتزیین
محمد احسان الله

الناشر مکتبه جامعه مدینة العلوم عثمانیه جنگل اسٹاپ کوئټه

اعدادالصرف

نادره پښتوشرح د
ارشادالصرف

افادات وپسندیده;

شیخ الصرف والنحوحضرت مولانا محمداجمل صاحب دامة برکاته

ترتیب اوتزیین

مولوی امین اللّٰه

تقریظ

شیخ الصرف والنحواستادالعلماء الاستادالشفیق حضرت مولانا **محمداجمل** صاحب دامة برکاتهم العالیة وادام الله حیاته .

سابق مدرس الجامعة الاسلامیة لتعلیم القرآن والسنة
پشتون باغ کویته بلوچستان باکستان .

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونُصَلِّیْ عَلٰی رَسُوْلِهِ الْکَرِیْمِ

امابعد

دارشادالصرف له اهمیت څخه محترم استاذان ښه خبردي .
که په محنت اوکوشش سره وطالبانوته وویل سي .
نوپه علم صرف کي به کماحقه لاربښونه ورته وسي .
مولوي امین الله ددي کتاب شرحه اعدادالصرف ترتیب کړي ده مادديشرحي مختلف ځایونه وکتل ماشاءالله ډیره بهترینه شرحه ده اودارشادالصرف دحل لپاره بس ده
اوزه داشرحه داستاذانواوطالبانولپاره ډیرمفیده ګنړم .
دعاکوم چي الله تعالي داشرحه زمااومولوي امین الله او ؛ نوروملګرولپاره دخلاصون سبب وګرځي .

أمین ثم أمین.

(ددي شرحي وامتيازاتوته لنډه کتنه)

(۱) دعجيبه تحقيقاتو په ستورو ځليدلي مقدمه .
(۲) دارشادالصرف دشرحونه بلکي دفن داکثرو کتابو خلاصه .
(۳) دارشاد مقدمه مکمل مفصل.
(۴) دضرب دباب ټول گردانونه سره له ترجمو اونادره تحقيقاتو .
(۵) دضرب دباب ټولي بناگاني سره له غريبه تحقيقاتو .
(۶) په ارشادالصرف کي دپاتې سويو قانوناتو راوړل.
(۷) دارشادالصرف دعبارت تسامحات په گوته کيدل اودهغوی مدلل حل.
(۸) دارشادالصرف دشروحو غلطي اودهغوی حل .
(۹) دفن په کتاب کي تضاد معلوميدل اودهغوي تطابق .
(۱۰) دارشادقوانين له اختصارسره سره په اسانه طريقه .
(۱۱) ترهرقانون مخته دهرقانون په ساده پښتو اسانه خلاصه
(۱۲) له هرقانونه سره احترازي او اتفاقي مثالونه .
(۱۳) دهرقانون داحترازي مثال وجه ،مگرچي ډيرواضح وي .
(۱۴) دهرقانون دمطابقي (اتفاقي) مثال اعلال .
(۱۵) له هرقانون سره دهغه داجراء ځايونه .
(۱۶) دنويو (جديد) مدرسنو لپاره تقريبا (۱۶۰۰) حل سوې صيغې ،چي پنځه سوه صيغې صرف داسم جامددي .
(۱۷) له هرقسم قانون سره خپلي صيغې ، يعني دمجردوله قانوناتوسره دمجردوصيغې الخ.
(۱۸) داسم جامد اودمشتقي دصيغوفرق.
(۱۹) له مشکلوصيغوسره په حاشيه کي تشريح .
(۲۰) دشرحي مأخذونه ټول تقريبادکتاب په آخرکي ليکلي دي چي شميرئي تقريباًسل ته رسيږي .

مقدمه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد الله علي التوفيق ومنه الهداية الي سواء الطريق والصلاة علي نبيه محمد خير البرية و علي آله واصحابه ذوي النفوس الزكية.

امابعد ،هرطالب چي په يو فن له فنوشروع کوي دلره لابدي ده ديو څوشيانوله پيژندلو.

(۱) تعريف دفن ،

(۲) موضوع دفن.

(۳) غرض دفن.

(۴) واضع دفن.

(۵) مقام دفن.

(۶) دکتاب نوم.

(۷) دمصنف نوم.

سوال : دد غو شيانو پيژندل ولي ضروري دي؟

جواب: که تعريف ونه پيژني طلب دمجهول مطلق به راسي ،که موضوع ونه پيژني امتيازد علوموبه نه وي ،که غرض ونه پيژني سعي به دي عبث سي ،که واضع ونه پيژني دفن شان او شوکت به په زړه کي نه وي ،دمقام پيژندنه ضروري ده ځکه چي دفن اهميت درته معلوم سي ،دکتاب نوم که نه سي معلوم دابه نسي معلوم چي داولي په دي نامداره سوي ده دمصنف نوم په دي ضروري ده چي دکتاب اهميت درته معلوم سي ،

تعریف

تعریف: په لغت کي پیژندني ته وائي په اصطلاح کي مایمیزالشئ عن غیره، چي شی له نورو جلاکوي، مثلاً انسان په حیوان ناطق جلاسوي ده له ټولو اغیارو څخه.

دعلم صرف تعریف.

(هو علم باصول یعرف بهااحوال الکلم من حیث الاصل والبناء) پوهه ده په یو څو قاعدوسره چي په هغوي سره معلومیږي احوال دکلموپه حیثیت داصل اودجوړ.

مهمه فائده:

په تعریف کي چي دالثلاثة لفظ دئ داغلط دئ اوکلم که جنس وبولي که جمع صرف اسم او فعل څني مراد دي یعني که جمع سي له جمع څخه جمع لغوي مراد ده چي کم افراد ئي دوه دي. اودجنس اطلاق خوپرقلیل اوکثیرعلي السوي ده، نوصرف دوه مراد دي چي اسم وفعل دي، ځکه چي په حرف کي داصل اودجوړاحتمال نسته نوحرف نه پکي داخلیږي ځکه حرف مبني ده اوله مبنیاتوصرفیین بحث نه کوي، الابتکلف باردنادرجدا.

فائده:

په بعضوتعریفونوکي یوڅولفظونه راوړي، اعلال والتعلیل وردوبدل دغوته ضرورت نسته.

مهمه خبره.

سوال: بعض علماء دعلم صرف تعریف داسي کوي (تحویل الاصل الواحدالي امثلة مختلفة لمعان مختلفة لاتحصل الابها. الزنجاني،
ګرزول داصل واحدچي مصدرده وامثله مختلفة ته چي دوآزده آقسام دي لپاره دحصول دمعنا ګانومختلفو: نوددي دووتعریفوپه مابین کي خوتعارض ده؟

جواب: داده اشتقاق تعریف ده په بل عبارت صرف دوه قسمه ده (۱) علمي (۲) عملي، دغه تعریف دعملي صرف تعریف ده اوموږدعلمي صرف تعریف کړي ده: (شذالعرف ص ۱۷.)

منشاءِ اختلاف

منشأ د اختلاف ئي عدم فرق ده يعني دغه علماء د اشتقاق او صرفو فرق نه کوي او اشتقاق له صرفو يوه حصه ده يعني دواړه يو علم بولي .

فائده : عملي صرف د عربو کار ده زموږ عجمو کار صرف علمي صرف ده .

موضوع : په لغت کي بنوول سوي (ځاي سوي) ته وائي په اصطلاح کي (مايبحث فيه عن عوارضه الذاتيه) چي بحث کيږي په هغه کي له عوارضو ذاتيه د هغه شي .

دعلم صرف موضوع : الكلمة العربي من حيث الصيغة، كلمه عربي په حيثيت دصيغي .

فائده : دصرفو په موضوع کي دعربي قيد ملحوظ دئ لکه ورسته چي به هم راسي : که کلمات لغات عرب ، نو بعض طالبان دا خبره کوي چي مثلا (أچقُل) څه صيغه ده يعني يو عجمي لفظ وي منقول هم نه وي دوي وائي دا څه صيغه او بيا دصيغي وزن ورته جور کړي مثلا اچقل لکه انصر دا محضاً غلطي فهمي ده .

غرض : غرض په لغت کي مطلوب ته وائي په اصطلاح کي : مايكون باعثا للفعل، چي باعث پر فعل وي .

دعلم صرف غرض: صيانة الذهن عن الخطاء في الصيغة ، ساتنه دذهن ده له خطاء څخه په صيغه کي .

سوال : خطاء کيږي په ژبه خو تاذهن ويلي دهِ؟

جواب: دلته مضاف حذف ده يعني مترجم الذهن :يا اصلي ذهن خطاء کيږي ژبه دذهن په وجه خطاء کيږي .

واضع صرف : په واضع دصرف کي اختلاف ده پنځه قوله پکښي دي ،

(۱) مشهور قول دا ده چي واضع او مدوّن دعلم صرف حضرت علي کرم الله وجهه ده .

(۲) قول واضع حضرت معاذبن مسلم الهروي رحمه الله دئ (تابعي ده) لکه چي شعرده واضع الصرف معاذبن المسلم الهروي : وکان لنحو عليا جيدرا .
(۳) قول واضع ابوالاسو د الظالم بن عمرالدولي رحمه الله المتوفي : ۶۷\ه : دحضرت علي رض شاګرد ده .
(۴) ابوعثمان بکرالمازني رحمه الله ده .
(۵) راجح قول داده چي واضع اومدون دصرفو امام ابوحنيفة صاحب رحمه الله ده المتوفي ۱۵۰\ه: مفتي رفيع العثماني رحمة الله ويلي دي چي دصرفو واضع امام صاحب رح دي چي هغه په صرفو کي يو کتاب هم جوړکړي ده (المقصود) په نامه ددي بيادرې شرحې دي
(۱) المطلوب : چي مجهول المصنف ده لکن دديباجې څخه ئي دامعلوميږي چي دامام صاحب رحمه الله خصوصي شاګرديا متعلق ده .
(۲) امعان الانظار : دمصنف نوم ئي نورالدين محمدبن بيرعلي ده چي په ۱۹۵۲\ه: کي مکمله سويده ،اوياد زين الدين ببرعلى محي الدين المعروف ببرکلي مصنف دي بان الصرف بحواله علم الصيغه ،ده په جزم سره ئي ويلي دي چي (المقصود) مصنف امام صاحب دى
(۳) روح الشروح مصنف ئي استاذ عيسي ده اودامام صاحب يوبل کتاب المطبوعات العربية کي درې واړي ددغه ذکرراغلى ده اوامام صاحب تې منسوب کړى ده چي داکتاب دامام صاحب دئ نوظن غالب داده چي ددې فن واضع اومدون امام صاحب دى دائي شاهددى .

ددې فن تاريخ : ددې فن تاريخ داده چي اول واړصرف اونحوسره ګډوو حضرت علي رض وخپل شاګردابوالحسن ظالم بن عمردولي المتوفي : ۶۷\ه: هغه خپل شاګرددمعاذبن مسلم الهروي المتوفي : ۸۷\ه: ته وويل په هغه وخت کي امام صاحب داوليکل اودمستقل فن د تدوين کيدوشرف ئي حاصل کړى بيامعاذبن مسلم اودهغه شاګردانو ابوالحسن علي کسائي المتوفي : ۱۸۹\هـ :دغه فن ته ترقي ورکړه ترسيبويه اواخفش پوري داسي داسلسله جاري وه

مقام صرف : صرف په علوموکي دمورحيثيت لري لکه مشهوره مقوله ده
الصرف ام العلوم والنحوابوها : صرف موردعلوموده اونحوئې پلارده ،په دئ کي هيڅ شک نسته ترڅو چي چاصرف نه وي زده کړي هغه عربي علوم سم نه سي زده کولاى اولکه

په حيواناتو چي ومورته ډيرضرورت سته دغه رنګه په علوموکي صرفوته ډيرضرورت سته اولکه کوچني چي اول ومورته ډيرضرورت لري ترپلاردغه شان په علوموکي ډيرضرورت اول وصرفوته ده لکه دنحوميرپه ديباجه کي چي هم دمبتدي په شرائطوکي دی اوبل لکه مورچي

ډيرحق لري په شريعت کي دغه شان صرف ډيرمحنت اوخدمت ته ضرورت لري لکه بعض وا صفينو ويلي دي ، الصرف والنحوفي العلم کالروح في الجسم :

الصرف في العلوم کالضوء في النجوم .

دکتاب نوم :ارشادالصرف ارشادمصدرده دأَرْشَدَيُرْشِدُارشادا،دافعال له بابه ده په معني دمرشِد(اسم فاعل) ده په معني درهبراورهنمانومضاف ورسره حذف ده ،نومعني هذا مرشدعلم صرف .

مصنف نوم : دمصنف نوم (خدابخش رح) دصوبه (ولايت) سنده ضلع (ولسوالي) ګوټهکي دی ددارالعلوم ديوبندفارغ دي په قاسم العلوم کي دحضرت مولاناعبيدالله سندهي صاحب صاحب رح په مدرسه کي ئي درس کړي ده ،دوی لس ملګري وو لس لس کاله ئي درس وکړی اوهر يوه تصنيف وکړی دده کتاب ته الله ج ترويج ورکړدده دتقواء له وجي اوارشاد ئې دمولاناعبيدالله رح په امرجوړکړی ده .

يوڅواصطلاحات.

لغت

په لغت کي وينا(خبري) ته وائي په اصطلاح کي (مايعبرکل قوم عن اغراضهم) چي هرڅپل غرض اومقصداظهاراوتعبيرپه کوي .

فائده دلغت واضع اصلاالله ج ده لکه چي فرمائي وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَآءَ كُلَّهَا: په هغه بياکمي بيشي دهرملک دانسانانوله طرفه سويده ،(املاءالصرف.)

فائده بنه لغت په لغاتوکي عربي ده

دلائل

(۱) الله ج د قرآن په صفت کي وائي (قرآنا عربيا) بلسان عربي.
(۲) عليه السلام فرمائي (احبوا العرب لاني عربيّ والقرآن عربيّ ولسان اهل الجنة عربي او کما قال بحواله مجمع الزوائد باب ماجاء في فضل العرب :ج:۱۰: ص ۵۲: ومستدرک حاکم علي الصحيحين؛ ج ۴: ص ۹۷: ومعجم الکبير: ج۱۱: ص ۱۸۵.
(۳) قال ابن عباس رض (ماانزل الله کتابا الابالعربية ثم ترجم لکل نبي علي لسان امته.
(۴) وقال عمر رضي الله عنه عليکم باالعربية فانها تثبت العقل وتزيد في المروة.
(۵) قال بعض السلف :عليکم بالعربية فانها المروة الظاهرة وهي کلام الله وکلام الانبياء وکلام الملائکة.

فائده: دانسان اولنۍ ژبه عربي ده لکه څنګه چي انسان اشرف المخلوقات ده دغه شان الله ج احسن ژبه هم ورکړه، له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي دآدم عليه السلام ژبه په جنت کي عربي وه بيا چي کله ده له هغه ممنوع درختي څخه ئي خوراک وکړ، الله جلّ جلاله لکه چي نور نعمتونه ځني واخستل دغه رنګه ئي عربي ژبه هم ځني واخستله،

ثُمَّ اجْتَبٰهُ رَبُّه فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدٰى: طه.
بيا له توبې وروسته يوزمانه راغله چي له نورو نعمتو سره سره ئي عربي ژبه هم ورکړه آدم عليه السلام ډير خوشحاله سو.
دآدم عليه السلام په وخت کي عربي استعماليده څنګه چي په وخت کي تغير او تبديل راتلی شرک او کفر عام سو آخر د نوح عليه السلام د طوفان په وخت کي عربي بلکل ختمه سوه بيا حضرت اسماعيل عليه السلام ته په ذريعه د وحي يا الهام الله ج عربي وروښووله،
کمافي رواية اول من تکلم باللغة العربية سيدنا اسماعيل عليه السلام.
نو کله چي خلک په دين کي ډلي ډلي داخل سول عرب او عجم سره ګډ سول په معاملاتو کې اختلاط راغی نو د صرف او نحو ضرورت راغی،
او عربي ژبه د قرآن او د عليه السلام ده په دي حيثيت تر ټولو ګرانه ژبه ده که څه هم د عامي ژبي

په حیثیت ویل اسانه ده نو هغه څوک چي صرف او نحوئي نه وي زده او د قرآن یا د احادیثو ترجمه کوي دا بلکل دروغ او فریب ده لکه نن صبا د غه ځانوته چي روښن فکران وائي او دا دعوه کوي چي موږ د قرآن په معني پوهیږو دا هیڅ حقیقت نه لري .

صیغه : په اصل کي صِوْغَت وو بیا واو ساکن ماقبل مکسوروو هغه ئي په یا بدله کړه او تائي په هاء ساکنة بدله کړه ، او په لغت کي زر مطلقا په بوتل کي اچولو ته ، یا زرويلي کیدل او په غالب یا په کانچه کي اچولو ته وائي ،
په اصطلاح کي : هیئة حاصلة من ترکیب الحروف والحرکات والسکنات .هغه صورت ده چي له ترتیب د حروفو حرکاتو سکناتو څخه حاصل وي ،(مقبول الثقات وغیره .)
فائده : بعض علماؤ څو الفاظ ئي په تعریف کي زیات کړي دي لکن ضرورت ئي نسته .
بناء : یوه صیغه له بلې جوړولو ته بناء وائي ،(انوارالاشرفیه.)

اصطلاح : په لغت کي صلح یا جمع کیدو ته وائي ،
په اصطلاح کي اتفاق قوم مخصوص علي امر مخصوص : دیو خاص قوم اتفاق پر یو خاص ا مرباندي مثال د بعضو خلکو اصطلاح وي اتفاقي ئي پردي راغلي وي چي ډوډۍ ته مړۍ وا ئي بعض ټکله ورته وائي ،(کنزالنوادر وغیره .)

کلمه : په لغت کي جرح ته وائي لکه د علي رضي الله عنه قول ده جراحات السنان لها التیام : و لایلتام ماجرح اللسان ،
او په اصطلاح کي لَفْظٌ وُضِعَ لِمَعْنًى مُفْرَدٍ.

لفظ : په لغت کي له خولي دیو شي غورزولو ته وائي لکه عرب چي وائي اکلت تمرة ولفظت النواة .خورمامي وخوړه خنډۍ مي وغورځوله ،

په اصطلاح کي مايتلفظ به الانسان ته وائي .

صرف : په لغت کي پرډيرو معناگانو راغلي ده (۱) گرځول ، (۲) پريشانه کيدل ، (۳) زيور ، (۴) سره او سپين زرخرڅول ،(۵) دزماني گردش ،(۶) حادثة ،(۷) زرويلي کول .
اوپه اصطلاح کي ئي تعريفونه ذکرسول نورتعريفونه ئي هم سته .

تنوين : په لغت کي يوه کلمه نون داره کولوته وائي ،

په اصطلاح کي دوه تعريفه (۱) چي په ويلو کي ويل کيږي په ليکلوکي نه ليکل کيږي لکن داقول کمزوري وي ځکه چي په قرآن کريم کي (وَكَاَيِّن مِن نَّبِيٍّ) تنوين راغلي ده په صورت دنون ليکل سوي ده ،(۲) بنه قول داده چي :نون ساکنة تتبع حرکة الاخرة الکلمة ،هغه نون ساکن ده چي د کلمې دآخرحرف دحرکت تابع وي يعني که هغه مفتوح ووده فتحې په شکل اوکه مضموم وودضمي په شکل که مکسورووده کسرې په شکل وي ،
فائده : تنوين اصلا دنون قسم دی،
نون : پردوه قسمه ده (۱) اصلي (۲) زائد.
اصلي : هغه ده چي په مقابله دفاء اودعين ويالام کلمي راغلي وي لکه نصر،منع،آمن .
زائد: پراووه(۷) قسمه ده .
(۱) علامتي : چي دباب علامه وي لکه احرنجم همزه ونون دافعنلال دباب علامه ده .
(۲) اعرابي : چي بدله حرکت مفرد رفعي ځخه وي لکه يضربان يضربون .
(۳) بنائي: د جمعي مؤنث مخاطبي وغائبي نون لکه يضربن ،تضربن .
(۴) نون تاکيد: نون تاکيددوه قسمه دی(۱) ثقيله چي مشددوي لکه اِضْرِبَنَّ،(۲) خفيفه چي ساکن وي لکه اِضْرِبَنْ.
(۵) وقاية: چي د کلمي دآخرحرف دحرکت دحفاظت لپاره راځي لکه ضربني.

فائده : نون وقايه ته په دې وقايه وائي چې وقايه وائي ساتني ته ،دی هم دکلمې دآخرحرف حرکت ساتي له تغيره مثلاً ضربني اوس که چيري دانون نه واي نودباء فتحه به بدليده په کسره دياء له وجې .

(۶) نون قطني: چې دحرف پرآخرباندي تنوين وي اوپروروسته حرف باندي الف لام وي يعني ساکن حرف وي له هغه سره التقاء ساکنين راځي نوپه داوخت کي تنوين په نون مکسوره سره اوړي : لان السّاکن اذاحرّک حرّک باالکسر: لپاره ددفع دالتقاء ساکنين لکه : قل هوالله احد الله الصّمد :

فائده: نون قطني ته ځکه قطني وائي چې قطن اصلي هغه پمبه وو ته وائي چې دکشتئ د تختي په سوري کي وي ،لپاره ددي چې کشتئ ته اوبه ورنسي ،نودلته دانون راوړل کيږي چې التقاساکنين رانسي لکه اوبه اوکشتئ چې سره ضدد ې دغه رنګه الف لام اوتنوين هم سره ضدد ي ،

فائده: په داسي ځاي کي کوچنی نون ځکه ليکل کيږي چې دلالت وکړي پرالتقاء ساکنين او کوچنی نون ځکه ليکل کيږي چې يوڅوک داصلي حرف دکلمې دجزء ،خيال پرونکړي .

(مغالطه)

بعض مبتديان په دي کي سهوسوي وي چې دانون قطني يوزائدحرف وکلمي ته راغلی ده او حال داچې داهغه نون تنوين ده فافهم .

سوال: داولي چې الساکن اذاحرک حرک باالکسر؟

جواب: ځکه چې دکسري اوسکون په منځ کي مناسبت دئ ،لکه سکون چې عدمي ده کسره هم من وجه عدمي ده ځکه پرفعل اوغيرمنصرف باندي نه راځي .

(۷) نون تنوين : نون تنوين پرپنځه قسمه ده لکه په بيت کي چې ده ،

تناوين پنج اندای پرغرض:ترنم ،تمکن ،تقابل،عوض،به تنکيرپنجم شدای يارغاراګرهوش داري برويادداز.

(۱) تمکن : چې پراسم متمکن باندي راځي لکه زيد.

(۲) تقابل : د جمعي مؤنث تنوين چې په مقابله د جمع مذکر دنون کې راغلي دي لکه مسلماتٍ
(۳) عوض : چې له جملي یا له مضاف الیه عوض راغلي وي لکه په یومئذٍ.
(۴) تنکیر : چې پر اسم نکره باندي راځي لکه رجلٌ.
(۵) ترنم : دا د خوش اوازي لپاره راځي پر اسم او فعل او حرف پر درو سره وو باندي راځي .
فائده : دا اسم علامه له تنوین ترنم ما سوا دا نور دي ،انوار الصرف مع زیادة .
فائده : د تنوین د ټولو اقسامو وجه د تسمې له تعریفو معلومیږي .
فائده: حرکت او سکون دوه قسمه دي (۱) لازمي (۲) عارضي.
لازمي: چې په اصل وضع کې وي ،
عارضي : چې په اصل وضع کې نه وي (املاء الصرف.)
صرفیین حرکت عارضي په حکم د سکون کې بولي لکه دَعَتَا او سکون عارضي په حکم د حرکت کي بولي (املاء الصرف.)
فائده : حرکت دوه قسمه ده اعرابي اوبنائي،(۱) اعرابي چې د عامل له وجهي وي لکه یضرب.(۲) بنائي چې د عامل له وجهي نه وي(املاء الصرف.)

قوله بسم الله الرحمن الرحیم ط

سوال: اصلا مقصود خود مصنف رح قواعد د صرفو وي په بسم الله سره شروع کول د ا اشتغال په مالایعني سره ده او دا د عاقل کار نه ده ؟
او حمد ئي هم پري ایښي ده ؟
جواب: (۱) مشرکینو به د بتانو په نامه شروع کوله نو پر موحِّدنو دا واجبه ده چې خاص د الله جلّ جلاله په نامه شروع وکړي نو ئي ځکه بسم الله په شروع کي راوړه ،
(۲) اقتداء د قرآن کریم په حالت نزولي پسي کړي ده چې په شروع کي بسم الله وه او حمد نه وه
(۳) د حمد معنا په بسم الله کي پرته ده ځکه چې په حمد کي هم د الله جلّ جلاله لویي ده او په بسم الله کي هم د الله جلّ جلاله لویي سته ضمنا ځکه مونږ د الله د لفظ ترجمه کوو په واجب الوجو د المستجمع لجمیع الصفات الکمالیة :

(۴) اقتداء ئي په نبي عليه السلام پسي کړي ده چي ده به يو چاته خط ليږی نو صرف بسم الله بي وليکله حمد به نه وو.
(۵) اقتداء ئي کړي ده په نبي عليه السلام پسي په اظهار د عجز کي چي نبي عليه السلام فرما ئي (لا احصي ثناء عليک انت کما اثنيت علي نفسک : يعني زه عاجزه يم ستاله ثناء ،عقيده مي داده چي ته داسي ئي لکه تا چي ځان ستايلی ،
(۶) د الله ج وعظمت شان ته اشاره ده چي زموږ نفوس ناطقه له دي عاجز دي چي ستا حمد دي و وايو.
(۷) د بسم الله په شان کي تاکيد زيات ده سيد المرسلين عليه السلام فرمائي الامن کتب منکم کتابا فليکتب في اوله بسم الله الرحمن الرحيم.
سوال: د حمد په شان کي چي کوم حديث راغلي دي (کل امر ذي بال لم يبدأ فيه بحمد الله فهوا بتر) (مرقاة شرح مشکوة: ج ۱.)
نو اوس سوال داده چي ابتداء خوآنی (حالي) شی ده او په يوه حال کي په يوه ژبه په دوو شيئو شروع کول محال ده ؟
جواب: دلته بعض علماء دا جواب ورکوي چي ابتداء دوه يا درې قسمه ده ،حقيقي ،اضافي حقيقي ديته وائي چي تر مقصود او غير مقصود مخته وي ،
او اضافي ديته وائي چي تر مقصود مخته وي تر غير مقصود که مخته وي کنه ،په بل عبارت چي نسبت پکښي کي وي ،يعني په نسبت و يو شي ته مخته وي په نسبت و بل ته مخته وي کنه نو دلته په بسم الله کي ابتداء حقيقي او په حمد کي ابتداء اضافي ده لکن دا جواب کمزوري ده د ابناء د فاسد پر فاسد ده يعني دا سوال فاسد وو نو جواب ورکول هم فاسد دئ ،
ځکه دا اصلاً حديث يو دئ راويان دوه دي نو په اختلاف د راويانو حديث نه دوه کيږي. بعض شراح بخاري ،شرح شرح العقائد.
فائده: دا څلور قسمه حروف بايد وپيژندل سي ،
(۱) حروف جاره : باوتاکاف ولام واو منذ مذ خلا رُبّ حاشا من عدا في عن علي حتي الي.
فائده: لفظ د مِن په کسره د ميم او په نون ساکنه سره حرف ده ،په فتحه د ميم اسم ده له اسماء موصوله و وڅخه ده او په فتحه او په تشديد د نون سره فعل ده يعني مَنّ د ماضي صيغه ده.

فائده : حروف جاره غیر مشهور هم سته دزیات تحقیق لپاره داستاذ د نحو میر تقریر وګورئ.

(۲) حروف نداء : پنځه دي یَا وایاً وهیاً واَیْ وهمزه مفتوحه.

(۳) حروف جوازم : پنځه دي اِن ولم لمّا ولام امر لائ نهي.

(۴) حروف نواصب : څلور دي اَن ولن کي اذا.

فائده : ددي حروفو تفصیل د نحو په کتابو کي ده خو په قدر د ضرورت بالجملة تفصیل بي مخته راسي.

(قوله بدان اسعدک الله الخ)

فائده :بدان د امر صیغه ده دانستن ئي مصدر ده ،دانه ئي مضارع ده باء زائده ده د تحسین لپاره ده نور تفصیل د مؤلف په کتاب مقبول الثقات در ضوابط فارسیات : کي وګورئ.

سوال: دبدان لفظ ئي را وړی نو اعلم ئي ولي نه وایو؟

جواب: کتاب فارسي وي ځکه ئي فارسي صیغه را وړه.

سوال: بدان دي وایو ولي دي بشنو ،ببین ،بگو نه وایو؟

جواب: بشنو معني واوره ،ببین معني ووینه ،بگو معني ووایه ،دلته صرف اوریدل ،لیدل ،و یل نه دي مقصود بلکي د مصنف دیته اشاره ده چي زما کتاب بنه په شوق ووایه او په زړه کي ځاي ورکه.

سوال: بیا دي بشناس معني با ورکن ولي نه وایه هغه هم په معني دبدان دئ؟

جواب: په دي کي اختصار وو او عربي مقوله ده خیر الکلام ما قل ودل ولم یمل (مفید الطالبین) بنه کلام هغه ده چي الفاظ ئي کم او معنائي ډیره وي او پر خلکو بوج هم نسي (انوار الاشرفیه.)

سوال: چي کتاب فارسي وو نو بیا دي دعا ولي په عربي وکړه؟

جواب: لکه چي مخته تیره سوه چي احسن لغات په لغاتو کي عربي ده لکه نبي علیه السلام چي فرمائي ،احبوا العرب لثلاث لاني عربي الحدیث او کما قال بحواله مجمع الزوائد باب ما جاء في فضل العرب: ج۱۰: ص ۵۳: او مستدرک علي الصحیحین : ج۴: ص ۹۷: ومعجم ا لکبیر: ج۱۱: ص۱۸۵: او مشهوره مقوله ده [الدعاء بالعربیة اسرع للاجابة ، دعاء په عربي ژر نه نژدي ده وقبولتیا ته.

فائده :دغه بعض علماء حديث بولي (الدعاء بالعربية الخ)

سوال: اَسعَدَ خو دماضي صيغه ده دعاخو دمضارع يادامرپه صيغه كيږي؟

جواب: (١)داقاعده ده چي په اته ځايه كي ماضي په معني دمضارع وي يوله هغوڅخه دعاده لكه په بيت كي چي ده.

بيت

آمده ماضي بمعني مضارع چند جا: عطف ماضي برمضارع درمقام ابتداء، بعدموصول وندا، ولفظ حيث وكلما، درجزاء وشرط هردوباشد واندردعاء.

تشريح

كم ځايونه چي ماضي چي دمضارع په معني وي.

(١) چي عطف دماضي پرمضارع وسي.
(٢) چي ماضي دموصول وروسته واقع سي.
(٣) ماضي چي له نداء اومنادى وروسته دجواب ... په سركي راسي.
(۴) چي ماضي دحَيث ترلفظ وروسته راسي.
(۵) چي ماضي دكُلّماَترلفظ وروسته راسي.
(۶) چي ماضي شرط واقع سي.
(٧) چي ماضي جزاواقع سي.
(٨) چي ماضي په دعاءكي راسي.
(٢) جواب دادعاء نه ده دادطالب لپاره خوشخبري ده چي ته دومره خوشنصيب ئي چي الله ج تاته دعلم حاصلولوموقع دركړيده.

بيان سه اقسام

(قوله كه كلمات لغت عرب الخ)

فائده په عربي کي له اعلم ورسته انّ راځي په فارسي کي له بدان ورسته كِه راځي لپاره ددفع د شک.

سوال: مصنف رح ولي كلمات جمع وويل ولي كلمه نه ويله ؟

جواب: کي کلمه ويلې واى داتوهم به سوي واى چي دابه يوخاصه كلمه بنئي.(الفوائدالصر فيه)بيان الصرف .

سوال: كلمات دي ويل ولي دي الفاظ نه ويل ؟

جواب: الفاظ جمع دلفظ ده لفظ پردوه قسمه ده (۱) موضوع ،(۲) مهمل ،نوكه مي الفاظ ويلي واي داتوهم كيدي چي مهمل لفظ به هم له دادرواقساموڅخه خالي نه وي لكن داسي نه ده مهمل اسم ،فعل ،حرف نه راځي .

(انوارالاشرفيه .)

سوال: دلغت عرب قيدئي ولي ولګوى ؟

جواب: ځکه چي يولغت هم له دادرواقسامونه ده وتلی .

سوال: داكلمه دي ولي په دادرواقساموكي حصر كړه چي اسم ،فعل ،حرف ده ؟

جواب: داكلمه به خالي نه وي يابه مستقلابالذات دلالة پرمعني كوي يابې نه كوي كه مستقلاوبالذات دلالة پرمعني كوي بيابه خالي نه وي يابه په هډومغزوكي زمانه وي يعني په ذات كي ،زمانه وي يابه نه وي ،كه وه فعل ده ،كه نه وه اسم ده ،كه ئي مستقلاوبالذات دلالة پرمعني نه كوى هغه حرف ده .

په بل عبارت داكلمه به خالي نه يابه ذات وي يابه وصف وي يابه رابط وي كه ذات وواسم ده ، كه وصف ووفعل ده ،كه رابط ووحرف ده ،دغه درو اسم فعل حرف ته سه اقسام وائي .

سوال: په تعريف خومنتهي طالب پوهيږي داخودمبتديانوكتاب ده نويوڅوعلامي راوښيه ؟

جواب: داسم علامي خوډيري دي تقريباً (۴۲) دي خوليكن يوڅودلته راوړم دزيادت تحقيق لپاره تفريح الارواح وګورئ.

(۱) الف لام : لكه الحمد.
(۲) حروف جارة : بربّ الفلق.
(۳) ميم ده اکثرا : مضروب.
(۴) دسړي يا ديوځاي نوم : بصره ،عمر،منصور.
(۵) تنوين: زيدٌ
(۶) حروف نداء: يازيد.
(۷) تصغير: قريش.
(۸) الف مقصوره: حبلى.
(۹) الف ممدوده :حمراء.
(۱۰) تاء متحركة مدورة : ناصرةٌ.
(۱۱) جمع منتهي الجموع (جمع اقصي): مساجد.
(۱۲) مضاف : غلام رجل.
(۱۳) موصوف: رجل عالم.
(۱۴) مسند اليه : زيد قائم.
(۱۵) تثنية: رجلان.
(۱۶) جمع: رجال.
(۱۷) حروف مشبهة بالفعل : انّ زيدا قائم.
(۱۸) ماولا مشبهتين بليس : مازيد قائم.
(۱۹) لاء لنفي جنس: لارجل في الدار.
(۲۰) منسوب : مصريّ.

داسم په علاموکي بعض داسي ستهٔ چي ډير تحقيق پکښي وي خو دا ختصار په خاطرئي نه راوړ ودزيادت تحقيق لپاره داستاذتقرير حضرت مولانامحمداجمل صاحب مدظله العالي او جامع الدروس العربية وګورئ.

فائده : كله كله په كلمه كي داسم دوي علامي راسي.

سوال: تثنيه اوجمع خو فعل هم راځي ته وائي داسم علامه ده ؟

جواب: فعل دفاعل په اعتبار تثنيه اوجمع کيږي.

فائده : په ضاربان ضاربون کي چي کوم واو ،اويادي داصرف علامه دتثنيې اوجمع ده اوپه يضربان يضربون کي مثلاداواو ،اويا علامه دتثنيې اوجمع هم ده اوفاعل هم ده .

علامات فعل

(۱) قد : قدضرب.
(۲) حروف اتين : يضرب.
(۳) سين : سيعلمون .
(۴) حروف نواصب:لن يضرب.
(۵) سوف: سوف تعلمون .
(۶) جوازم : لم يضرب.
(۷)تاء متحركة: ضربتَ.
(۸)تاء ساكنة : ضربتْ
(۹)واوضميري: ضربوا .
(۱۰)ضمائربارزه معلومة:ضربتما .
(۱۱) امر : اضرب.

فائدة : بعض شارحين نهي جلاعلامه بولي لکن لاء ناهيه په جوازموکي داخله ده .
دحرف علامه داده چي داسم اوفعل علامه نه وي پکښې ،نحومير ،لکه چي بيت ده .
درحرف هرگزنه باشد ای عزيز : ازعلامات اسم وفعل هيچ چيز .بيان الصرف بحواله الصرف العزيز.

داسم اوفعل تقسيم

ترتقسيم دمخه يوڅوفائدې.

فائدہ : اسم پردوه قسمه ده متصرف ،غيرمتصرف.
متصرف : مايجري فيه التصريف والنقل الي المضارع واسم فاعل واسم مفعول وغير ذالک .هداية الصرف ،چي دګردان ټولي صيغې ئي راځي لکه ضرب.

غیرمتصرف: چي دګردان ټولي صیغې ئي نه راځي بلکي له عربو چي کومي اوریدل سوي وي لکه لیس.

اوس نو اسم جامدمتمکن په اعتباردتعداد دحروفو اصلیوپردرې قسمه ده ،ثلاثي،رباعي، خماسي ،درې سره په ضمه داول سره ،ثلاثي درې حرفیزته وائي لکه زید ،

رباعي : څلورحرفیزته وائي لکه جعفر(خټکي یاخره یانهر،یاحوض ،یاکشتۍ یاچاقوته وائي یادسرې نوم ده) (الصرف العزیزبیان الصرف.)

خماسي :پنځه حرفیزته وائي لکه سفرجل : یو خاص قسم میوه ده چي په اردو کي بهي ورته وا ئي.

سوال: اسم خو احادي اوثنائي هم راځي یعني یو حرفیزلکه کاف خطاب اودوه حرفیزلکه من. مَا، ته ولي وائې چي ثلاثي رباعي وخماسي راځي ؟

جواب: موږ یو قیدلګولي وودا اسم متمکن داغیرمتمکن دی.

سوال: سداسي ،یعني شپږحرفیزولي نه راځي ؟

جواب: (۱) قدرصالح (کم حروف) دکلمي درې حرفه دي په یوه ابتداء وسي په بل به وقف اویوبي میانه سي ،نوکه کلمه شپږحرفه راسي نودابه نسي معلومه چي دایوه کلمه ده اوکه دو ې.

جواب: (۲) سداسي نه راځي دثقل له وجهي.(مراح الارواح.)

سوال : قدرصالح دکلمي ولي درې حرفه سو ؟

جواب: یوه وجه ئي دمبتدیانولپاره له مخته عبارته معلومیږي بنه وجه ئي داده چي په کلمه کي لابدي ده له (مبتدابه) حرف څخه اوهغه به خامخامتحرک وي ځکه چي بیاابتداء په سا کن راځي اولابدي ده له موقوف علیه حرف څخه هغه اکثرساکن وي نودسکون اوحرکت په مابین کي تضاددئ نوددوی دفصل لپاره ئې بل حرف راوړی نودرې حرف سو.

فائده : عرب له دوو شیانوډیریدوړي (۱) ثقل، (۲) التباس.

سوال: داخو الفاظ معدوله دي ،ثلاثي معني درې درې ،اورباعي معني څلورڅلور،خماسي معني پنځه پنځه ،ځکه دامعدول له ثلث ثلث ،اربع اربع ،خمسة خمسة څخه دي ؟

جواب: (۱) دلته له عدلیة څخه نظرقطعه ده :

جواب: (۲) دادوم ثلث ،رباع ،خمسة ،داتاكيد داول لپاره .

دفعل تقسيم

فعل متصرف او اسم مصدراواسم مشتق په اعتباردتعداددحروفو اصليوپردوه قسمه ده ثلا ثي ،رباعي ،

ثلاثي دري حرفيزته وائي لكه ضرب.

رباعي څلورحرفيزته وائي لكه دحرج .

سوال: خماسي ولي نه راځي ؟

جواب: (۱) فعل معناً هم ثقيل ،ځكه چي دفعل معني حدث ،نسبت ،زمانه ، ياحدث زمان دى علي الاختلاف كي لفظاثقيل كړي ثقل به پرثقل راسي :

جواب: (۲) كه فعل خماسي راسي په فعل پسي ضميربارزراځي نوبياكلمه شپږحرفه سوه بيا ئي التباس راځي له دووكلموسره اودامخته تيره سوه چي عرب له دووشيانوډيربدوړي فتذكر

سوال: فعل خوهم يوحرفيزراځي لكه قِ اودوه حرفيزراځي لكه سَل،ته وائي دوه قسمه وي ؟

جواب: داخوبعدالاعلال داسي سوي دي په اصل كي اِوقي اواسئل وو.

سوال: داسم اودفعل تقسيم دي وكړي دحرف تقسيم دي ولي نه وكئ؟

جواب: حروف مبنيات غيرمتصرفه دي ،صرفيين بحث نه څني كوي .

دعربودكلام ترازو.

(قوله بدانكه ميزان كلام عرب الخ)

ميزان په لغت كي ترازوته وائي ،

په اصطلاح كي هغه حروف چي دكلمي اصلي اوزائدحروف په معلوميږي .

فائده : لكه څنگه چي په دنياكي دهرشي لپاره ترازوسته دعربودكلام لپاره هم ترازوسته چي فاء ،وعين ،ولام دي .

سوال: ولي ئي له فاء ،وعين ولام ئي ميزان جوړكړی؟

جواب: لکه څنګه چې موزون وودغسې ئې ميزان ورته راوړيعني موزون هم حروف وو،ميزان ئې هم له حروفوراوړی.

سوال: په (٢٨) يا(٢٩) حروفوکې دادرې ولې خاص کړ؟

جواب: کلی مخارج يااصول دمخارجودري دي (١) حلق :(٢) وسط،(٣) شف ،نوله هرمخرج څخه ئې يويو حرف راواخستی .

سوال: په دغو مخرجوکې حروف نورهم ډيرووولې فاء عين لام خاص کړدترازولپاره ا وولې د ي داخاص ترتيب ورکړ؟

جواب: زموږداشی پکاروو چې هغه اعم الافعال وي يعني پرفعل دلالت کوي هغه بل شي نه وومګرداحروف اوپه دي ترتيب (.كنزالنوادر.)

سوال: دميزان لپاره ئې ولې ثلاثي اختيارکړ؟

جواب: ځکه چې رباعي جوړه وي يوحرف زيات که ،اوکه خماسي جوړوي دوه حرفه به زيات کړي،په رباعي اوخماسي کې به ئې کمه وي ،زيادت ښه ده ترکمبوت په بل عبارت ترقي له ادني واعلي ته وي .

فائده : وزن درې قسمه ده (١) صرفي ،(٢) عروضي ،(٣) صوري.

صرفي : چې دتعداددحروفو،حرکاتو،سکناتو،اصلي حروف ،زائدحروف اعتبارپکښې وي لکه دشرائف وزن فعائل .

صوري: چې دتعداددحروفو،حرکاتو،سکناتو،لحاظ پکښې وي خوداصلي اوزائدلحاظ نه وي پکښې لکه دشرائف وزن مفاعل.

عروضي: چې دتعداددحروفولحاظ پکښې وي يعني ساکن پرساکن اومتحرک پرمتحرک برا بره وه لکن دمعلوموحرکاتواواصلي خروفواوزائدحروفولحاظ نه وي پکښې کې يعني دضمې وفتحې وکسرې ته نه کتل کيږي لکه دشرائف وزن فعول .

فائده: دلته مرادله وزن څخه صرفي ده .

فائده : صرفيين صرف داسماء متمکنه اوافعال متصرفه وزن راباسي دحروفواواسماء غيرمتمکنه وزن نه راباسي ځکه هغه مبني ده ګردان ئې نه کيږي .

دحرف تقسيم

(قوله وحرف بردوقسم است الخ)

سوال: تاویل حروف مبني دي صرفیین بحث نه څني کوي اودلته بیرته تقسیم راته کوي؟

جواب: حروف دوه قسمه دي، (۱) مباني، (۲) معاني.

مباني: چي د کلمي بناء څني کیږي حروف هجاء هم ورته وائي.

معاني: چي معنی لري هغه بیادوه قسمه دي عامله، غیرعامله تفصیل ئې په نحوکي ذکردی.

نو دلته چي موږ بحث کوو داله حروفو مبانیو څخه چي نه معرب دي نه مبني.

حرف پردوه قسمه ده اصلي، زائد.

اصلي: چي د گردان په ټولو صیغو کي وي لکه دضرب، ض، ر، ب.

زائد: چي د گردان په ټولو صیغو کي نه وي مثلالکه دضربا الف.

داصلي حروفو حکم داده چي په مقابل دفاء وعین، ولام کي به وي.

دزائد حکم داده چي په مقابله دفاء وعین ولام کي به نه وي.

فائده: دلته مصنف رحمه الله مسامحه کړي ده چي دتعریف پرځاي ئې حکم ذکرکړي ده.

مسامحه وائي چشم پوشي ته ادباً.

سوال: ستاد حرف اصلي تعریف مانع نسوځکه چي دجلب باء اوداستخرج همزه وسین مثلاد داخل سوځکه چي دادگردان په ټولو صیغو کي سته؟

جواب: دلته مراد دجواب څخه مجرد ده خودهغه باب نه ده، بل یعني که هلته په مجرد کي ترفا، وعین لام زیات حرف وو، زائدده کنه نوورسته ته اعتبارنسته مثلادجلبب ماده(جلب) اودا ستخرج ماده (خرج) ده.

سوال داخوداسي بابونه سته چي بلکل مجردنه لري یعني مستعمل نه وي لکه ابتهام؟

جواب: دحروفو اصلیو په تعریف کي چي وي ټول بابونه مراددي داتعمیم دي یعني چي که مجردوي که مزیدوي په دې کي داتعمیم ده چي که مجرد استعمال سوي وي که نه یعني موږئې فرضاورته جوړکړو. (درس ارشاد.)

سوال: ستادحرف اصلي تعريف جامع نسوځکه چي په وعديعدکي واوحرف اصلي ده لکن بيا هم په ټولو صيغوکي نسته ؟

جواب: دلته مرادترا علال دمخه ده داخوبعدالاعلال ده په اصل کي يَوْعِدُوو .

(بيان الصرف بحواله نوادرالاصول.)

فائده : حروف اصلي په ثلاثي کي دري په رباعي کي څلور په خماسي کي پنځه دي .

سوال: دازيادت دي په لام کي ولي وکی ؟

جواب: دادصرفيينو معمول وي چي اکثرازيادت وتغيرپه آخرکي کوي.

دحرف زائد تقسيم

په حرف زائد کي دوه تقسيمه دي داول تقسيم په اعتبارسره پردوه قسمه ده ،ددوهم تقسيم په اعتبارسره پردري قسمه ده .

اول تقسيم

(۱) زائد به دماقبل له جنس وي (۲) يابه دماقبل له جنسه نه وي ،که دماقبل له جنسه ووهم دوه حکمه لري که نه ووهم دوه حکمه لري ،که دماقبل له جنسه وواول حکم ئې داده چي په دا (۲۹) حروفوکي به وي يعني محدودبه نه وي په دالسوحروفوکي ،دوهم حکم ئې داده چي په وزن کي به دحرف اصلي په شکل راځي لکه صرّف پروزن دفعّل دوهمه راء زائده ده لکن دعين په شکل راغلي ده .

هغه زائد چي دماقبل له جنسه نه وي اول حکم ئې داده چي په دالسوحروفوکي به بندوي ، سئلتمونيها ،اودوهم حکم ئې داده چي په وزن کي به په خپل شکل کي راځي ،لکه دأُکْرِمَ وزن اُفعل ده .

دوهم تقسيم

ددوهم تقسيم په اعتبارزائد پردري قسمه ده (۱) زائدبرائي اشتقاق ،(۲) زائد برائي نقل باب ،(۳) زائدبرائي الحاق.

(۱) **زائدبرائي اشتقاق** : چي په باب کي دننه يوه صيغه له بلي جوړوي کوم زيادت چي پکي و سي دېته زائدبرائي اشتقاق وائي لکه له ضَرَبَ څخه ضربا ، يضرب.

(۲) **زائد برائي نقل باب** : چي يو باب له بله جوړوي کوم زيادت چي په کي وسي يعني مزيدبا ب چي له مجرد څخه جوړوي دېته زائد برائي نقل باب وائي لکه له کَرُمَ څخه أکرم ،

(۳) **زائد برائي الحاق** : چي يوه کلمه دبلي کلمي هم وزن جوړوي کوم زيادت چي پکي وسي دېته زائد برائي الحاق وائي لکه جلبب ملحق په دحرج ده .

(عجيب تحقيق په مسأله دالحاق کښي)

طالب جانه يوازي داسي نه چي دارشادصرف شراح چي ماڅونه ليدلي دي هغه خوڅه : که ووا يم چي دفن ترنيم زيات کتابونه هم ذهاب ندي ورته کړي هم بې ځايه به نه وي نوورته ځيرشه پرماهم له ډيره وخت وروسته دلوي الله ج پيرزوينه وسوه .

الحاق خوکه څه هم سماعي ده ،خوپه الحاق کي لابدي ده ديوڅوشيانوله پيژندلوچي يوڅه طريقه ئي معلومه سي ،(۱) تعريف دالحاق ،(۲) فائده دالحاق،(۳) شرط دالحاق، (۴) دليل دالحاق ،(۵) موضعِ دالحاق ،(۶) اوزان دالحاق .

(۱) **تعريف دالحاق** :الحاق وائي هغه زيادت چي په ترکيب دکلمي وسي يوحرف يادوه حرف چي هغه زيادت غيرمطردوي په معني کي يعني وضع نه وي لپاره دافادې ديومعني احترازي مثال لکه همزه دأکرم وضع ده دتعدية لپاره .

(۲) **فائده دالحاق** : دغه کلمه چي حرف پکښي زياتيږي کله ورته ضرورت وي په شعرکي کله ضرورت وي ورته په نثرکي اوکله ورته ضرورت وي په ګردان کي ،يعني چي ماضي ،مضارع الخ ئني جوړسي ،اوکله ددي دپاره وي چي داسي معامله پکښي وسي لکه له ملحق به سره .

(۳) **شرط دالحاق**: دالحاق درې شرطونه دي ،(۱) داملحق به پروزن معدوم نه وي يعني داسي وزنه به نه وي چي هغه په عربو کي نه وي .(۲) داملحق به پروزن ضعيف نه وي ،(۳) دا ملحق به پروزن نادرنه وي .

فائده: دشاذ ،ضعيف،نادر ،فرق راروان دئ خودلته دونه ذکرکوونادرچي وجودئي لږوي په کلام دعربو کي خوپرقانون برابروي ،

اوضعيف : چي حکم ئي ثبوت ته نه وي رسيدلي يعني دانه وي معلوه چي دابه حقيقت کي دا سي وي کنه .
(۴) **دليل دالحاق**: يعني چي تې معلوموې چي په دې کلمه کي الحاق سوى ده ،که نه نو توانۍ به په مصدرينو کي وي يعني دملحق اوملحق به .
(۵) **موضع دالحاق** : يعني دالحاق لپاره زيادت په کوم ځاي کيږي نوموضع په فاء کلمه اوترفاء کلمې مخته زيادت نه کيږي نورله فاء ورسته که ترعين کلمې مخته که ترعين کلمه ورسته که ترلام کلمه ورسته وي خودادجمهوروپرمسلک ،رضي وائي عام که هرځاى وي .
(۶) اوزان دالحاق: په رباعي مجردکي دغه دي (۱) فعلَلَ شملل،(۲) فَوعَل حَوقَلَ،(۳) فَيْعَل بَيْطَرَ،(۴) فَعْوَل جَهْوَر،(۵) فَعَنلَ قَلَنسَ،(۶) فعلي قَلسى ،دانورباندي قياس دي مثلا په رباعي مزيدکي پردغواوزانوتاء زياتيږي فافهم وتشکر.

ددوهم تقسيم دزائددپيژندلوطريقه .

دزائدبرئي اشتقاق دپيژندلوطريقه داده : چي دباب اولي صيغې ته ګوره که يوحرف نه وو پکښي بيا چي په هره صيغه کي هرحرف راځي دازائد برائی اشتقاق دی .
دزائدبرائي نقل باب طريقه داده چي دمجرد اولي صيغې ته ګوره که يوداسي حرف ووچي په هغه کي نه وولکن په نورباب يعني په هغه مزيدباب کي وونودازائدبرائي نقل باب دئ لکه له کرم څخه أکرم.
دزائد برائي الحاق دپيژندني طريقه نسته بلکي داترسماع تعلق لري دادعربوکارده داخو مشهوره ده لکن موږيوڅه ذکرکړه فتذکر.
فائده: زائدبرائي اشتقاق ته صرفيين اعتبارنه ورکوي يعني په تجرد اوزيادت کي کارنه لري که کلمه مجردوه که هرڅوزيادت داشتقاق په وجه کي راسي نه مزيدکيږي .
فائده: زائدبرائي اشتقاق اوزائدبرائي نقل باب دمعنوي غرض لپاره راځي يعني يادحال معني يادااستقبال معني مقصودوي ياپه معني کي زيادت مقصودوي مثلااوزائد برائي الحاق دلفظي غرض لپاره راځي يعني دوزن قافيه ،لپاره وي .
فائده: دزائد دپيژندلولپاره دري طريقي دي ،اشتقاق ،غلبه ، عدم نظير..

اشتقاق: چي دباب د ماضي په اوله صيغه کي زائدنه وي په دانوروکي راسي لکه په ضرب کي الف نسته او په ضربا کي نسته مثلا.

غلبه: چي يو حرف اکثرزائد راځي لکه مدوره (گول) تاء چي اکثرله دروحروفواصليه ورسته زائدراځي لکه جنّة، حبّة، مكّة، ياالف ونون په آخرکي اکثروخت زائد وي لکه رحمن.

عدم نظير: چي په عربوکي يوه کلمه استعماليږي،لکن کي وزن ته واچوي کي تهول حروف اصلي کې داوزن نه وي استعمال سوي نوته يو حرف زائد کړي لکه قَرَنْفل وزن ئي فَعلل راځيٰ لکن داوزپه عربوکي نسته نوته يو حرف زائد کړي هغه وزن بياپه عربوکي وي نواوس ئي وزن فعنلل ده.

فائدة: اکثرچي زائدراځي هغه خوداحروف دي (سئلتمونيها) چي په نوروهجموعوکي هم را ځي، (۱) يااوس هل نمت، (۲) لم يأتنا سهو، (۳) أمان وتسهيل، (۴) أتاه سليمون، (۵) هويت السماناوغيره. (نظامي شرح شافيه.)

اوس به ئي يو څوموقعتونه ذکرکړو:

(۱) **سين**: په باب استفعال کي زيادت قياسي ده خوپه جوامدکي ترتاء زائده مخته زائدوي لکه استبرق بروزن استفعل.

(۲) **همزه**: په اول دکلمي کي زائدراځي که له دې ماسوادرې حروف اصلي وولکه أصْبَعٌ بروزن أفعلٌ لکن که له همزي ماسوادوه ياڅلورياپنځه حروف ووبياهمزه اصلي وي لکه اِبِلٌ فِعِلٌ،

اصطَبَلٌ فِعلَلٌ،اِبرِيْسَمٌ فِعلِيلَلٌ اوپه آخردکلمي کي زائدوي چي ترالف مخته وي خوچي ترالف مخته دري حروف اصلي وي لکه حمراء.

(۳) **لام**: په شروع اومابين کي زائدنه راځي ،البته کله کله په آخرکي زائدراځي لکه له زيد څخه زيدل ويل.

(۴) **تاء مطوله (ت)** په آخردکلمي کي زائده وي خوچي مخته ئي واومده زائده ،يا ياء مده زائده وي لکه عنکبوت بروزن فعللوت ،عفريتٌ فعليتٌ ،خوپه دي شرط چي له تاء ماسوي به درې حرف اصلي پوره وي که نه وو ،بيااصلي وي لکه هَرُوتٌ فَعُولٌ ،هَرِيْتٌ فَعِيْلٌ. اوتاء مدوره

(ة) همیشه دکلمي په آخرچي له دروحرفو اصليوروسته راسي زائدوي لکه جنّةٌ ،حبّةٌ،مَنّةٌ، بروزن فَعْلَةٌ.

(۵) میم : دکلمي په شروع کي اکثرزائدوي ،مَديَنٌ مفعَلٌ،مِنخَرٌمِفْعَلٌ،خودیرکم دکلمي په مینخ اوآخرکي هم زائدراځي لکه دُلامَص فُعَامَل،شَرقَمٌ فَعلَمٌ.

(۶) واو: چي ساکن وي اوله ده ماسوي دري حرفه اصلي وي نوواوزائدوي بیاعام دی که مد، وي کنه ،عَمُودٌ فَعُوْلٌ،جَوهرٌ فَوْعَلٌ،خوکله کله واومتحرهم زائدراځي لکه جَدوَلٌ فَعلَلٌ،اوپه شروع دکلمي کي اصلي وي لکه وَرَنتَلَ فَعَنلَل.

(۷) نون : په مابین کي چي دریم ځاي وي اوساکن وي په آخرکي له مده زائده وروسته وي نوزائدوي لکه قَرَنفُلٌ فعنلل،سُلطانٌ فُعلانٌ،زَيتُونٌ فُعلون،غِسلِينٌ فعلین ،خوپه دي شرط چي له نون ماسوي به دري حرفه اصلي وي کنه نواصلي وي لکه دُخَانٌ فُعالٌ،لسانٌ فعالٌ،اوکله کله دوهم ځاي هم زائد راځي لکه جِنْدبٌ فنعل.

(۸) یاء ساکنه : له دروحروفواصليوسره اکثره زائده وي ،بالاکه مده وي لکه دیباجٌ فِیعالٌ، یاغیرمده وي لکه دَيسَمٌ فَيْعَلٌ ،اوکه دي ماسوي دري حرفه اصلي نه ووبیایاء اصلي وي لکه دِیوانٌ فعلانٌ،مَیدانٌ فَعلانٌ،اوداسي یاء متحرکه په اول دکلمي کي زائده راځي لکه يَلمَعٌ یفعلٌ،يَنبُوعٌ يَفعولٌ،یقطین یفعیلٌ،خوپه دي شرط چي له یاء ورسته به الف نه وي ،که الف وو بیااصلي ده ،یَاقُوتٌ،یاقُوتٌ فاعول،خودغیرثلاثي په اول کي اصلي وي يَستعوُرٌفعللول.

(۹) په جامداتوکي:هاء زائده نه راځي په مشتقاتوکي راځي ،مُهرِيقٌ،يُهرِيقُ،دلته داهاء خلاف القیاس زائده سوی ده ،مطول وګورئ.

(۱۰) الف : هميشه زائد وي که په مابين کي وي لکه کتابٌ فعالٌ،که په آخرکي وي لکه طوبي فعلي ،خوچي له ماسوي دري حرفه اصلي وي کنه نو اصلي وي لکه دا رٌ فعلٌ ،عصا فعل.

فائدة: دغه دحروف موقعتونه چي ذکرسودادجامداتودصيغوپه اعتبارده ورنه داتقريباً په مشتقاتوکي ډيرځايه زائد راځي اوپه دي ځاي کي له ډيروشارحينوڅخه سبقت قلمي سوي د ی،چي دازائدئي مشتقات خوڅه پرمبنياتوحمل کړي دي يعني وائي داحرف په فلان کي زائدوي اوهغه مبني وي لکه اسماء اشارات اوداله مسلماتوده چي صرفيين له مبنياتوبحث نه کوي.

فائده : عرب خووزن په سليقه معلوموي اودعجموليپاره مزاوله (باربارتکرار) اوپه تجربه معلوميږي.

سوال: که په موزون کي تغيرراسي په قلب،ياپه حذف ،ياپه ابدال ،ياپه ادغام سره نوپه وزن کي هم تغيرراځي کنه ؟

جواب: داکلمه به خالي نه وي يابه تغيرپکښي راغلی وي ،يانه ،که تغيرنه ووپه وزن کي تغيرنه راځي په اتفاق ،لکه دضرب وزن فعل،اوکه تغيرپکښي ووبيابه خالي نه وي يابه تغير په ابدال وي ،يابه په حذف وي ،يابه په ادغام وي ،يابه په قلب وي .

که چيري په ابدال سره ووبيادوه مذهبه دي جمهوروائي چي تغيرنه پکي راځي لکه دقال وزن فعل،اوبعض وائي چي تغيرپکي راځي لکه دقال وزن فال ده .

اوکه چيري تغيرپه ادغام سره ووبيابه خالي نه وي ،يابه په يوه کلمه کي وي يابه په دوو کلموکي وي ،که په دووکلموکي ووبيادغام نه کيږي په وزن کي لکه اضرب بکرپروزن دافعل فعلا ،اوکه چيري په يوه کلمه کي ووبيابه خالي نه وي يابه دواړه زائدوي يابه دواړه اصلي وي يابه يواصلي اوبل زائدوي ،يابه علامه وي يابه نه وي که علامه وه ادغام کيږي ،لکه احمرّپر وزن دافعلّ ،که علامه نه وه ادغام نه کيږي .

اوکه چيري تغيرپه حذف ياپه قلب وي يابې قصدديان دوزن اصلي کړی وي يابې نه وي کړی کې چيري نه ووکړی بياپه وزن کي هم حذف وقلب کولاي سي لکه دقاضٍ وزن فاعٍ،اوکې چيري قصدديان دوزن اصلي کړي وونوبيانه حذف کيږي ،نه قلب په کي راځي په وزن کي لکه دقاضٍ وزن فاعل.(بيان الصرف بحوالة خلاصة الصرف.)

فائدة : دغه قاعده په مختصراومشهورډول داده (اعلم ان التغيرفي الكلمة علي خمسة اقسا م) ابدال ،ادغام ،حذف،قلب،مكاني،والتغيربالحذف والقلب المكاني في الموزون يستلزم الحذف والقلب المكاني في الوزن والثلاثة الأول لاتتغيرالأول في الوزن مثل قال ،اقول ،مد علي وزن فعل،افعل،فعل،خوداحذف په وزن كي هلته راځي چي مطلوب بيان دوزن اصلي نه وي كه مقصدبيان دوزن اصلي ووبياپه هيڅ صورت كي حذف نه كيږي .

(قوله بدانكه ثلاثي بردوالخ)

ثلاثي پردوه قسمه ده ،مجرد ،مزيدفيه.

ثلاثي مجرد : چي تردرو حروفو اصلي ووئې شى زيات نه وي ،لكه ضرب بروزن فعل.

ثلاثي مزيد فيه: چي تردرو حرفو اصلي ووئې شى زيات وي ،لكه أكرم بروزن أفعل.

رباعي هم پردوه قسمه ده ،مجرد ،مزيدفيه .

رباعي مجرد : چي ترڅلورو حروفو اصلي ووئې شى زيات نه وي،لكه دحرج بروزن فعلل.

رباعي مزيد فيه: چي ترڅلوروحروفو اصلي ووئې شى زيات وي ،لكه تدحرج بروزن تفعلل.

خماسي هم پردوه قسمه ده مجرد ،مزيدفيه .

خماسي مجرد : چي ترپنځو حروفو اصليه ووئې شى زيات نه وي ،لكه جحمرش بروزن فعللل.

خماسي مزيد فيه: چي ترپنځو حروفو اصليه ووئې شى زيات وي ،لكه خندريس برزون فعلليل

فائدة : دارومدارد مجرد اومزيدفيه پرفعل ده يعني كه دفعل ماضي اوله صيغه مجرد وه ټول باب مجرددى ،اوكه مزيدفيه ووټول باب مزيدفيه دى،

يعني كه په اوله صيغه كي دري حرفه اصلي ووټول باب ثلاثي مجردده اوكه تردروحروفوشى زيات ووټول باب مزيدفيه ده ،په رباعي كي كه څلورحرفه اصلي ووټول باب رباعي مجردده ،كه يوشى زيات ووټول باب مزيدده ،كمامر.

فائده : په فعل ثلاثي كي چي يوحرف زائدوي دده لپاره دري وزنونه دي ،

(۱) افعل: لكه أكرم.

(۲) فاعل:ضارب.

(۳)فعّل: ضارب.

چې دوه حرفه زائد وي دهغه لپاره پنځه وزن دي،

(۱) انفعل: انصرف.

(۲) افتعل: اجتمع.

(۳) افعلّ: احمرّ.

(۴) تفعّل: تكرم.

(۵) تفاعل: تضارب.

چې درې حرفه زائدوي دهغه لپاره شلورونه دي،

(۱) استفعل: استخرج.

(۲) افعوّل: اجلوز.

(۳) افعوعل: احدودب.

(۴) افعالّ: احمارّ.

اوپه رباعي کې چې يو حرف زائدوي دهغه لپاره دغه يووزن ده ،دحرج فعلل.

چې په رباعي کې دوه حرفه زائد وي دهغه لپاره دوه وزن دي،

(۱) افعللّ: اقشعرّ.

(۲) افعنلل: احرنجم.

دفعل رباعي مثالونه : چې زائديو حرف وي تدحرج،اوچې دوه حرفه وي احرنجم.

داسم جامد ثلاثي مثالونه : چې زائد يو حرف وي لکه احمارّافعالّ،اوچې زائدپکې دوه حرفه وي لکه سلطان فعلان،اوچې زائدپکې درې حرفه وي لکه قلنسوةفعنلوة.

داسم جامدرباعي مثالونه: چې زائديوحرف وي لکه صندوق فعلول،اوچې زائدپکې دوه حرفه وي لکه عنکبوت فعللوت ،اوچې زائدپکې درې حرفه وي لکه عبوثران فعوللان.

داسم جامدخماسي مثالونه :چې زائديوحرف وي لکه خندريس فعلليل، اوچې زائدپکې دوه حرفه وي لکه اصطفلين فعللين.

اوزان اسم جامد ثلاثي مجرد احتمالي (۱۲) دي او استعمالي (۱۰) دي ،
ځکه پر فاء کلمه دري حرکات راځي ضمه ،فتحه ،کسره ،سکون او دلام کلمي حرکت ته اعتبار نسته ځکه هغه داعراب تابع ده نو در ې چي په ځلورکي ضرب کي دوولس ۱۲،کيږي بيا دو وزن دثقل په وجه نه سوا استعمال : فُعِلَ،فِعُلَ،
چي فاء کلمه مفتوحه وي (۱) فعل فلس ، (۲) فَعَلٌ فرس،(۳) فَعِلٌ کتف،(۴) فَعُلٌ عضد)
چي فاء کلمه مکسوره وي (۵) فعلِ جِبْرٌ، (۶) فعِلٍ ابل، (۷) فعَلٌ عِنَبٌ. چي فاء کلمه ئي مضمومه وي ،(۸) فُعْلٌ قُفْلٌ، (۹) فُعَلٌ صُرَدٌ ، (۱۰) فُعُلٌ عُنُقٌ.

اوزان ثلاثي مزيداسم جامدعندالمحقيقين غيرمنضبط لاتعدولاتحصي دي اودسيبويه پر مذهب (۳۰۸) دي ،يا (۳۰۰) علي الاختلاف .

اوزان رباعي مجرداحتمالي: (۴۸) دي اواستعمالي (۵،يا۶،دي علي الاختلاف ځکه چي ترعين پوري (۱۲) صورته پوره سوي وه اوپراول لام هم ځلورحرکته راځي دولس چي په ځلورکي ضرب کي (۴۸) کيږي.
استعمالي

(۱) فعلل جَعفر،دسړي نوم ده .

(۲) فِعلِلٌ زِبْرِجٌ.دنبائست سامان نوم .

(۳) فُعْلُلٌ بُرْثُنٌ: چمبه.

(۴) فِعلَلٌ دِرهم:دسپينو زرو سيکه .

(۵) فِعَللٌ قِمَطرٌ : صندوق.

(۶) فُعللٌ جُخْدَبٌ: ملخ اختلافي وزن .
اوزانِ اسم جامد رباعي لاتعدو لاتحصي دي (بحوالة المستع الكبير في التعريف وغيره)

اوزان خماسي مجرد احتمالي : (۱۹۲) ، استعمالي ئي (۴) دي څکه چي د رباعي مجرد (۴۸) احتمالات په څلورو حالاتو د دوهم لام کي ضرب سي نو (۱۹۲) کيږي ،

(۱) فَعَلَلٌ سفرجل : خاص قسم ميوه (بهي) .

(۲) فُعَلِلٌ قُذَعْمِلٌ : قوي اوښ.

(۳) فعللل جحمرش : بوډا ښځه .

(۴) فِعْلَلٌ قِرطَبٌ : لړشي .

د اسم جامد خماسي مزيد استعمالي اوزان (۵) دي

(۱) فَعَلَلُولٌ غَضْرَفُوطٌ : چرمشکی.

(۲) فُعَلْلِيلٌ خُدَعْبِيلٌ : باطل شی، يعني خراب سوي او روست سوي شي.

(۳) فِعْلَلُولٌ قِرطَبُوسٌ : غټ اوښ.

(۴) فَعَلَّلَى قَبَعْثَرى : ډېر لوی اوښ بچی .

نَعْلليلٌ خندريسٌ : زاړه شراب

فائدة : دغه اوزان کله کله وصفت مشبه لره هم راځي بعض ډير راځي او بعض کم راځي : فافهم دزيات تحقيق لپاره ، الممتع الکبير وګورئ.

بيان هفت اقسام

(قوله بدانکه جمله اقسام اسم)

بيت

صحيح است مثال است و مضاعف لفيف و ناقص و مهموز و اجوف.

فائده : داچي مصنف رحمه الله وائي جمله اقسام اسم و فعل دلته له اسم څخه اسم متمکن او له فعل څخه فعل متصرف مراد دئ ، حروف پر دري قسمه دی.

حروف صحیح ،حروف علت ، ملحق حروف علت .

حروف علت ،واو ،الف ،یا .

ملحق حروف علت : همزه ،تضعیف ،ملحق دحروفو علت ځکه دي چي مناسبت لري په تغیرو تبدیل کي له حروف علتو سره یعني لکه څنګه چي په حروف علت کي تغیروتبدیل راځي دغه شان په دوی کي هم تغیر راځي .

یا کله کله همزه تضعیف په حرف علت سره بدلیږي لکه املیت په اصل کي امللت وواوأیمانا په اصل کي أِئْماناً وو ،له دي دوو ماسوي دانورحروف صحیح دي .

سوال: دغه اووه اقسامو کي به ته خالي نه ئي ،یابه دي اصول رااخیستي وي ،یافروع را اخستي وي ،که دي اصول رااخستي وي هغه کم دي که دي فروع رااخستي وي هغه زیات دي اصول دابن حاجب رحمة الله علیه پرمذهب باندي دوه دي ،اول صحیح دوهم معتل ،په صحیح کي مهموزومضاعف ،اوپه معتل کي مثال اواجوف ،ناقص ،لفیف ،داخل دي :

دعلم صیغي اودد ستور المبتدي اودزرادي دمصنفینو پرمذهب باندي اصول څلوردي ،(۱) صحیح ، (۲) مهموز ،(۳) مضاعف ،(۴) معتل.

اوفروع بیازیات دي له اقسامو سره تقریبا څورلس (۱۴) دي بلکي چي مختلطات ورسره و شماري تردي لاډیریږي .(۱) صحیح ،(۲) مهموز الفاء ،(۳) مهموز العین ،(۴) مهموز اللام ، (۵) مضاعف ثلاثي ،(۶) مضاعف رباعي ،(۷) مثال واوي ،(۸) مثال یائي ،(۹) اجوف وا وي (۱۰) اجوف یائي ،(۱۱) ناقص واوي ،(۱۲) ناقص یائي ،(۱۳) لفیف مقرون ،(۱۴) لفیف مفروق .نوخلاصه داسوه چي اصول کم دي تراوو (۷) اوفروع زیات دي .

جواب: (۱) دلته مي اصول سره له بعض هغوفروع اخستي ده چي دکثرت استعمال په وجه اوډیرضرورت له وجهي په منزله داصل ګرزیدلي دی ،

جواب: (۲) دلته مصنف رح په خَیرُ امور اوسطها باندي عمل کړي ده ځکه چي په دي کي ډیرقولونه وولکه چي ذکرسو .

(۱) صحیح :په لغت کي تندرست جوړته وائي اوپه اصطلاح کي چي پرمقابله دفاء وعین ولام باندي ئي حرف علت وهمزه وتضعیف نه وي لکه ضَرْبٌ ضرب بروزن فَعْلٌ وفَعَلَ.

فائدة په صحيح کي اختلاف ده بعض صرفيين وائي چي صحيح هغه ده چي په مقابله دفاء عين ولام کلمه کي ئې حرف علت نه وي لکه ضرب ،مدّ ،أمر.نو مهموزاو مضاعف پکي داخل دي دوي وائي داتعريف چي مصنف کړی ده دادسالم تعريف ده مسامحةًا وبعض صرفيين وا ي دصحيح اوسالم فرق نسته ،نوددوي اوجمهوروصرفيينودتعريف په مابين کي عموم وخصوص مطلق ده يوه ماده داجتماع بله ماده دافتراق ،غواړي نوهرسالم صحيح ده اوهرصحيح سالم نه ده ،

فائده : دنحوييونوپرمذهب صحيح هغه ده چي صرف پرلام کلمه ئي حرف علت نه وي راغلي اودوي داتعريف دسالم بولي .

فائدة دصحيح نحوي اودصحيح صرفي په مابين کي هم عموم وخصوص مطلق ده فافهم :(حاشيه زنجاني وهداية الصرف.)

وجه دتسمي ئي داده چي صحيح ورته وائي چي دي صحيح دئ يعني خالي له حرف علت ،

حروف علت دري دي : واو،الف،يا.

(۲) مهموز: په لغت کي کج پښت ته وائي په اصطلاح کي چي يوله حروف اصليوئې همزه وي بياپردري قسمه ده .

(۱) مهموزالفاء : چي پرفاء کلمه ئي همزه وي لکه اَمرٌاَمَربروزن فَعْلٌ وفَعَل.

(۲) مهموزالعين : چي پرعين کلمه ئي همزه وي،لکه سُؤَالٌ سَئَلَ بروزن فعل وفعل.

(۳) مهموزاللام : چي پرلام کلمه ئي همزه وي ،لکه قَرْءٌقَرَأَبروزن فعلٌ وفَعَلَ.

مهموزته مهموزځکه وائي چي مهموزته کج پښت وائي په ده کي هم دهمزي له وجي کج راغلي ده په کتابت کي.

(۳) مضاعف : په لغت کي دوچندي ته وائي په اصطلاح کي چي دوه حروف اصلي صحيح ئي له يوه جنسه وي بيادوه قسمه ده (۱) ثلاثي ،(۲) رباعي.

ثلاثي: هغه دري حرفيزکلمه چي دوه حرف اصلي صحيح ئې له يوه جنسه وي،لکه مدّ مدّبروزن فعل وفعل.

رباعي : هغه څلور فيز کلمه ده چې دوه حرف اصلي صحيح ئې له يوه جنسه وي لکه زلزل زلزالا بروزن فعلل فعلالا.
فائدة د مضاعف ثلاثي او د مضاعف رباعي تعريف چې په متن کې ذکر دئ دا جامع نه دئ ځکه چې سدس، ثلث، ددنّ قق داسې نور ځني وزي، الحق احق بالاتباع.
نادره فائدة: دا فائده رضي او جابردي ذکر کړي ده چې اسم او فعل چې رباعي وي نو معتل، مضاعف، مهموزالفاء، نه راځي او اسم چې خماسي وي نو مضاعف نه سي راتلي مګر کله کله معتل الفاء راځي، نواوس سوال کيږي چې دا خو د ټولو صرفيينو په اتفاق باندي مضاعف رباعي راځي نو جواب داده چې له مضاعف رباعي څخه دلته زمو مراد ده چې ټول حروف ئي له يوه جنسه وي مثلاً ټول سين وي يافاء وعين يادوه لام ئي له يوه جنس وي نو داسي مضاعف رباعي رشتيا هم نه راځي او که په مابين کې فاصل وو مثلاً فاء ولام يا عين ودوم لام ئي له يوه جنس وو نو دا راتلي سي او مصنف هم دغه قسم ذکر کړي ده.

او په دي ډول چې د حروفو په مابين کي فصل وي مضاعف خماسي هم راتلي سي لکه شَمَقْرَقٌ بروزن فعللل چون سفرجل دا يوله هغو ځايو څخه ده چې نه د ارشادالصرف يوې شرحي ورته التفات کړي ده او هم مصنف رحمه الله پکي مسامحه کړي داسي د زرادي، مراح وغيره، مصنفينو التفات نه دي کړي او دامضاعف خماسي په مستعملو اوزانو بيخي ډيره ده، چې زه بي هم د جامداتو په صيغو کي يو څو صيغې راوړم، او د زيات معلومات لپاره منجد وګورئ. نو خلاصه داسوه چې مضاعف درې قسمه دئ، ثلاثي، رباعي، خماسي. فافهم، ولاتکن من الممسرعين وکن من الشاکرين والحامدين.
مضاعف ته مضاعف ځکه وائي چې مضاعف دوه چندي ته وائي په ده کي هم دوه حرفه له يوه جنسه راغلي دي.
(۴) مثال: په لغت کي هم مثل ته وائي په اصطلاح کي چې پر فاء کلمه ئي حرف علت وي.

وصلٌ وصالٌ بروزن فعلٌ فِعالٌ،
بيا مثال پر دوه قسمه ده، واوي، يائي.
واوي : چې پر فاء کلمه ئي واو راغلي وي لکه وعد.
يائي : چې پر فاء کلمه ئي ياء راغلي وي، لکه يسر.

مثال ته مثال ځکه وائي چي دی مماثلت لري له صحيح سره په قلت تغير کي :

سوال : مثال الفي ولي نه راځي ؟

جواب: که مثال الفي راسي ابتداء په ساکن راځي لکه مخته چي تيره سوه چي ابتداء په ساکن په کلام عربي کي محال ده .

سوال: زه بي دروښيم چي مثال الفي به وي لکه ياجل؟

جواب: داپه اصل کي يوجل وو .

(۵) اجوف : په لغت کي نس ختلي (خالي نسي) ته وائي په اصطلاح کي چي پرعين کلمه ئي حرف علت وي لکه قولٌ بيعٌ، بياپردوه قسمه ده واوي ،يائي .

واوي : چي پرعين کلمه ئي واو وي لکه قولٌ قال برو زن فعل فعل.

يائي : چي پرعين کلمه ئي ياء وي لکه بيعٌ باع برزون فعل فعل.

اجوف ته اجوف ځکه وائي چي اجوف خونس ختلي ته وائي دده هم نس له حروفواصليه وو ځخه خالي دی.

فائدة : اجوف ته معتل العين اوذوالثلاثة ورته وائي ځکه چي په وخت دمتکلم داخبار له ځانه کي ئي دماضي صيغه پردرې حرف راځي لکه قلتُ .

(۶) ناقص : په لغت کي لکی پري ته وائي ، په اصطلاح کي چي پرلام کلمه ئي حرف علت وي لکه غزوٌ غزابروزن فعلٌ وفعل ،بياپردوه قسمه ده واوي ،يائي.

واوي : چي پرلام کلمه ئي واو وي لکه غزوٌ وغزابروزن فعل وفعل.

يائي : چي پرلام کلمه ئي ياء وي لکه رميٌ ورمي بروزن فعلٌ وفعلَ.

فائدة : ناقص ته معتل اللام اوذوالاربعة هم وائي وجه دتسميې معلومه ده فافهم.

سوال: اجوف الفي اوناقص الفي ولي نه راځي ،

جواب: ددستورالمبتدي مصنف داقاعده ليکلي ده چي اجوف اوناقص الفي نه سي راتلاي که راغلي وي هغه الف بدل له واو ياله ياء وي .

فائدة : په جامداتو کي اجوف اوناقص الفي راځي.

(۷) لفيف : له لف ځخه ده په لغت کي پيچلوته وائي په اصطلاح کي چي دوه حرفه اصلي حرف علت وي بياپردوه قسمه دئ ،لفيف مفروق ،لفيف مقرون .

لفيف مقرون: چي دوه حروف علت پريوه ځاي پکي راغلي وي لکه حيي.
لفيف مفروق: چي دوه حروف علت ئي پريوه ځاي نه وي نه وي پکي راغلي لکه وشي.
دجه تسميې داده چي لفيف له لف څخه ده پيچلوته وائي په ده کي هم دوه حرف علت پيچل سوي وي.

(قوله بازاسم بردوقسم است)

داسم متمکن دريم تقسيم دئ په دي دري قوله دي.
(۱) قول اسم پردوه قسمه ده (۱) اسم جامد ،(۲) اسم مصدر،دغه مذهب والااسم مشتق د مصدرتابع بولي.
(۲) قول اسم پردوه قسمه ده (۱) اسم جامد،(۲) اسم مشتق،دغه مذهب والامصدردمشتق تابع بولي.
(۳) قول اسم پردرې قسمه ده (۱) جامد،(۲) مصدر،(۳) مشتق ،عندالمحقيقين دغه قول اصح دئ.

تعريفونه

اسم جامد: هغه دی چي نه دی له چاجوړسوي وي اونه له ده څخه بل څوک جوړسوي وي .لکه رجل فرس.

علامه ئي داده چي په آخر دمعني فارسي کي ئي دال ونون(دن) ياتاء ونون(تن) وي.

اسم مصدر: هغه دئ چي دی له چانه وي جوړاوله ده څخه نورجوړسوي وي،لکه ضربٌ.

علامه ئي داده چي په آخردمعني فارسي کي ئي دال ونون(دن) ياتاء ونون(تن) وي.

اسم مشتق: هغه دئ چي دی له چاجوړوي اودی له ده که شي جوړوي کنه وي :لکه ضاربٌ.

سوال: ته وائي چي جامدهغه ده چي نه دی له چاجوړوي اونه له ده څوک جوړوي نوداخود جمديجمدله بابه ده؟

جواب: ستااعتراض پرلفظ دجامددئ زموږمراد مصداق دجامددی.

سوال: ته وائي چي جامد هغه ده چي نه دی له چاجوړوي اونه له ده څخه بل جوړوي،له رجل څخه رجلان رجال نه دي جوړ؟

جواب: زموږدلته دوآزده اقسام مراددي .

داسم مشتق ،جامد ،مصدر ،معنوي فرق.

اسم جامد: چي پرذات دلالت کوي لکه رجلٌ

له ضربت بناء ده ځکه هره جمع له خپل واحدبناء وي نون مفتوحه علامه دجمع مؤنث ئې په آخرکي راوړی ضربتن سوبیائې میم ساکن سره له ضمي دماقبل راوړی دتاء اونون په مابین کي ضَرَبْتُمنَ سوبیانون اومیم قریب المخرج وومیم ئې په نون بدل کي اونون ئې په نون کي مدغم کي نو ضربْتُنَّ سو.

سوال: دلته خوالتباس هم له اشباع سره نه راتلی میم دي ولي راوړی ؟

جواب: دجمع مذکرمخاطب په مناسبت مي دلته میم راوړی.

سوال: میم دي ساکن ولي راوړی متحرک دي ولي نه راوړی ؟

جواب: ... علامتي د تفصيل کوي چي ... فعل دي ... دي ... چي ... په

بصري تفصيل ...

ضَرَبْتُ

د ضرب څخه جوړ ده څکه هرو احد متکلم ... احد مذکر غائب څخه جوړ ... تا مضمومه

علامه د واحد متکلم ضمير د فاعل ... په آخر کي ... تا ... علامه ...

... که کړه ضربت شو.

(ضربنا)

د ضربت څخه جوړه ده تا مضمومه د واحد متکلم ئي حذف کړه نا علامه د متکلم مع الغير ئي

راوړه ضربنا شو.

فائدة: بعض علماء فرمائي چي صرف نون علامه د متکلم ده نو بيائي د جمع مونث ضربن سره

التباس راتلی نو ئي الف پسي راوړی.

(طريقه بناء فعل ماضي مجهول)

فعل ماضي په مختلفو طريقو جوړيږي اول چي د هري معلومي صيغي څخه هره مجهوله

صيغه جوړوئي د ماضي مجهول په قانون.

دوهم چي اوله صيغه له اولي معلومي صيغي څخه جوړ کړي دا نوري بياله هغي څخه جوړي

کړي او غيره.

(قانون ۶: د ماضي مجهول والا)

در هر ماضي مجهول حروف متحرک را حرکت ضمه و ماقبل آخر را کسره ميدهند وجوباً.

تشريح: د دي قانون نوم د ماضي مجهول والا قانون دی د دي لپاره يو حکم يو شرط دی.

خلاصه: په هر ماضي مجهول کي و متحرکو حروفو ته ضمه او ماقبل آخر ته کسره ورکول واجب ده.

حکم: په ماضي مجهول کي و متحرکو حروفو ته ضمه او ماقبل آخر ته کسره ورکول واجب ده.

اول شرط: له ماضي معلوم څخه به دي د ماضي مجهولي د جوړيدو اراده کړي وي احترازي

مثال ضرب اتفاقي مثال له ضَرَبَ څخه ضُرِبَ ويل واجب دي.

(ددې قانون اجراء)

دماضي مجهول په هره صيغه کي چي له هره بابه وي پکښي جاري کيږي .
مهمه فائدة : داقانون په دي طرزچي موږذکرکري دئ مغني ده له ټولو قانوناتودماضي مجهول چي په ارشاد کي دي دانوروقانونانوته لکه دارشاد الصرف په : ص۴۷.۴۶: چي دي .ورته ضرورت نسته هغه صرف تطويل اوطالب واستاذستړی کول دي ثمره ني آخرودغه ته راوزي هغه دبابوپه لحاظ دي خومقصدئي داده .فتشکر.

(بناء فعل مضارع معلوم)

فعل مضارع له فعل ماضي جوړه ده په دې دول چي په شروع کي يوحرف له حروفواتين څخه راوړه فعل مضارع به جوړه سي بيانوتوالي داربع حرکاتوراځي دضربن په دوهم قانون به ضاد ساکن سي چونکي داباب ديفعل وونوئي عين کلمي ته کسره ورکړه اودباء فتحه چي بناء ئي حرکت ووهغه ئې په ضمه چي اعرابي حرکت ده بدله کړه .نويضرب .تضرب، اضرب .نضرب سو.

سوال: مضارع ولي له ماضي جوړه سوه ؟
جواب: ماضي وائي تيري سوې زمانې ته اومضارع وائي حالي يارروانې زمانې ته نوتيره سوې زمانه خومخته وي پرحالي اوراروانه زمانه باندي نوڅکه له ماضي څخه جوړه سوه اوبرعکس نه سو.

سوال: مضارع ته ولي مضارع وائي ؟
جواب: څکه مضارع وائي مشابهت ته نوداهم مشابهت لري له اسم فاعل سره ،
(۱)اول په حروفو .حرکاتو .سکناتوکي ،
(۲)دوهم په دخول دلام ابتداء کي يعني لکه پراسم فاعل چي لام ابتداء راځي پرمضاع هم راځي ،
(۳)دريم مضارع له ضرع څخه ضرع وائي [تې] ته پويوتي چي دوه کوچنيان خوله پردي دغه رنګه په مضارع کي هم دوې معناوي وي دي .حال .استقبال.
فائدة : مضارع درې نومان لري .مضارع .غابر .فعل مستقبل.

سوال: چي له ماضي څخه مضارع جوړه وه زيادت دمعني دي ولي وکړ؟

جواب: ماضي او مضارع په معني کي مختلف وونومي په لفظ کي هم مختلف کړوځکه چي لفظي اختلاف دلالت کوي پرمعنوي اختلاف .

سوال: دالفظي اختلاف خودکمبوت په صورت کي هم راتلی ولي دي زيات وکی ؟

جواب: که مي کمبوت کړی وای کلمه ترقدرصالح کمې ده .

سوال: نون خوحرف علت نه دی هغه دي ولي راوړی؟

جواب: ځکه حروف علت چي غائباومخاطبومتکلم ته ورکړو هغه ختم سونونون مي په دې وجه راوړی چي هغه په ضمائروکي ډيرراتلی خصوصاًدجمع متکلم په ضميرکي.

سوال: داخاص حروف چي داتين دي ولي دي خاص کړو؟

جواب: همزه په اصل کي الف ووالف مي نسواي راوړاي ځکه ابتداء په ساکن راتله نومي الف په همزه بدل کی اوتاء اصل کي واو ،وويياپه تاسره بدل سواوبله خوده ياء ،نوګواکي ټوله حروف علت دي .

سوال: داحروف اتين دي ولي په شروع کي راوړل ؟

جواب: که مي په آخرکي راوړي واي دماضي له صيغوسره ئي التباس راتلی يعني داسي به جوړي سوي واي ضَربا ،ضربت ،ضربن .

سوال: په ياء کی خوالتباس نه راتلی هغه دي ولي په شروع کي کړه ؟

اول جواب: للاکثرحکم الکل.

دوهم جواب: له ياء متکلم سره ئي التباس راتلی .

سوال: فاء کلمه دي ولي ساکنه کړه ؟

جواب: دتوالي داربع حرکاتوله وجهي اوتوالي داربع حرکات مستلزم وثقل ته ده .

سوال: ولي دي بل حرف نه ساکنه وو؟

جواب: توالي داتين له وجهي راغلي ووهغه مي نه سواي ساکنوالاي دابتداء په وجه اوهغوته قريب فاء کلمه وه نوځکه مي ساکن کړه .

(يضربان)

له يضربُ څخه جوړه ده الف علامه دتثنيې وضميردفاعل سره له ضمې دماقبل ئې په آخركې راوړه په نون مكسوره ئې عوض له حركت مفردرفعې څخه راوړې يضربان سو .

(يضربون)

له يضربُ څخه جوړه ده واوساكن علامه دجمع وضميرفاعل سره له ضمې دماقبل اونون مفتوحه ئې عوض له حركت مفردرفعې څخه راوړى .

(تضربان)

له تضربُ څخه جوړه ده الف علامه دتثنيې وضميرفاعل سره له فتحې دماقبل اونون مكسوره عوض له حركت مفردرفعې څخه راوړى تضربان سو .

(يضربن)

له تضرب څخه جوړه ده نون مفتوحه علامه دجمع مؤنث وضميرفاعل سره له سكون دماقبل ئې په آخركې راوړى بيائې تاپه يابدله كړه .

(تضربان تضربُون)

له خپله واحده ديضربان ،يضربون ،په شان جوړه ده .

(تضربين)

له تضرب جوړه ده ياء ساكنه علامه دمؤنث وضميرفاعل په نزددبعض سره له كسرې دماقبل ئې په آخركې اونون مفتوحه عوض له حركت مفردرفعې څخه راوړى تضربين سو .

(تضربان)

له تضربين جوړه ده ياء علامه دتانيث ئې حذف كړه الف ئې پرځاې راوړى دنون فتحه ئې په كسره بدله كړه .

(تضربنَ)

له تضربين جوړه ده ياء ونون مفتوحه ئې په واحدكې حذف كړونون علامه دجمع په آخركې راوړه .

(طريقه بنائي فعل مضارع مجهول)

دابیاهره صیغه له خپله مثله جوړه ده یایُضرَبُ ، تُضرَبُ ، اُضرَبُ ، نُضرَبُ ، له یَضرِبُ ، تَضرِبُ ، اَضرِبُ ، نَضرِبُ ، څخه جوړه ده دانوري بیاله دي جوړي دي .

(قانون ۷) دمضارع مجهول والا

درهر مضارع مجهول حرف اول را حرکت ضمه وماقبل آخررا فتحه مي دهند اگرنباشد وجوباً .

تشریح : ددي قانون نوم دمضارع مجهول والاقانون ده ددي لپاره یوحکم یوشرط ده .

خلاصه : په هره مضارع مجهول کي واول حرف ته ضمه اوماقبل اخرته فتحه ورکول کیږي .

حکم : په مضارع مجهول کي اول حرف ته ضمه اوماقبل آخرته کسره ورکول واجب دي.

شرط : له مضارع معلوم څخه به دي دمضارع مجهول دجوړیدواراده وي احترازي مثال یَضرِبُ ،اتفاقي مثال له یَضربُ څخه یُضرَبُ ویل واجب دیٔ.

(ددې قانون اجراء)

په مضارع مجهول او هغه افعال مجهوله چي له مضارع جوړوي لکه جحد مجهول نفي مجهول وغیره کي داقانون جاري کیږي .

(طريقه بناء اسم فاعل)

(ضاربٌ)

له یضرب څخه جوړده په دي دول چي یاء علامه مضارع ئې حذف کړه ضادته ئې فتحه ورکړه دریم ځاي ئې الف علامه داسم فاعل راوړه په آخرکي ئې تنوین تمکن علامه داسمیت راوړه .

سوال: اسم فاعل ولي له مضارع جوړسو ؟

جواب: ځکه دمضارع او اسم فاعل مناسبت وولکه چي ذکرسو .

سوال: حروف اتین ولي حذف سو ؟

جواب: ځکه هغه دمضارع علامه وو .

سوال: بیائي دازیادت ولي وکي ؟

جواب: ځکه بیائي له ماضي سره التباس راتلي .

سوال: الف ئي ولي خاص کړ دزیادت لپاره ؟

جواب: ځکه داحرف علت دی اوبیااخف دی.

سوال: نوبیائي په سرا وآخرکي ولي نه راوړی ؟

جواب: په شروع کي خوابتداء په ساکن راتله اوپه همزه سره بدلوباندي التباس له واحدمتکلم سره راتلی اوپه آخرکي التباس له تثنیې ماضي سره راتلی .

قانون ۷ داسم فاعل والا

هر اسم فاعل ثلاثي مجرد غالباً بروزن فاعِلٌ مي آید وازغیرثلاثي مجردبروزن فعل مضارع آن باب مي آیدبآوردن میم مضمومه بجائي حروف اتین وکسره دادن ماقبل آخررااگرنباشدوتنوین تمکن درآخرش درآوردند.

تشریح : ددې قانون نوم داسم فاعل والاقانون ده ددې لپاره دوه حکم اودهرحکم لپاره یوشرط دی .

خلاصه : اسم فاعل له ثلاثي مجردڅخه اکثروخت پروزن دفاعِلٌ راځي ،یعنی کله پروزن دغیر فاعلٌ هم راځي یعني چي باب لازمي وي بیاپروزن دفعیلٌ راځي لکه کریمٌ اوله غیرثلاثي مجرد،(نورعام که ثلاثي مزیداوکه رباعي مجردکه مزیدوي،)څخه پروزن دمضارع معلوم دهغه باب راځي سره له یوڅه تغیره هغه داچي دحرف مضارعت پرځای میم مضمومه راوړه اوماقبل آخرته کسره ورکړه که کسره نه وه اوپه آخرکي ئې تنوین تمکن راوړه :

اول حکم : داسم فاعل صیغه پروزن دفاعل ویل واجب ده :

شرط: باب به دثلاثي مجردوي احترازي مثال مُکرِمٌ: اتفاقي مثال ضرب یضربُ څخه ضاربٌ ویل واجب دي.

دوهم حکم : داسم فاعل صيغه پروزن دفعل مضارع معلوم دهغه باب ويل واجب ده سره له څه زيادت هغه داد حرف مضارعت پرځای ميم مضمومه ولګوه او ماقبل آخر ورمکسور کړه تنوين تمکن ئې په آخر کې راوړه .
شرط : باب به دغير ثلاثي مجردوي احترازي مثال ضرب يضرب اتفاقي مثال له أكرَمَ يُكرِمُ څخه مُكرِمٌ ويل واجب دی .

(ددې قانون اجراء)

داقانون دهراسم فاعل په اوله صيغه کې بالذات اوپه پنځونوروقياسي صيغوکې بالواسطه جاري کيږي اوکه باب ثلاثي مجردوو اول حکم اوکه غيرثلاثي مجردوو دوم حکم پکې جاري کيږي .
فائدة : په اسم فاعل اواسم مفعول اوصفة مشبه کې شپږصيغې قياسي دانوري ټولې سماعي دي هغه شپږ اولې دري دمذکرواحد تثنيه جمع مذکرسالم او اولې دري دمؤنث دي ،واحد تثنيه جمع مؤنث سالم ،ځکه په اسم فاعل اواسم مفعول غير ثلاثي مجردکې صرف شپږصيغې راځي .

(ضاربان)

له ضاربٌ څخه جوړه ده په دې ډول چې الف علامه دتثنيې سره له فتحې دماقبل ئې په آخرکې راوړې ضارباسوبيائې نون مکسورة عوض له ضمې ياله تنوين ياله دواړوراوړی ضاربان سو .

(ضاربون)

له ضاربٌ جوړه ده په دې ډول چې واوعلامه دجمع مذکرسره له ضمې دماقبل اونون مفتوحه عوض له ضمې ياله تنوين ياله دواړوڅخه راوړی ضاربون سو .

(قانون ۸) دالف تثنيې والايا ضاربان ضاربين والا

هرالف تثنيه اوجمع مذکرسالم بوقت مضاف اليه شدن ودخول نواصب وجاره بيابدل کرده شودوجوباً مگرماقبل ياء تثنيه مفتوح وماقبل ياء جمع مکسورباشد .

تشريح: ددې قانون نوم دالف تثنيې والاياضاربان ضاربين والاقانون ده .ددې لپاره يوحكم اودرې ناقص شرطونه دي .

خلاصه : هرهغه اسم چې الف تثنيه ياواوجمع پکښې وي دمضاف اليه كيدويادنواصب داخليدو ،يادحروف جاره داخليدوكي دغه الف او واوپه يادبدليږي خوپه تثنيه کې ماقبل مفتوح اوپه جمع کې ماقبل مکسوروي.

حكم : الف تثنيه اوواوجمع په يابدلول واجب دي خوماقبل ديا، به مفتوح وي په تثنيه کې اومکسوربه وي په جمع کې .

اول شرط: الف به دتثنيې وي احترازي مثال ضُربانٌ دادجمع مكسرالف ده .

دوهم شرط: داكلمه به اسم وي احترازي مثال يضربان دافعل ده.

دريم شرط: يابه نواصب پرداخل وی يابه له حروف جاره څخه يوپرداخل وي يابه مضاف اليه وي ،په بل عبارت داكلمه به منصوبه وي يابه مجروروي احترازي مثال جاء الطالبون داعامل درفع ده اتفاقي مثال غلام مسلمين ، انّ الابوين ،بضارين .

(ددې قانون اجراء)

داقانون داسم په هرهغه تثنيه ،جمع ،چې الف ،اوواوعلامه دتثنيې اوجمع پکښې وي چې منصوب وي يامجروروي کې جاري کيږي که څه هم جامد وي .

فائدة: اوس دجمع مكسرښاء ذكركوواودجمع مكسرصيغې ټولې سماعي دي لکه چې ذكرسويوخاص قانون نه لري نوځکه په يوه کې الف په بله کې تاء په بله کې بل حرف زيات وي.

(ضَرَبَةٌ)

له ضاربٌ څخه جوړده په دې دول چې اول حرف ئې پرخپل حال پريښوی الف ئې حذف کړعين ولام كلمې ته فتحه وركړه تاء متحركه علامه دجمع مذكرمكسرئې په آخركې راوړه اعراب ئې پرجاري كړضَرَبَةٌ سو .

(ضُرّابٌ)

له ضاربٌ څخه جوړده په دې ډول چي اول حرف ته ئې ضمه ورکړه الف ئې حذف کړ دريم حرف ئې مشدد مفتوح کړ، څلورم ځای ئې الف علامه د جمع مکسر راوړی ضُرّابٌ سو.

(ضُرَّبٌ)

له ضاربٌ څخه جوړده په دې ډول چي اولته ئې ضمه ورکړه دوهم حرف چي الف ده حذف ئې کړ عين کلمه ئې مشدد مفتوح کړ ضُرَّبٌ سو.

(ضُرَبُ)

له ضاربٌ څخه جوړده په دې ډول چي اول ته ئې ضمه ورکړه الف ئې حذف کړ، راء ته ئې فتحه ورکړه ضُرَبٌ سو.

(ضُربٌ)

له ضاربٌ څخه جوړده په دي ډول چي اول ته ئي ضمه ورکړه الف ئې حذف کړ، دريم حرف چي راء ده ساکن ئې کړه ضُرْبٌ سو.

(ضُرباءُ)

له ضاربٌ څخه جوړه دپه دي ډول چي اول ته ئي ضمه ورکړه الف ئي حذف کړ، عين ولام کلمې ته ئي فتحه ورکړه بيا الف ممدوده علامه د جمع مذکر مکسر په آخر کي راوړی تنوين تمکن ئي حذف کړ له وجهي د ضديت د منع صرف ضُرَباءُ سو.

(ضُربانٌ)

له ضاربٌ څخه جوړده په دي ډول چي الفٌ چي اول ته ئې ضمه ورکړه الف ئې حذف کړ عين کلمه ئې ساکن کړه بيا په آخر کي الف ونون زائدتان علامه د جمع مذکر مکسر راوړ واعراب ئې پر نون جاري کې.

(ضِرابٌ) له ضاربٌ څخه جوړه ده په دې ډول چي اول حرف ته ئې کسره ورکړه دوهم ئې حذف کړ، دريم ځای ئي الف علامه د جمع مذکر مکسر سره له فتحې د ماقبل راوړی ضِرابٌ سو.

(ضُرُوبٌ) له ضاربٌ څخه جوړه ده په دي ډول چي اول ته ئي ضمه ورکړه الف ئي حذف کړ دريم ځاي ئي واو ساکن علامه د جمع مذکر مکسر سره له ضمې د ماقبل راوړی ضُروبٌ سو.

(اَضرابٌ)

له ضاربٌ څخه جوړه ده په دې ډول چې په شروع کې همزه علامه دجمع مذکرمکسرسره له سکون دفاء کلمې راوړه الف ئې حذف کړ،له عين کلمې ورسته الف سره له فتحې دماقبل زائد کړ اَضرابٌ سو.

(ضاربةٌ)

له ضاربٌ جوړه ده په دې ډول چې په آخرکې ئې تاء علامة دتانيث راوړه او اعراب ئې پرجاري کړ.

(قانون ۹) دعائشة والا

هرتاء متحرکه بحرکت اعرابی غيرتاء جمع مؤنث سالم درحالت وقف بهاء بدل شود وجوباً.

تشريح: دد ې قانون نوم دعائشه والاقانون ده ددې لپاره يوحکم اودرې ناقص شرطونه دي.

خلاصه : په کومه کلمه کې چې متحرک وي په حرکت اعرابي ،دعامل په وجه باندي،يعني مبني نه وي بلکي معرب وي ،اودتاء دجمع مؤنث سالم نه وي نوداتاء په حالت دوقف کي په هاء ساکنه بدليږي وجوباً.

حکم: تاء په ه ساکنه سره بدلول واجب دي.

اول شرط: تاء به متحرکه وي احترازي مثال ضَرَبَتْ داساکنه ده .

دوهم شرط: متحرکه به په حرکت اعرابي سره وي احترازي مثال ضَرَبْتِ داحرکت بنائي ده .

دريم شرط: تاء دجمع مؤنث سالم به نه وي احترازي مثال ضارباتٌ دادجمع مؤنث سالم تاء ده اتفاقي مثال له ضاربةٌ ،عائشةٌ ،خديجةٌ ،څخه ضاربه ،عائشه ،خديجه ،ويل واجب دي .

(ددې قانون اجراء)

داقانون په هرهغه کلمه چې ګول مدوره تاء (ة) پکي راغلي وي پکښې جاري کيږي مثلاواحدمؤنث اسم فاعل ،اسم مفعول ،صفة مشبه وغيره کي جاري کيږي .

يادونه : داپه هغه وخت کي چې خط په خپله صحيح طريقه وليکل سي يعني چې ګول تاء پرخپل ځاي اومطوله تاء پرخپل ځاي وليکل سي نورئې تفصيل نه کوم ځکه په دې کي طوالت دئ.

(ضاربتان)

لہضاربۃ څخه جوړه ده څکه هره تثنیه او جمع له خپل مفرد څخه جوړیږي په آخرکي الف علامه دتثنیې سره له فتحې دماقبل اونون مکسوره عوض له ضمې یاله تنوین یاله دواړو څخه راوړی ضاربتان سو.

(ضارباتٌ)

لہضاربۃ څخه جوړده په آخرکي الف وتاء علامه دجمع مؤنث سالم سره له فتحي دماقبل راوړي په آخرکي چي کوم تاء وه پرهغه ئې اعراب جاري کړ،ضاربتات سوبیادضربن په اول قانون سره یوه تاء حذف سوه ضاربات سو.

(قانون ۱۰) دمده زائده والا

ہرمدہ زائدہ که واقع شوددرمکبربدوم جائي وقت بناء کردن جمع اقصي وتصغیرآن رابواوبدل کنند وجوباً.

تشریح: ددي قانون نوم دمده زائده والاقانون ده ددي لپاره یوحکم پنځه ناقص شرطونه دي خوتردي قانون مخته یوڅوشیان پیژندل ضروري ده.

فائدة: حرف علت دري قسمه ده ،مده ،علت تام ،لین.

اول مده : چي حرف علت راغلي وي ماقبل حرکت ئې له خپله جنسه وي یعني واوماقبل مضموم یاماقبل مکسور،اوالف ماقبل مفتوح وي ، ،لکه اُوتینا.

یامده دوه قسمه ده اصلي ،زائد ،اصلي چي دامده حرف پرفاء یاعین یالام کلمه وي لکه بابٌ بیۡرٌ،سُورٌ،اوزائد چي پرفاء ،عین ،لام کلمه نه وي.

دوهم لین : هغه چي حرف علت وي خوماقبل حرکت ئې له جنسه نه وي بلکي مفتوح وي لکه خَوۡف ،والصَیۡف.لین صرف واوویاء راځي فافهم .بعض علماء (شارحین) فرمائي چي لین عام دیٔ لیکن داخبره کمزوري ده څکه دقرائت کتابونه ټول په دې شاهد دي اوبل بیاخودعلت تام اولین فرق خوهم نه کیږي.

دریم علت تام : عام دی یعني دحرف علت که ماقبل له خپله جنسه وي که نه لکه خوف وصیف ،مضرُوبٌ.

څلورم دجمع اقصي یاجمع متهي الجموع دجوړیدوطریقه :اول حرف به مفتوح کړی دوم ته وګوره که مده زائده ووپه واومفتوح ئي بدل کړه که نه نوهغه هم مفتوح کړه دریم ځای الف علامه دجمع اقصي راوړه له هغه ورسته که دوه حرفه له یوجنسه وومشددئې پریده لکه دابّ څخه دوابُّ اوکه دوه حرف له یوجنس نه وواول ته کسره ورکه دوهم که حرف علت ووپه یاء ئي بدل کړه دریم پرخپل حال پریږده لکه له مضروبٌ څخه مضاریب ویل اوکه په دغه صورت کي دادوهم حرف علت نه وونواول حرف ته کسره ورکړه دوهم پرخپل حال پریږده دانورټول حروف ځني حذف که لکه له سفرجُلٌ څخه سفارج له جحمرش څخه جحامرویل .

فائدة : دجمع اقصي پنځلس اوزان دي پنځه مشهوردي دانورغیرمشهوردي .

پنځه مشهور

اول مفاعلُ ،مساجدُ،دوهم مفاعیل ومصابیحُ ،دریم اَفاعلُ اَراهِطُ،څلورم افاعیلُ اباطیلُ، پنځم فَواعل اواموُ.

غیرمشهور

(۱)فعالي اَناسي ،(۲) فعائل ضرائرُ،(۳)فواعیلُ ،دوانیقُ،(۴) فعالیلُ میاسیرُ،(۵)فَیاعلُ خیائرُ،جیائدُ جمع خیر،جی(۶) تفاعلُ تراقيُ جمع ترقوة ،(۷) یفاعلُ ینابیع ،(۸) یفاعیلُ ینابیعُ ،فعاول ادوي په اصل کي ادويَ ،(۹) فوالعُ جوائي ،(۱۰)فعالاخطایاافعایا مطاویا.

فائدة: په جمع اقصي کي تادضدیت اوتنوین دمنع صرف له وجهي حذف کیږي مګرپه څلوروځایوکي ،اول چي دامعلوم وي چي ددې مفرداسم منسوب دي یعني یانسبتي پسي راغلي دي لکه اشاعرة حنابلة ،دوهم چي مخاطب ته داورښیي چي ددې مفردمعرب دی یعني عجمي لفظ دی،بیاعربي ته نقل سوی دی لکه جوارِبةَ موازِجةَ جمع دجورب اوموزج ده ،

دریم چي دامعلوموي چي دبناء په وخت کي له مفردیوحرف حذف سوی د ی لکه زنا دقةٌ ،تلامذ ةٌ ،اساتذةٌ، جمع دزندیق استاذ ،تلمیذده .

څلورم : چي دتانیث دجمع دتاکیدلپاره ده .

فائدة: داچي مو ږوايو چي جمع اقصي هغه ده چي جمعيت ئې پاى ته رسيدلى وي دوهم وار بيانه جمع كيږي دادا معني چي په صورت د جمع مكسر كي نه جمع كيږي ورنه په صورت د جمع مؤنث سالم كي جمع كيږي لكه داَفاضِل جمع اَفاضِلُونَ راځي وغيره.

فائدة: جمع اقصى دضرورت شعري په وجه منصرف ويل كيدى سي لكه حضرت فاطمة رض جناب محمد ﷺ په مرثيه كي وائي :

ماذَا عليّ من شمّ تربة احمد ان لايشم مدي الزمان غواليا.

صبت عليّ مصائب لوانها صبت علي الايام صرن لياليا

(۱) دتصغيرتعريف : تصغيروائي په كلمه كي تغيراوتبديل كول لپاره دحصول ديوله څلو رو معانيو ،اول عظمت قُرَيش، دوهم حقارت رُجيل، دريم شفقت بُنَيّ، څلورم قلت ضويربٌ.

(۲) دتصغيردجوړيدوطريقه : اول حرف ته ضمه دوهم ته وګوره كه مده زائده ووپه واومفتوحه ئې بدل كړه كه مده زائده نه ووهغه ته هم فتحه وركړه دريم ځاى ياء ساكنه علامه دتصغيرراوړ ه ،له علامي دتصغيروروسته كه يوحرف ووپرخپل حال ئې پريږده لكه له رجلٌ څخه رُجَيلٌ،او كه دوه حرفه وواول مكسوركړه دوهم پرخپل حال پريږده لكه له ضارب څخه ضويربٌ اوكه دري حرف وواول مكسوراودوهم كه حرف علت ووپه ياء ساكنه ئې بدل كړه

دريم پرخپل حال پريږده ،لكه له مضروبٌ څخه مُضَيْرِيْبٌ ويل ،كه دوهم حرف علت نه وواول

مكسوراودوهم پرخپل حال پريږده دانورټول حذف كه لكه له جحمرشٌ څخه جُحَيْمِرُويل .

فائدة : داخبره په ډيروكتابوكي ذكركيږي خصوصاپه نحوكي چي تصغيرشي واصل ته ردوي خووجه ئې په ډيروكموكتابوكي پيداكيږي ،ددي دوې وجهي دي چي تصغيرشي واصل ته ردوي ،اول داچي سماعي ده ، دوهم داچي اجتماع دفرعيتينورانسي يعني دوي فرعي نسي سره جمع ،ځكه تصغيرپخپله فرع دمكبرده كه اوس بله فرع پكي جوړه سي نواجتماع دفر عيتينوبه راسي.

يادونه : دتصغيراوجمع اقصي بحث دونه طويل ده چي دلته ټول نه سوذكركولاي نودزيادت تحقيق لپاره جامع الدرس العربيه وګورئ،

دقانون خلاصه : هرمده چي زائده وي چي واقع سوي وي په مفرد کي اوپه مکبرکي يعني په اسم کي دوهم ځاي وي په وخت دجوړولودجمع اقصي اودتصغير کي په واو مفتوحه سره بد ليږي وجوباً .

حکم :مده په واو مفتوحه بدلول واجب دئ ،

اول شرط: مده به زائده وي احترازي مثال باب ،بير،سور، دلته مده اصليه ده ځکه پرمقابله دفاء وعين ولام دئ ،

دوهم شرط : په مفر دکي به وي يعني صيغه به دواحدوي احترازي مثال ضاربان ،ضاربون داتثنيه وجمع دي ،

دريم شرط: په مکبر کي به وي مکبرهغه ته وائي چي تصغير ځني رائحي يعني په اسم کي به وي احترازي مثال ضَارَبَ ضُورِبَ ،دافعل ده دمفاعلي دباب دماضي معلوم اومجهول صيغې دي .

څلورم شرط : دامده به دوهم ځای وي احترازي مثال ضِرابٌ،مضروبٌ ،دلته دريم اوڅلورم ځاي دي .

پنځم شرط: چي اراده به دي دجمع اقصي يادتصغيردجوړيدوکړي وي احترازي مثال ضاربٌ دلته اراده دجوړيدودجمع اقصی یاتصغیرنسته اتفاقي مثال دالف مده په مثال کي له ضارِبٌ څخه دجمع اقصي په وخت کي ضوارِبُ اودتصغيرپه وخت کي ضُوَيرِبٌ ويل واجب دي اودواو مده په مثال کي له طُومارٌ څخه په جمع اقصي کي طَوامِيرُ اوپه تصغير کي طُوَيمِيرٌويل اوپه ياء مده کي له ضُيرابٌ څخه ضَواريب اوپه تصغير کي ضُوَيرِيبٌ ويل واجب دي.

(ددي قانون اجراء)

داقانون صرف په اسماؤکي جاري کيږي بياپه اسماؤکي صرف دثلاثي مجردله باب څخه داسم فاعل په دروصيغوکي هميشه جاري کيږي ،ضَوارِبُ ،ضُوَيرِبٌ، ضُوَيرِبَةٌ ، اوپه اسم جامد کي هم کله چي شرطونه موجودوي جاري کيږي لکه له طُوماً څخه طَوامِيرُ،طويميرٌ ويل.

(طریقه بناءِ اسم مفعول)

(مضروبٌ)

له یُضرَبُ فعل مضارع مجهول څخه جوړه یاء حرف مضارعت ئې حذف کړه دهغه پرځای ئې
په مفتوحه علامه داسم مفعول راوړه عین کلمه ته ئې ضمه ورکړه تنوین تمکن علامه دا

اسمیت ئې په آخرکي راوړه نوپروزن و مَفْعُلٌ سوبیاداوزن په عربوکي نه وو، ماسواله له مَکرُمٌ
مَعُونٌ څخه هغه هم شاذوونوئي په واو کي اشباع وکړه مضروبٌ سو.

سوال: دقیاس تقاضاخوداوه چي لکه څنګه چي اسم فاعل له مضاع معلومي سره مشابهت
درلودئ نوپه ثلاثي مزیدکي دمضارع معلوم څخه جوړسونوبایددلته اسم مفعول دمضارع
مجهول پروزن راغلي وو؟

جواب: بیاالتباس راتلي له اسم مفعول دباب افعال سره.

سوال: میم ئي ولي مفتوح کړ؟

جواب: چي له غیرثلاثي مجردڅخه ئي فرق وسي.

سوال: عین کلمې ته ئي ضمه ولي ورکړه؟

جواب: ځکه چي له نوروبابودمجردویامزیدله اسم ظرف سره ئې التباس راتلی.

سوال: واوئې ولي زیات کړ؟

جواب: ځکه په کلام دعربوکي دمَفْعُلٌ وزن نه وو ځکه ئې اشباع پکي وکړه.

سوال: اشباع خوپه اخرکي اوپه شعرکي کیږي داخوپه مینځ کي اوپه نثرکي ده؟

جواب: ستاخبره صحیح ده خودضرورت په وخت کي هم په مابین کي اوهم په نثرکیږي.

فائدة: په قرآن کریم کي هم اشباع په نثرکي اوپه مینځ کي سویده: **فَمَاضَعُفُواومااستکانُوا**،
پاره: ۴. په دي کي مشهورقول دادی چي استکانوله سکون څخه ده بیائې په کاف کي اشباع
وکړه اونورځایه په قرآن کریم کي سته: جلالین وګوره: ص ۶: صاوي: ج۱: ص ۱۸۳،الانوار.

(قانون ۱۱)

هراسم مفعول ازثلاثي مجردبرون مفعول مي آيد وازغيرثلاثي مجردبروزن فعل مضارع مجهول آن باب مي آيد بآوردن ميم مفتوحه بجائي حروف اتين ودرآخرش تنوين تمكن درآرند وجوباً.

تشريح: ددې قانون نوم داسم مفعول والاقانون ده ددې لپاره دوه حكم اودهرحكم لپاره يو شرط ده،

خلاصه : هراسم مفعول له ثلاثي مجردڅخه پروزن دمفعول راځي اوله غير ثلاثي مجردڅخه پروزن دفعل مضارع مجهول دهغه باب راځي سره له يو څه تغيرهغه داچي دحرف مضارعت پرځاي ميم مضمومه ولګوه حرف مضارعت حذف كړه اوپه آخركي ئي تنوين تمكن راوړه.
(۱) حكم : اسم مفعول پروزن دمفعول ويل واجب دي.

شرط: باب به دثلاثي مجر دي احترازي مثال مُكْرَمٌ ياآكْرَمَ يُكْرِمُ داباب ثلاثي مزيد ده تفاقي مثال له ضرب يضرب څخه مضروبٌ ويل واجب ده.
(۲) حكم : داسم صيغه پروزن دفعل مضارع دهغه باب ويل سره له څه تغيره هغه داچي دحرف مضارعت پرځاي ميم مضمومه راوړه اوپه آخركي تنوين تمكن راوړه.
شرط: باب به دغيرثلاثي مجردوي يعني ثلاثي مجردبه نه وي بياعام ده كه ثلاثي مزيدوي كه رباعي مجردوي كه رباعي مزيدوي احترازي مثال منصورٌ ،داله باب دثلاثي مجرددي اتفاقي مثال مُكرَمٌ مُدحرَجٌ ،مَتَدحرجٌ.

(ددې قانون اجراء)

داقانون دهراسم مفعول كه له هره بابه وي په اوله صيغه كي بالذات اوپه پنځوقياسي صيغوكي بالواسطه جاري كيږي.

مَضروبانِ مضرُوبون، مَضروبةٌ ،مضروبتان، مضروباتٌ.
دادا سم فاعل دصيغوپه مثل بناءكيږي فافهم ولاتكن من المتكاسلين.

(مضيريبٌ ،مُضيريبةٌ)

په مضروب ،مضروبةٌ څخه دتصغيرپه قاعده جوړه يعني اول حرف ته ئې ضمه اودوهم ته ئې څخه دريم ځاى ئې ياء علامه دتصغيرراوړه واوئې په ياء بدل کړي ،مضيريب،مضيريبةٌ سو.

(قانون ۱۲) داضافت والا

هرنون تنوين وقت دخول الف لام واضافت حذف کرده شودوجوباً ونون تثنيه وجمع دروقت اضافت حذف کرده شودوجوباً .

تشريح : ددې قانون نوم داضافت والايادنون تنوين ،نون تثنيه ،نون جمع والاقانون ده ددې لپاره يو حکم اودري کامل شرطونه دي ،

اول دوه شرطونه دتنوين لپاره دي آخري شرط دنون تثنيې اونون جمع لپاره دئ .

خلاصه :هرتنوين په وخت دد خول دالف لام يااضافت کي حذف کيږي يعني په کومه کلمه کي چي تنوين راغلي وي که پرهغې کلمه الف داخل سو يائې اضافت وسووبلي کلمي ته نوداتنوين حذف کول واجب دئ اونون تثنيه ونون جمع صرف داضافت په وخت کي حذف کيږي .

حکم : نون تنوين ،نون تثنيه ،اونون جمع حذف کول واجب دئ.

(۱) شرط: دغه کلمه چي تنوين پکي راغلي وي الف لام به پرداخل سوى وي احترازي مثال حمدٌ دلته الف لام نسته اتفاقي مثال الحمد.

(۲) شرط: دغه کلمه چي تنوين پکي راغلي وي اضافت به ئې سوى وي بلي کلمې ته احترازي مثال غلامٌ دلته ئې اضافت نه دى سوى اتفاقي مثال غلام زيدٌ.

(۳) شرط: په کومه کلمه کي چي نون تثنيه ،نون جمع وي دهغې به اضافت سوي وي وبلي کلمي ته احترازي مثال غلامانِ ،غلامونَ ،مسلمانِ ،مسلمون ،اتفاقي مثال غلامازيدٍ ،غلاموزيدٍ ،مسلمامصرٍ ،مسلمومصرٍ .

(ددې قانون اجراء)

داصرف په اسماؤکي جاري کيږي اوپه اسماؤکي په هغه اسماؤکي جاري کيږي چي تنوين پرراغلي وي يانون دتثنيې ،پکښې وي .

سوال: اضافت څه شى ته وائي؟

جواب: ديوه شی نسبت وبل شی ته کيدل هغه شی چي نسبت ئې وبل شی ته سوی وي هغه ته مضاف وائي اوچي وده ته دبل نسبت سوي وي هغه ته مضاف اليه وائي ،اوددوي په مابين کي چي کوم تعلق دی هغه ته اضافت وائي نورتفصيل اوعلامات ئې دنحوپه کتابوکي دي لکه علامات نحويه وغيره :

سوال: داضافت اوالف لام ددخول په وخت کي تنوين ولي غورځي ؟

جواب: ځکه الف دتعريف ،معرفه لپاره ،اوتنوين دتنکير نکرة لپاره ده اوتعريف وتنکير سره ضددي ،

سوال: داضافت په وخت کي نون تثنيه اونون جمع ولي حذف کيږي ؟

جواب: ځکه دغه نونان قائم مقام دتنوين دي چي هغه اصل ئې حذف کيږي فرع ئې په طريقه اولي حذف کيږي.

په اسانه عبارت

تنوين ،نون تثنيه ،نون جمع داضافت په وخت کي ځکه حذف کيږي چي تنوين ،نون تثنيه ،نون جمع ،پراتمام (پوره والي) دکلمي دلالت کوي يعني چي داکلمه پردي ځاي پوره سوه اواضا فت دکلمي پراتصال دلالت کوي يعني داکلمه دلته نه ده پوره په مضاف اليه پوره کيږي نواتصال اوانفصال خوضدين دي نوځکه دوي حذف کيږي . (انوارالاشرفيه بيان الصرف ،صرف بهترال).

(عجيبه جامع فائدة)

په ټول عربي ژبه کي تنوين دپنځو وجهو حذف کيږي.

اول : الف لام ،دوهم اضافت ، دريم غيرانصرافي، څلورم وقف، پنځم ضرورة شعري ،ددغو اسبابو له وجي حذف کيږي.

فائده: دتنوين اونون ساکن لس فرقه دي تقريباً،دزيادت معلومات لپاره فوائدمکية وګورئ زه به يو څوذکرکړم.

اول نون تنوين: صرف دکلمي په آخرکي راځي اونون ساکن عام دی.

دوهم نون تنوين : صرف په اسم کي راځي سواله ترنم ،اونون ساکن عام دی.

دریم : نون تنوین په ویلوکي ویل کیږي په لیکلوکي نه ولیکل کیږي اونون ساکن هم ویل کیږي اوهم لیکل کیږي،

څلورم: نون ساکن کله کله دتاکید لپاره راځي لکه نون خفیفه تفصیل ئې تیرسو .تنوین هیڅ کله دتاکید لپاره نه راځي .

پنځم : دالتقاء ساکنین ددفع لپاره نون تنوین ته صرف کسره ورکول کیږي اونو ن ساکن ته فتحه اوکسره دواړه ورکول کیږي ،منَ الله ،انِ ارتبتم .

شپږم : دوقف په حالت کي پرنون ساکن وقف بالسکون کیږي یعني ساکن پاته کیږي اوپرتنوین باندي وقف بالاسکان یابالابدال کیږي یعني یاحذف کیږي یاپه الف بدلیږي .

(قانون ۱۳) دنون خفیفه والا

نون تنوین وخفیفه راموافق حرکت ماقبل بحرف علت بدل کنند جوازاً درحالت وقف .

تشریح :ددي قانون نوم دنون خفیفه والاقانون ده ددي لپاره یوحکم یوشرط دی په دې قانون کي یو څه تفصیل سته .

تفصیل ئې دادی چي داقانون بعض علماء : شراح : صرف ترنون خفیفه پوري خاص بولي نوپه دې صورت کي بیادتنوین لفظ په عبارت کي غلط ده ،اوبعض علماء ئې صرف په نون تنوین پوري خاص بولي نوبیادخفیفي لفظ غلط دئ،اوبعض علماء ئې ددووزورو والاتنوین اونون خفیفه پسي خاص بولي ،اوبعض علماء ئې په نون تنوین په دروسره ووحالاتواونون خفیفه سره ئې بولي یعني عام ئې بولي خولیکن په دې قانون کي غلطي نسته بلکي دلته دوه مذهبه دي اول جمهور،دوهم امام یونس رح مذهب دی.

جمهورصرفیین اوقراء : وائي چي دابدلول خوپه نون خفیفه کي جائزده خوپه تنوین کي صرف په دوو زورو والاکي جائزده لکه ابداً اځخه آبدا ویل .

اوامام یونس : وائي چي په ټولو حالادتنوین کي ابدال روادی نوکه داسي وي چي ته د پیش، یازیر، په تنوین کي داقانون جاري کړې نوعندالامام یونس چي ورسره ذکرکړې نوبیااعتراض نه واردیږي .

خلاصه: نون تنوین اونون خفیفه دماقبل حرکت موافق حرف علت سره بدلول جائز دي یعني ماقبل مفتوح ووپه الف اوکه مکسوروو په یا اوکه مضموم ووپه واوبدلول جائز دي .

حکم : نون تنوين يو حالت عندالجمهور په ټولو حالتو کي عنديونس اونون خفيفه دماقبل حرکت موافق حرف علت سره بدلول جائز دي .
شرط : حالت به دوقف وي ،احترازي مثال اضربن القوم داحالت دوصل ده اتفاقي مثال له اِضربن ،اِضربُن، اِضربِن څخه اِضرِباً ،اضرِبُو،اِضرِبِي ويل جائز دي اوله علِيماً څخه علِيماَ ويل عندالکل ،اوله قديرٌ ،حکيمٌ څخه قديرو ،اوحکيمُو ويل جائز دي عندالبعض .

(ددې قانون اجراء)

داقانون جوازي اوبيااختلافي ده نودنون خفيفه والاپه کي سره ددوو زورو ،والاپه تنوين کي دجمهورو پرمسلک باندي اوديونس پرمذهب باندي په ټولو حالتود تنوين کي تاته جائزده چي په کي جاري ئې کړي.

فائدة: په قرآن کريم کي دوه ځايه داسي چي نون خفيفه په صورت کي دتنوين لکيل سوي دي . اول په سورة يوسف کي :ليکونا ً ،من الصاغرين، دوهم په سورة علق کي : لَنَسفعاً باالناصية ، اوداوجه نه لري لکه چي ذکرسوداصرف تررسم خط پوري کارلري څوک چي وجه ورته وائي هغه کمزوري ده ځکه دقرآن رسم خط له عقل اوقياس څخه پورته ده .

(طريقه بناء فعل جحد معلوم ومجهول)

لم يَضرِب ،لم يُضرَب الخ فعل جحد معلوم اوفعل جحد مجهول له فعل مضارع معلوم اوفعل مضارع مجهول څخه جوړدي نوتردي مخته چي څنګه جوړدي دحروف جوازم عمل ه مختصر ډول ذکرکوو .

داخوذکرسوپه مقدمه کي چي حروف جوازم پنځه دي ،اِن ،لم ،لمّا ،لام امر ،لاء نهي. اوس نو حروف خوجزم کوي چي دفعل مضارع پرڅورلس صيغوداخل سي علامه دجزم ئې په پنځوصغيوکي سقوط دحرکاتودي ،حذف کول ،يضرب، تضرب، تضرب، اضرب ،نضرب، اوپه اووو ۷ صيغوکي سقوط دنوناتوکوي ،يضربان ،يضربون ،تضربان ،تضربان ،تضربون، تضربين ،تضربان .اوپه دووصيغوکي شی هم نه کوي چي يضربن ،اوتضربن ده ،ځکه هغه مبني دي ،والمبني مالايتغيرآخره باختلاف العوامل المختلفة ،نوله بحث څخه دفعل جحد معلوم او فعل جحد مجهول بناء معلوم سوه .

(طریقه بناء فعل نفي معلوم ومجهول)

لایَضرِبُ لایُضرَبُ الخ له مضارع معلوم او مجهول څخه جوړدي دالانافیه ده په لفظ کي عمل نه کوي صرف په معنی کي عمل کوي نودنفي بناء معلومه سوه چي صرف پرمضاع باندي لادا خله کړه .

(قانون ۱۴) دنون اعرابي والاقانون)

ہرنون اعرابي وقت دخول جوازم ونواصب ولحوق نون ثقیله ،وخفیفه ،وبناء کردن امرمعلوم حذف کرده شود وجوباً .

تشریح: ددي قانون نوم دنون اعرابي والاقانون ده ددي لپاره یو حکم پنځه کامل شرطونه دي

خلاصه: هغه کلمه چي نون اعرابي پکښي وي چي جوازم پرداخل سي یانواصب پرداخل سي یانون ثقیله یاخفیفه پسي راسي یاامرحاضرځني جوړسي دانون اعرابي حذف کیږي .

حکم: نون اعرابي حذف کول واجب دي.

اول شرط: په کومه کلمه کي چي نون اعرابي وي جوازم به پرداخل وي احترازي مثال یضربان ،یضربون ،اتفاقي مثال لم یضربا ،لیضربا ،لایضربا ،لم یضربوا ،لیضربوا ،لایضربوا .

دوهم شرط : په کومه کلمه کي چي نون اعرابي وي نواصب به پرداخل وي احترازي مثال یضربان ،یضربون ،اتفاقي مثال لن یضربا ، لن یضربوا ،

دریم شرط: په کومه کلمه کي چي نون اعرابي وي نون ثقیله به پوري متصل سوي وي احترازي مثال یضربان ،یضربون ،اتفاقي مثال لَیضرِبانّ ،لَیضرِبُنّ .بیاالتقاء ساکنین راغله دواو اودنون ،مدغم ئي کړ ، او حذف ئي کړ ،

څلورم شرط: په کومه کلمه کي چي نون اعرابي وي نون تاکید خفیفه به پوري متصل وي . احترازي مثال یضربان ،یضربون ،اتفاقي مثال لَیضرِبَنْ ،لیضرِبُنْ،په اصل کي لیضربان . لیضربون وو ،دالتقاء ساکنین په وجه لَیضرِبَن ،لیضرِبُنْ سو .فافهم .

پنځم شرط: په کومه کلمه کې چې نون اعرابي وي دامرحاضر دجوړيدو اراده به دي ځني کړي وي ،احترازي مثال تضربان، تضربون،اتفاقي مثال اِضرِبا،اِضرِبُوا.

(ددي قانون اجراء)

دا قانون صرف دفعل مضارع په هغه صيغو کي جاري کيږي چي نون اعرابي پکښي وي يعني په اووصيغو دفعل مضارع کي چي جوازم يانواصب پرداخل سوي وي يانونان دتاکيدپسي متصل سوي وي يا امروي نهي وي،

(طريقه بناء فعل نفي معلوم ومجهول)

حروف نواصب څلور دي لکه په مقدمه کي چي ذکرسو: اَن،لن،کی،اذن. دادفعل مضارع پرڅورالس صيغوچي داخل سي په پنځوصيغوکي تبديل دحرکت کوي يعني ضمه په فتحه بدلوي،يضرب، تضرب، تضرب، اضرب،نضرب، اوپه اووصيغوکي سقوط دنوناتوکوي يضربان،يضربون،تضربان،تضربان،تضربون،تضربين،تضربان،،اوپه دووصيغوکي څه هم نه کوي چي يضربن وتضربن ده ځکه هغه مبني ده والمبني مالايتغيرآخره باختلاف العوامل المختلفة،نوله دي بحث څخه دفعل نفي معلوم اوفعل نفي مجهول بناء معلوم سوه.

(لن يضرب لن يُضربَ)

نون اوياء قريب المخرج ځکه دواړه له وسطي حروفو څخه دي نوئي نون په ياء بدل کړياءئي په کي مدغم کړه،نولن يضرب سو،

(قانون ۱۵) ديرملون والاقانون

هرنون ساکن وتنوين رادرحروف يرملون ادغام ميکنندوجوباً ومتحرک راجوازاً درحروف يمون به غنه ودرلربغير غنه.

تشريح:ددي قانون نوم ديرملون والاقانون ده دد ي لپاره دوه حکمه اودهرحکم لپاره دوه دوه ناقص شرطونه دي،

خلاصه: له نون ساکن اوتنوين وروسته که له حروف يرملون څخه يوراغلی نون ساکن ياتنوين ددوي له جنس گرځول جائز اوبيا ادغام په قانون باندي جنس په جنس کي مدغم کول

واجب ده ،خوپه حروف يمون ،يمنوكي ادغام سره له غنې کیږي اوپه لر کي يعني لام راکې ادغام بيله غنې کیږي .

فائدة: غنه ویزي ته اواز تللوته وائي .

(۱) حکم : نون ساکن اوتنوين دمابعد له جنس کول اوجنس په جنس کي مدغمول واجب دي

اول شرط له نون ساكن اوتنوين وروسته له حروف يرملون څخه يوحرف راغلي وي احترازي مثال من شرّ ، داله حروف يرملون څخه نه دي .

دوهم شرط : دانون ساکن اوتنوين به له حروف يرملون سره په يوه کلمه کي نه وي احترزي مثال،دُنيا ،قنوانٌ ،داپه يوه کلمه کي دي ځکه ادغام نه دي سوي اتفاقي مثال دوه قسمه راځي يودتنوين والابل دساكن والا ،لن يّضرب ،مِن رّبهم ،من مّاءٍ ، من لّدن، من وّاقٍ ،من نّبيٍ ،دنون

تنوين مثالونه غَدّيرتّع ،غَفُورٌرّحِيم، رسُولٌ مّن الله، رِجالٌ لّاتلهيهم ، رَعدٌ وّبرق، كُلاً نُمِدُّ ،

(۲) حکم : نون متحرک دمابعد له جنسه کول جائز اوبيا جنس په جنس کي مدغمول واجب دي:

اول شرط :له نون متحرک وروسته به له حروف يرملون څخه يوحرف راغلي وي احترازي مثال من ستخرج ، داله حروف يرملون څخه نه ده ،

دوهم شرط: دانون متحرک به له يرملون سره په يوه کلمه کي نه وي احترازي مثال بُنِي ،فُنِيَ ،داپه يوه کلمه کي دي ،ځکه ادغام نه دی پکي سوي اتفاقي مثال له انّ الذين لاَيرجُونَ څخه انّ الذّلايرجون ،هم ويلاي سي نورمثالونه له انايتيم ،څخه ان يّتيمٌ انارفيقٌ څخه ان رّفيقٌ ،له انامسكينٌ څخه ان مّسكينٌ له انالئيقٌ څخه ان لّئيقٌ ،له اناوليٌ څخه ان وّليٌ ،له انانذيرٌ څخه ان نّذيرٌ ويل کیږي.

(ددې قانون اجراء)

داقانون په اسماء ،افعال ،حروفودروسره ووکي جاري کيږي ،دحرف مثال ممّاپه اصل کي مِن ماوو، ياعمّا،اودنفي مؤكدبلن په پنځوصيغوكي هميشه جاري كيږي كه له هره باب وي اوددي په وجه كله كله دكلمي شكل هم بدل سي لكه الّاتعبدپه اصل كي ان لاتعبدوو.

فائدة : داموذکر کړوچې په لام اوراءکې صرف ادغام کیږي لکه مِن لَدن ، مِن رّبهم.اوپه دانو روکي ادغام سره له غنې کیږي.

(قانون ۱۶) داخفاء واظهاراقلاب والایاینبغي والا

هرنون ساکن وتنوین که واقع شود قبل ازباء مطلقا آن رابمیم بدل کنندوجوباً وقبل ازحروف حلقي ظاهر خوانده مي شوندوجوباًوقبل ازالف نمي آیند(لالتقاء الساکنین) ودرباقي حروف اخفاء کرده آیدوجوباً ،

تشریح: ددې قانون نوم داخفاء،واظهار،اقلاب، والایاینبغي یادباء مطلق قانون ده ددې لپاره درې حکم دي دهرحکم لپاره یویوشرط دی.

خلاصه له نون ساکن تنوین وروسته حروف حلقي راغلواظهارکیږي یعني نون ساکن اوتنوین ښکاره ویل کیږي: اوله نون ساکن وتنوین وروسته الف نه راځي ځکه بیاالتقاء ساکنین راځي اوکه دغه مذکوره حروف ماسواچې حروف یرملون حرف باء حروف حلقي اوالف دی که له دانوروحروفویوراغلي اخفاء کیږي یعني اواز په پزه کي پټیږي.

فائدة : حروف حلقي شپږدي لکه چې په بیت کي دي،

حروف حلقي شش بوداي نورعین .... همزه هاوحاخاوعین غین.

اوحروف اخفاء پنځلس دي لکه په بیت کي،

تاء وثاء وجیم ودال ذال وزاء وسین وشین.........صادوضاد وطاوظاوفاوقاف وو کاف بین.

(۱) حکم : چې اقلاب کول واجب دی یعني نون ساکن،تنوین په میم بدلول،

شرط: له نون ساکن تنوین وروسته به حرف باء راغلی وي احترازي مثال من شر. دلته شین ده اتفاقي مثال مِن بعد ، ینبغي،آیاتٍ بیّنت.

(۲) حکم : اظهارکول واجب دی یعني نون ساکن تنوین ښکاره ویل ،

شرط: له نون تنوین ساکن څخه به حروف حلقي راغلی وي احترازي مثال من شر،زیدآمرٌ،زیدٌ خادمٌ ، زیدٌ حاکمٌ . زیدٌ خاشعٌ ،زیدعالمٌ ، زیدغني،داسي نورلکه منِ احد ،منِ خوف، من ها لکٌ .

(۳) حکم : اخفاء کول واجب دي یعني اواز په پزه کي پټول.

شرط: له مذکوره حروف ماسوادانورو څخه به یو حرف راغلي وي ، احترازي مثال من خوف، دلته خاء ده له حروف حلقي څخه ده اتفاقي مثال جنّتٍ تجري ، من تراب، ثمّ من نطفة، عينٌ جارية، جَانبِ دُخُورٍ، وطعاماً ذاغصّة، قُرْاناً سيرت ، رسولاً شاهداً ، رجالٌ صَدَقُو ، قُوَّةٌ ضَعفٌ ، شجرةٌ طيبةً ، قومٌ ظَلَمُو ، من رّزقٍ فجلنهم ، امّة قانتا ، سفرةٍ كرامٍ،

امثلة نون ساكن : مِن ثمرة ، من جوع ، من دابّة ، من ذالذي ، انزلناه ، فانسهم ، من شهر ، عن صلوة ، ومن ضل ، من طين ، انظر ، من فضّة ، من قبل ، عنكبوت .

(ددې قانون اجراء)

داقانون په اسماؤ افعالوپه دواړوكي جاري كيږي اوپه قرآن كريم كي بيخي ډيرځايه جاري كيږي .

(طريقه بناء امر حاضر)

قاعده : امرحاضرمعلوم دمضارع معلوم مخاطب له شپږوصيغوڅخه بناء كيږي ،اوامرغائب معلوم دمضارع معلوم له شپږغائب اودومتكلم صيغوڅخه بناء كيږي اوداسي مجهول ئي له مضارع مجهول بناء كيږي.

(اِضرب)

دامرصيغه ده دجوړولوطريقه ئې داده چي حرف مضارعت حذف كړه له حرف مضارعت وروسته وګوره چي داحرف متحرک ده كه ساكن كه متحرک ووبس امرجوړسوصرف په آخركي وقف وكړه علامه وقف لام كلمي ته وګوره چي صحيح ده كه معتل كه پرلام كلمه حرف

صحيح وو ،صرف حركت حذف كړه بس دغه دامرصيغه ده لكه عِدْ ، اوكه پرلام كلمه حرف علت ووهغه حرف علت حذف كړه لكه تقي څخه قِ ، ويل اوكه فاء كلمه ساكنه وه نوعين كلمي ته وګوره كه مضمومه وه دحرف مضارعت پرځاي همزه وصليه مضمومه راوړه په آخركي وقف وكړه كه عين كلمه مضمومه نه وه بلكي مكسوره يامفتوحه وه همزه وصليه مكسوره راوړه ځكه چي ابتداء په ساكن رانسي اوپه آخركي وقف وكړه .

سوال: امرولي له مضارع جوړسو؟

جواب: ځکه ددوي په منځ کي مناسبت وو من وجه يعني په حاليت کي لکه په مضارع کي چي د حال معني ستة حقيقة يا مجازا، په امر کي هم د حال معني ده .

سوال: حرف مضارعت ئې ولي حذف کړى؟

جواب: امراو مضارع په معني کي مختلف وو نو لفظ ئې مختلف سو ځکه لفظي اختلاف دال وي پر معنوي اختلاف .

سوال: نو په امر حاضر مجهول او امر غائب کي ولي حرف مضارعت نسو حذف ؟

جواب: ځکه امر حاضر مجهول او امر غائب هم معرب دي او مضارع هم معرب ده نو د مناسبت له وجهي .

دوهم جواب: صرفيين د ېته امر نه وائي ديته مضارع مجزوم وائي .

سوال: په ابتداء کي همزه وصليه ولي راوړه ؟

جواب: چي ابتداء په ساکن رانسي ځکه ابتداء په ساکن محال ده په کلام عربي کي.

سوال: د امر حاضر آخر ولي ساکن سو؟

جواب: ځکه امر حاضر مبني ده او اصل په بناء کي سکون لکه په نحو کي چي ذکر سويدي.

سوال: عين کلمه چي مضموم وي نو همزه ولي مفتوح يا مکسوره نه راوړل کيږي؟

جواب: که ئې مفتوح سي نو له مضارع معلوم واحد متکلم سره التباس راځي او که ئې مکسور کړي نو ثقل راځي .

سوال: چي عين کلمه غيرمضمومه وي نو همزه ولي مکسوره راوړل کيږي ولي مفتوح يا مضموم نه راځي؟

جواب: ځکه که همزه مفتوح کړي له واحد متکلم مضارع سره ئې په حالت د وقف کي التباس راځي او که ئې مضموم کړي مضارع مجهول سره ئې التباس راځي .

سوال: تاخو وويل چي عين کلمه مکسوره وي همزه مکسوره راځي نو تکرم کي عين کلمه مکسوره ده ولي ئې په امر کي مفتوح کړي ده ؟

جواب: تکرمُ په اصل کي تُأکرمُ وو دا همزه وصليه نه ده دا قطعي همزه ده .

سوال: بيا همزه څه سو چي په اصل کي تأکرمُ وو؟

جواب: همزه حذف سو دا أأكرم له وجهې يعني هلته دوي همزي راغلي وي هلته دثقل له وجهي حذف سوه او دلته طرد اللباب حذف سوه .

(قانون ۱۷) دامر حاضرواﻻ

هر امر حاضر معلوم را از فعل مضارع مخاطب معلوم باين طوربناء مي كنند كه اگر بعد حذف كردن حرف مضارعت مابعد ش ساكن ماند همزه وصلي مضموم دراولش درآرندوجوباً بشرطيكه مضارع نيز مضموم العين باشدوگرنه مكسورواگرمابعدش متحرك ماند امر همون شدبو قف آخر.

تشريح : ددې قانون نوم دامر حاضرواﻻقانون ده ددې لپاره درې حكمه دي داولودووحكمو لپاره دوه دوه ناقص شرطونه دي ،ددريم حكم لپاره يوشرط ده .

خلاصه : امرله فعل مضارع معلوم دمخاطب له صيغو جوړده په دې دول چي حرف مضارعت حذف كړه مابعد كه ئې ساكن وو همزه وصليه مضمومه راوړه په دې شرط چي عين كلمه به ئې مضمومه وي كه ئې عين كلمه مضمومه نه وو همزه وصليه مكسوره راوړه اوكه ئې مابعد متحرك وو امرجوړده صرف په آخركي وقف وكړه .

(۱) حكم : همزه وصليه مضموم راوړل واجب دي .

اول شرط : چي له حرف مضارعت ورسته حرف به ساكن وي احترازي مثال تصرّف دلته متحرك دى .

دوهم شرط: مضارع به ئې مضموم العين نه وي يابه مفتوح العين وي يابه مكسورالعين احترازي مثال ،تضرِبُ ، دلته مضارع مكسور العين ده ، اتفاقي مثال له تنصرڅخه اُنصُرويل واجب ده .

(۲) حكم: همزه وصليه مكسوره راوړل واجب ده.

اول شرط : چي له حرف مضارعت وروسته حرف به ساكن وي احترازي مثال تُصرف دلته متحرك ده .

دوهم شرط:مضارع به ئې مضموم العين وي احترازي مثال تَنصُردلته مضارع مضموم العين ده ،اتفاقي مثال له تَضربُ څخه اضرب ويل اوله تَعلم څخه اعلم ويل واجب دى .

(۳) حكم : حرف مضارعت حذ فَ كول اوپه اخركي وقف كول واجب ده .

اول شرط: چې له حرف مضارعت وروسته حرف به متحرک وي احترازي مثال تنصر ،تضرب. دلته ساکن ده ،اتفاقي مثال له تُصرّف څخه صرّف ويل واجب ده .

(ددې قانون اجراء)

داقانون دامر حاضرپه ټولو صيغو کي که له هره بابه وي جاري کيږي په شپږوصيغو کي بالذات اوپه نهو۹ صيغو کي بالواسطه جاري کيږي يعني هغه صيغي چي مؤکدپه نون تاکيدثقيله اوخفيفه وي.

(اضربا)

له تضربان جوړه ده حرف مضارعت ئې حذف کړهمزه وصليه مکسوره ئې راوړ دنون اعرابي په قانون نون اعرابي حذف سو.

(اضربو)

له تضربون جوړه ده حرف مضارعت ئې حذف کړهمزه وصليه مکسوره ئې راوړه دنون اعرابي په قانون نون اعرابي حذف سو.

(اضربي)

له تضربين جوړه ده حرف مضارعت ئې حذف کړهمزه وصليه مکسوره ئې راوړه دنون اعرابي په قانون نون اعرابي حذف سو.

(اضربا) دتثنيه مذکرپه مثل بناء ده .

(اضربن)

له تضربن څخه جوړده حرف مضارعت ئې حذف کړ همزه وصليه مکسوره ئې راوړه.

(طريقه بناء امر حاضر معلوم بانون ثقيل)

اضربنّ له اضرب څخه بناء ده دنون ثقيله ماقبل ئې مبني برفتحه کړي ،

اضربانّ : له اضربا څخه بناء ده نون ثقيله ئې پسي راوړه اضربانّ سودتثنيه دمشابهت په وجه نون مکسوره سو.

اضربُنّ : له اضربو څخه بناء ده نون ثقيله ئې پسي راوړی بياالتقاء ساكنين راغله په مابين دوا راونون مدغمه كي واوحذف سو ،

فائدة : بعض علماء داالتقاء ساكنين قانون دلته راوړي اوبعض ئې داجوف په قانوناتوكي ذكركوي څكه چي التقاء ساكنين ډيرپه اجوف اوناقص كي راځي اودانورعلماء ئې ددغې صيغې په مناسبت راوړي ولكل وجهة .

اضربِنّ : له اضربي بناء ده نون ثقيله ئې پسي راوړه بياالتقاء ساكنين راغله دياا ونون مدغمه يائې حذف كړه .

اضربانّ : بناء ذكرسوه.

اضربنانّ : له اضربن بناء ده بيائې نون ثقيله پسي راوړه اضربننّ سوبيااجتماع ددرونوناتوورا غله الف ئې په مابين كي فاصل راوړي څكه دري نونان مستلزم وثقل ته وو.

(قانون ۱۸) دالف فاصله والا

چون نون تاكيد ثقيله بانون ضميري متصل شود الف اصله ميان ايشان درآوردند وجوباً .

تشريح : ددي قانون نون دالف فاصله والايادااضربنان والاقانون ده ددي لپاره يوحكم يوشرط دی،

خلاصه: هركله چي نون تاكيد ثقيله په نون ضميري نون دجمع مؤنث چي فاعل ئې هم دئ پسي ملحق سي نوددوي په مابين كي الف فاصله راوړل واجب دئ.

حكم: الف فاصله راوړل واجب دي .

شرط: نون تاكيدثقيله به په نون ضميري پسي ملحق سوي وي احترازي مثال ليَكُونَنّ دلته نون ثقيله په نون اصلي دكلمي پسي ملحق سوي دئ اتفاقي مثال له اضربنّ څخه اضربنانّ ويل واجب دی.

(ددي قانون اجراء)

داقانون په هره جمع مؤنث چي نون تاكيد ثقيله پسي متصل سوي وي پكي جاري كيږي .

(طريقه بناء فعل امرحاضرمعلوم بانون تاكيدخفيفة)

اضربَنْ : له اضرب څخه بناء ده دنون خفيفه ماقبل ئې مبني برفتحه کړ.

اضربُنْ : له اضربوا څخه بناء ده نون خفيفه ئې پسي راوړي بياالتقاء ساکنين راغله په مابين دواواونون خفيفه ساکنه کي واو ئې حذف کړ.

اضربِنْ : له اضربي څخه بناء ده نون خفيفه ئې پسي راوړه بياالتقاء ساکنين راغله دياء اونون خفيفه ياء ئې حذف کړه.

(طريقه بناء فعل امر حاضر مجهول)

لِتضرَبْ الخ له مضارع مجهول څخه جوړدئ کاجازمه مکسوره چي پرداخل سوجزم ئې پکي وکړعلامه دجزم په صيغه کي ئې حرکت اوپه څلوروکي ئې نونات حذف کړل اوپه يوه کي ئې شی ونه کړل ځکه هغه مبني ده والمبني مالايتغيراه نوله تُضرب، تُضربان ، تُضربون ،تُضربين ، تُضربان ، تُضربن څخه لتُضرب ، لتُضربا ، لِتُضربُو، لتُضربِي ،لتُضربا ، لِتُضربن ، سو.

(طريقه بناء فعل نهي غائب معلوم ومجهول)

لاتُضرَبْ : الخ لايُضرَبُ دنهي غائب معلوم ومجهول له مضارع معلوم ومجهول څخه جوړدي طريقه ئې ذکرسوه ،يعني چي لاء ناهيه جازمه پرداخل سوه اوجزم ئې پکي وکړعلامه دجزم ذکرسوه.

(طريقه بناء اسم ظرف)

مضربٌ : له يَضربُ څخه بناء ده حرف مضارعت ئې حذف سوپرځاى ئې ميم مفتوحه علامه داسم ظرف راوړه اوتنوين تمکن ئې علامه داسميت په آخرکي راوړه.

سوال: اسم ظرف ولي له فعل جوړسو؟

جواب: د مناسبت په وجه ځکه فعل هم په ظرف کي واقع کيږي.

سوال: نو بيا له ماضي ولي نسو جوړ چي له مضارع جوړيدی؟

جواب: ځکه له مضارع سره ئې په حرو فو حرکات سکناتو کي مناسبت وو.

سوال: داسم ظرف په ابتداء کي ميم مفتوح او داسم آلة په ابتداء کي ميم مکسوره ولي راوړي؟

جواب: ځکه چي داسم ظرف او اسم آلي فرق وسي.

سوال: نو بيائې ولي برعکس نه کوي يعني چي داسم ظرف ميم ته ئې کسره او داسم آله ميم ته ئې فتحه ورکړي وای؟

جواب: ځکه اسم ظرف په نسبت واسم آلي ته کثير الاستعمال ده او کثرة استعمال تقاضاد خفت کوي نو فتحه خفيفه ده په نسبت وکسري ته.

سوال: داسم ظرف په ابتداء کي ئې ولي ميم راوړي؟

جواب: چي له مضارع سره ئې فرق وسي.

سوال: نو زيادت ئې ولي له حروف علت څخه نه کاوه؟

جواب: که ئې زيادت کړي واي له مضارع غائب سره ئې التباس راتلي او الف خو نسو زياتو دي دابتداء له وجي خو که ئې په همزه بدل کړي وای. له واحد متکلم سره ئې التباس راتلی.

سوال: په واو کي التباس نه وو؟

جواب: للاکثر حکم الکل.

سوال: نواوس خود اسم ظرف له مصدرميمي سره راځي ځکه دهغه په شروع کي هم ميم مفتوحه وي؟

جواب: چونکي مصدرميمي کم استعماليدي نو صرفينو دهغه التباس ته اعتبار ورنکړ.

سوال: دثلاثي مجردپه بابوکي داسم ظرف ميم مفتوح وي او غيرثلاثي مجردپه بابوکي مضموم وي داولي؟

جواب: داسم ظرف له اسم مفعول سره مشابهت ده ځکه اسم مفعول، مفعول به، او اسم ظرف مفعول فيه راځي او اسم مفعول ميم په ثلاثي مجرد کي مفتوح او په غيرثلاثي مجرد کي مضموم وي نو دهغه په مناسبت اسم ظرف هم داسي سو.

(قانون ۱۹) داسم ظرف والا

ظرف یفعِل ومثال مطلقابروزن مَفعِلٌ مي آیدوجوباً وازغیریفعِل وناقص ولفیف ومضاعف مطلقابروزن مفعَلٌ مي آید وجوباوماسوي ایشان شاذاند ،
وازغیرثلاثي مجردبروزن اسم مفعول آن باب مي آید وجوبا.

تشریح: ددې قانون نوم داسم ظرف والاقانون ده ددې لپاره درې حکمه دي داولودووحکمو لپاره دوه دوه شرطونه دي اوددریم لپاره یوشرط ده ،اول دوه حکم دثلاثي مجردلپاره اوآخري حکم دثلاثي مزیدفیه لپاره دي .

خلاصه : داسم ظرف صیغه که ثلاثي مجردوه نوپه هفت اقساموکي ورته وګوره ،که مثال ووتول وخت پروزن دمفعِلٌ راځي لکه موعدٌ ،میسرٌ،اوکه ناقص ،لفیف ومضاعف وه بیاپروز ن دمَفعَلٌ راځي اوکه صحیح مهموزاجوف وویائي عین کلمې ته وګوره که مکسورالعین وویاپروزن دمفعِلٌ راځي لکه مَضْرِبٌ مَطْوِحٌ مَأْزِرٌ،اوکه مکسورالعین نه وویائي ظرف د مَفْعَلٌ پروزن راځي لکه منصَرٌ مقوَلٌ ،مسئَلٌ، اودله دغوماسواشاذدي،لکه مسجِدٌ ،مشرِقٌ، مغرِبٌ. اوله غیرثلاثي مجردڅخه پروزن داسم مفعول دهغه باب راځي لکه مُکرَمٌ .

(۱) حکم داسم ظرف صیغه پروزن دمفعِلٌ ویل واجب ده .

اول شرط: باب به دثلاثي مجردوي احترازي مثال اکرم یکرم داغیرثلاثي مجرددي .
دوهم شرط: داکلمه په هفت اقسام کي ،صحیح ومهموز ،اجوف به مکسورالعین وي اومثال مطلقایعني کله له هرباب وي که واوي وي که یایي ،احترازي مثال مَنْصَرٌ،اتفاقي مثال له ضرب یضرِبُ څخه مَضْرِبٌ له أزد یأزدڅخه مَأْزِدٌ ،له زاد یزِئدُ څخه مَزِئدٌ ویل له هنئ یهنئ څخه مَهْنِئٌ ،له طاح یطیح څخه مطوِحٌ له باع یبیع څخه مَبِیعٌ له وعدیعدڅخه مَوعِدٌ له وَجِل یَوْجَلُ څخه مَوْجِلٌ له وسم یوسم څخه مَوْسِمٌ له یسر ییسر څخه مَیْسِرٌ ویل واجب دي .
(۲) حکم : داسم ظرف صیغه پروزن د مَفْعَلٌ ویل واجب دی.

(۱) شرط: باب به د ثلاثي مجرد وي احترازي مثال أَكْرَمَ يُكْرِمُ ، دا غير ثلاثي مجرد دي .
(۲) شرط: دا کلمه په هفت دا قسام کي ،صحيح ،ومهموز،اجوف،به مکسورالعين نه وي.او ناقص ،لفيف ،مضاعف ،مطلقايعني که له هرباب وي که واوي وي که يايي احترازي مثال مَضْرِبٌ،اتفاقي مثال له نصرينصرُ څخه مَنْصَرٌ ،له اَمَنَ يَأْمَنَ څخه مَأْمَنٌ ،له اَمَرَيَأْمُرُ څخه مَأْمَرٌ،له سَأَلَ يَسْأَلُ څخه مَسْأَلٌ ،له لَأَمَ يَلْؤُمُ څخه مَلْأَمٌ ،له قَرَءَ يَقْرَءُ څخه مَقْرَءٌ ،له جَزَءَ يَجْزُءُ څخه مَجْزَءٌ له قَالَ يَقُولُ څخه مَقْوَلٌ ،له طَيَبَ يَطِيَبُ څخه مَطْيَبٌ ،له دعَايَدْعُو څخه مَدعىً ،له رمى يرمى څخه مَرْمىً له وقى يقوى څخه مَوْقىً ،له طوى يطوى څخه مطوىً له مَدَّ يَمُدُّ څخه مَمْدَدٌ ،له فرّ يفرّ څخه مفرٌّ ويل واجب دى .
(۳) حکم: دا اسم ظرف صيغه پروزن دا اسم مفعول د هغه باب ويل واجب دى .

(۱) شرط: باب به د غير ثلاثي مجرد وي احترازي مثال مَنْصَرٌ ،مَضْرِبٌ،اتفاقي مثال له اکرم يکرم څخه مُکْرَمٌ ،له دَحْرَجَ يُدَحْرِجُ څخه مُدَحْرَجٌ له تدحرج يَتَدَحْرَجُ څخه مُتَدَحْرَجٌ ويل واجب دى.

(دوهم قانون اجراء)

دا قانون دا اسم ظرف په اوله صيغه کي بالذات اوپه دووصيغوکي بالواسطه جاري کيږي که له هره بابه وي .
فائدة: له دي قانون څخه د محلّه لفظ چي په قرآن کريم حتي يبلغ الهدي محله مستثني ده په استثناء عقلي سره .
فائدة: کله کله دا اسم ظرف په آخرکي تاء راځي لکه مضربةٌ

فائدة: په کوم شي کي دکثرت معني وي ظرف ئې پرزون دمفعلةٌ راځي لکه مَقبَرَةٌ
مَضربَان : دضاربان په مثل بناء ده .
مضارِبُ : له مضربٌ څخه جوړه دريم ځا ئې الف علامه دجمع مکسرسره له فتحي دماقبل راوړي تنوين حذف سو دضديت دمنع صرفي له وجي ،
مُضيربٌ : دتصغيرپه قاعده له مضربٌ بناء ده.

طريقه بناء اسم آله صغري)

مضرابٌ : له يضرب فعل مضارع معلوم څخه بناء ده حرف مضارعت ئې حذف کړ،ميم مکسوره عَلامه داسم الة صغري ئې راوړه ماقبل آخرته ئې فتحه ورکړه تنوين تمکن علامه داسميت ئې په آخرکي راوړه .
مضربان : دضاربان په مثل ده .
مَضاربُ : له مضربٌ څخه بناء ده دريم ځاي ئې الف علامه دجمع مکسرسره له فتحي دماقبل راوړي له الف ورسته حرف ته ئې کسره ورکړه تنوين حذف سو دضديت دمنع صرفي له وجي .
مُضيربٌ : دتصغيرپه قاعده له مضَربٌ څخه بناء ده.

(طريقه بناء اسم آله وسطي)

مِضْرَبَةٌ: له مضربٌ څخه بناء ده تاء متحرکه سره له فتحي دماقبل ئې په آخرکي راوړه او اعراب ئې پرجاري کړ.
مضربتان : دضاربتان په مثل ده .
مضارب: له مضرَبَةٌ څخه بناء ده دريم ځاى ئې الف علامه دجمع مکسرسره له فتحي دماقبل راوړي له الف ورسته حرف ته ئې کسره ورکړه تنوين حذف سو دضديت دمنع صرفي له وجي .
مُضيربَة : دتصغيرپه قاعده له مِضرَبَةٌ څخه بناء ده .
(طريقه بناء اسم آله کبري)

مضربٌ: له مِضرَبٌ څخه بناء ده مضربٌ اسم آله صغري وه څلورم ځای ئې الف علامه داسم آله کُبري راوړي مضراب سو.

مضرابان: په مثل دضاربان ده.

مضاريبُ: له مضرابٌ څخه بناء ده اول ودوم حرف ته ئې فتحه ورکړه دريم ځای ئې الف علامه دجمع مكسرراوړه له الف ورسته حرف ته ئې كسره وركړه اوس نودهغه الف چې په واحد كې وماقبل حركت ئې مخالف سونو الف ئې په يابدل كړ.

(قانون ٢٠) دضُورِبَ ،مضاريبُ ،والاقانون يادمخالف حركت والا

هر الف كه ماقبلش مخالفش شودآن رابوفق حركت ماقبل بحرف علت بدل كنندوجوباً.

ددي قانون نوم دضُورب،مضاريبُ، والاقانون يادمخالف حركت موافق حرف علت باندي بدلول واجب دی ،يعني الف خوداتقاضاكوي چې زماماقبل دي مفتوح وي نوكه ئې ماقبل مكسورسوپه يااوكه مضموم سوپه واوبدليږي،

حكم: الف دماقبل حركت حرف علت سره بدلول واجب دی.

شرط: دماقبل حركت به له الف څخه مخالف وي احترازي مثال ضاربٌ، دلته دماقبل حركت ورسره موافق ده ځكه فتحه ده اتفاقي مثال ضُورِبَ ،مضاريبُ ، ضورب په اصل كي ضَارَبَ وچي مجهول صيغه جوړيده ضادته ئې ضمه وركړه الف ئې په واوبدل كړ،مضاريبُ له مضرابٌ بناء سودهغه الف چې په مفرد كي وو ماقبل حركت كسره سوه نوئې په يابدل كړ.

(ددي قانون اجراء)

داقانون په اسماء ،افعال دواړوكي جاري كيږي اوپه اسماؤكي په اسم جامد او اسم آله كبري په آخري دووصيغوكي جاري كيږي لكه مصابيح ، مضاريب، اوپه افعالوكي دثلاثي مزيددد روبابوپرماضي مجهول باندي جاري كيږي ، مفاعله ،تفاعل ، افعيلال ، دباب پرمصدرهم جاري كيږي له دې نه سوابل ځای نه جاري كيږي.

(يوڅومهمي فائدي)

فائدة: دامخته هم ذكرسوه چې داسم آله تقسيم وصغري وسطي ،كبري ته په اعتباردلوي والي ياكوچنيوالي نه ده بلكي داپه اعتبارداستعمال ده.

فائدة : اسم آله صرف له ثلاثي مجرد څخه راځي په دي شرط چي د رنګ ،اوعيب معني به نه ي پکښي ،نه له غير ثلاثي مجرد څخه راځي اونه هم چي دعيب ،لون معني پکښي وي اوثلاثي مجرد هغه ابواب چي دلون ،اوعيب ،معني پکښي وي هم پروزن مفعُلٌ، مفعل ،مفعالٌ ،نه راځي بلکي له هغه څخه بياد : مَابه، لفظ راوړل کيږي لکه مابه السواد .

فائدة : اسم آله پردوه قسمه ده اول قياسي ،دوهم سماعي ،

قياسي دري قسمه ده صغري ،وسطي ، کبري، اوسماعي خونو ترسماعَ ته اتي لري لکه عالَم جمع عالمين.

(غوره تحقيق په لفظ دعالَم کي)

عالَم مشتق له علمه ده داوزن کله دفاعَل په معني دمايفعل به راځي ،لکه خاتَم،مايختم به طابع مايطبع به ،دغه شان عالَم مايعلم به ، اوس دعالم غالب استعمال په مصنوعاتو کي ده يعني هرهغه شئ چي په هغه سره الله ج معلوميږي اودعالم جمع عالمين ،عوالم راځي خوپرافرادوئي اطلاق نه کيږي يعني داسي نه ويل کيږي چي زيدعالمٌ ،ځکه بعض علماء فرمائي چي داجمع ده له لفظ مفردنه لري اوعالمين اوعوالم ئي جمع الجمع ده النبراس، خوبه هرحال دآلي معني پکښي ده .

(طريقه بناء اسم تفضيل المذکر)

اَضرَبُ: له يضربُ بناء ده حرف مضارعت ئي حذف کړ،پرځاي ئي همزه مفتوحه علامه اسم تفضيل راوړه عين کلمي ته ئي فتحه ورکړه تنوين تمکن علامه داسمين ئي حذف کړه دضد يت دمنع صرف له وجهي.

اَضرَبانِ ، اَضرَبُونَ ، په مثل دضاربان ،ضاربون ده .

اُضيرِبٌ : لکه مضيرب داسي بناء ده صرف تنوين پکي بنکاره سوځکه ضديت ختم سوځکه داوزن فعل نه ده .

(طريقه بناء اسم تفضيل مؤنث)

ضُربی: له اَضربُ څخه بناء ده همزه ئې حذف کړ فاکلمې ته ئې ضمه ورکړه عين کلمه ئې ساکن کړه الف مقصوره سره له فتحې د ماقبل ئې په آخرکې راوړه تنوين ئې مقدر کړ دضديت د منع صرف نه له وجهې.

ضُربيان: بناء له قانون وروسته وګورى.

(قانون ۲۱) د الف مقصوره الف ممدوده والا

هر الف مقصوره سوم جا بدل از واو که اماله کرده نه شود وقت بناء کردن تثنيه وجمع مؤنث سالم آن را بواو مفتوحه بدل کنند وجوبا وغيرش را بيا وممدوده اصلي را ثابت دارند وتانيثي را بواو بدل کنند وجوبا ودر غير ايشان هر دو وجه خواندن جائز است.

تشريح: دا دې قانون نوم دالف مقصوره الف ممدوده والا قانون ده ددې لپاره پنځه حکم دي اول څلور وجوبي، يو جوازي ده، اول دوه حکم دالف مقصوره او دا نور دالف ممدوده لپاره دي په اول حکم کې دواو لپاره دوه کامل شرطونه دي دا نورو لپاره يو يو شرط دی خو تر قانون مخته يو څو شيان پيژندل ضروري دي.

فائدة: الف چې د اسم په آخر کې ده پر دوه قسمه ده الف مقصوره، الف ممدوده.

الف مقصوره: چې د اسم په آخر کې وي او لازمي وي عارضي نه وي، او له ده وروسته همزه نه وي او دوهم ځای نه وي قصور رباندې کيږي لکه حبلیٰ، عصا.

فائدة: په ابداً کې الف مقصوره نه ده ځکه دا عارضي ده او په لفظ دمَا کې الف مقصوره نه ده ځکه دا دوهم ځای ده.

الف ممدوده: چې د کلمې په اخر کې وي او مد ورباندې کيږي او وروسته به ئې همزه وي لکه حمراء، قراء.

فائدة: اماله په لغت کې کږوالي، کږيدن، ته واتې او په اصطلاح کې چې الف ته دیا او فتحې نه دکسرې بوي ورکول، لکه له کتاب څخه کُتيبْ ويل، او دامام حفص صاحب پرمذهب په قرآن کريم کې صرف يو ځاي اماله کيږي، (بسم الله مجرها) او په عربي کې اماله د اسم متمکن او فعل خصوصيت ده په اسم غير متمکن کې له نهو ۹ کلماتو ماسوا بل ځاي اماله کيږي په

هغو نورو کي پنځه په اسم غیرمتمکن او څلور په حروفو کي دي : د اسم غیرمتمکن والا اول
انّي، دوهم مَتي ،دریم ذَا ،څلورم ها ضمیري ،لکه بها ، پنځم نون ضمیري ،یعني نَا.
د حروفو هغه کلمي چي اماله پر کیږي ، اول بَلي ،دوهم مَا ،دریم لَا ، څلورم یَا حرف ندا ،نو دا
لي په وخت کي ،انّي ، متي ، ذي، هي ، تي ،بلي ، مي ،لي ،يي،ويل کیږي .

فائدة: هغه الف مقصوره چي دریم ځای وي پر څلور قسمه ده .

اول : چي بدل له واو وي حقيقةً لکه عصي، په اصل کي عصو وو ،

دوهم : چي بدل له واو وي حکماً لکه الي په اصل کي الوَ وو.

دریم : چي بدل له یاء وي حقيقةً لکه فتي په اصل کي فتيَ وو.

څلورم: چي بدل له یاء وي حکما لکه بلي په اصل کي بلي وو.

حقیقتا بدل دا معني چي اصل ئې معلوم وي چي دا په اصل کي داسي وو او حکما بدل دا معني
دا دالف اصل خو معلوم نه وي لیکن حکمائې له واو بدل بولي یعني نورئې په اصل باندي
اطلاع نه وي .

فائدة: الف مقصوره چي له څلورم یا پنځم ځاي وي هغه دري قسمه دی ،

اول : چي له واو څخه بدل وي لکه مصطفي ص په اصل کي مصطفوْ وو .

دوهم :.چي له یاء څخه بدل وي لکه مجتبي په اصل کي مجتبيْ وو .

دریم: چي اصلي وي له هیڅ شی څخه نه وي بدل لکه ضربَی .

فائدة : الف ممدودة څلور قسمه ده ،اول اصلي، دوهم تانیثي ،دریم بدلي ،یاغیراصلي،
څلورم الحاقي.

اصلي: چي له بدل نه وي ،له اصلي کلمي وي لکه قُرّاءٌ، تانیثي چي د مؤنث لپاره وي لکه حمراء
: بدلي یا غیر اصلي چي بدل وي له بل حرف څخه دا بیا کله بدل له واو وي لکه رُخَاءُ ،په اصل
کي رخاوْ وو ،او کله بدل له یاء وي لکه یشاء په اصل کي یشاي وو ،الحاقي چي د الحاق لپاره
زیات سوي وي لکه علباء د ملحق په قرطاسْ پسي ده .

خلاصه : هر الف مقصوره چي دریم ځاي بدل له واو وي او اماله نه پر کیږي په وخت د تثنیې
او جمع جوړیدو کي په واو مفتوحه بدلیږي ،او که بدل له واو وو او اماله پر کیده بیا په یاء
مفتوحه بدلیږي او الف ممدوده چي اصلي وي پر خپل حال پاته کیږي او که تانیثي وو په واو

بدلیږي او که نه اصلي وو او نه تانیثي بیاتاته اختیار ده که ئې په واو بدلوي که ئې پرخپل حال پرېږدي.

(۱) **حکم**: الف مقصوره په وخت دجوړیدو دتثنیې او جمع مؤنث سالم کي په واو مفتوحه بدلول واجب ده.

اول شرط: الف به دریم ځای وي له واو به بدل وي احترازي مثال ضربي مصطفي رمي ،دلته دریم ځای نه ده بدل له واو هم نه ده ،اتفاقي مثال له عصا څخه په وخت دتثنیه کي عصوانِ اوپه وخت دجمع کي عصواتٌ ویل واجب دی.

دوهم شرط: اصلي به وي اماله به نه پرکیږي احترازي مثال بلي دلته اماله پرکیږي او عصي دلته اصلي نه ده ،اتفاقي مثال له الي څخه په وخت دتثنیه کي الوانِ اوپه وخت دجمع کي الواتٌ ویل واجب ده.

(۲) **حکم**: الف مقصوره په وخت دجوړیدو دتثنیه او جمع مؤنث سالم کي په یاء مفتوحه بدلول واجب ده.

اول شرط: چي داول حکم شرطونه به نه وي پکي موجود یعني دریم ځای به نه وي بدل بدل به نه وي له واو، اصلي به نه وي اماله به پرکیږي ،احترازي مثال عصا، الي دلته داول حکم شرطونه پکي سته ،اتفاقي مثال له ضُربي څخه ضُربیان ،ضُربیاتٌ ویل واجب دی،

(۳) **حکم**: الف ممدوده په وخت دجوړیدو دتثنیې او جمع مؤنث سالم کي پرخپل حال پرېښول واجب دی.

اول شرط: الف ممدوده به اصلي وي احترازي مثال حمراء داتانیثي ده اتفاقي مثال له قراءٌ څخه قرائان ،قرائاتٌ ،ویل واجب ده.

(۴) **حکم**: الف ممدوده په وخت دجوړیدو دتثنیه او جمع مؤنث سالم کي په واو مفتوحه بدلول واجب دی.

اول شرط: الف ممدوده به تانیثي وي احترزي مثال قرّاءٌ دااصلي ده اتفاقي مثال له حمراءٌ څخه حمراوانِ ،حمرواتٌ ،ویل واجب ده.

(۵) **حکم**: چي دریم او څلورم حکم دواړه درته جائز دي یعني که الف ممدوده پرخپل حال پرېږدي که ئې په واو مفتوحه بدلوي.

اول شرط: الف ممدوده به نه اصلي وي نه به تانيثي وي احترازي مثال قراء، حمراء، دلته ا صلي ده په اول كي تانيثي ده په دوم كي اتفاقي مثال له علباء څخه علباثان علباثاتٌ ويل هم جائز او علباوان، علباواتٌ ويل هم جائز ده .

(ددي قانون اجراء)

دا قانون خو په اسماؤكي جاري كيږي په هرهغه اسم كي چي الف ممدوده او مقصوره پكښي وي خو صيغه دتثنيي او جمع مؤنث سالم وي كه څه هم جامد وي .

ضُربياتٌ : له ضربي څخه بناء ده الف مقصوره ئي په ياء مفتوحه سره بدل كړ الف او تاء علامه دجمع مؤنث سالم ئي په آخر كي راوړ وتنوين مقدرئي ښكاره كړ.

ضُربٌ : له ضَربي بناء ده دوهم حرف ته ئي ضمه وركړه الف مقصوره ئي حذف كړ تنوين مقدرئي ښكاره كړ.

ضُريبي : له ضُربي بناء ده دوهم حرف ته ئي فتحه وركړه دريم ځاى ئي ياء علامه دا تصغير راوړ ه سره له فتحي دماقبل.

فائدة: دا اسم تفضيل پوره تفصيل او شرطونه ئي موږ له صيغو سره ذكركړي ده چي ددي يرو سوا لو نو حل په كيږي.

فائدة : دضُرَبُ صيغه صرف بعض صرفيين راوړي لكه دارشاد مولوي صاحب اونوړتول صرفين ئي نه مني.

(قانون ۲۲) دحلقي العين والايالشهد، علم والا

هر كلمه حلقي العين كه بروزن فعل حقيقة باشدسوي اصل درآن سه وجه خواندان جائز است واگرحلقي العين نباشددرفعل حقيقي سه وجه خواندن جائز است ودرصوري يک خواندن جائز است ودروزن ،فَعُل ،فعَل ،فعِلَ، فعل ، وفُعُل،فُعل ،وفُعل فُعْل، حقيقي وصوري يک وجه خواندن جائز است .

فائدة : په دي قانون كي يو څه تغير او تبديل سته چي اكثروشارحينورح هم ورته ذهاب نه دى كړي ،

تشريح : دد ي قانون نوم دحلقي العين والايا شهِد ،علم والاقانون دي ددي لپاره دري حکمه دي داولو دوو حکمو لپاره دوه دوه شرطونه اوددريم حکم لپاره يو شرط ده .

خلاصه: هره کلمه چي حلقي العين وي دفَعِلُ پروزن وي حقيقةً يعني دري حرف وي دفعل پروزن وي ياحکماً يعني چي له کلمه څخه بعض حروف حذف کړي نودفعل وزن ځني جوړسي

،نوله اصله ماسواپه هغه کي دري وجهي ويل جائز دي لکه له شهِدَ څخه شَهْد شِهْد شِهِد ويل اوکه حلقي العين پکي نه وونوپه فعل حقيقي کي که اسم وي که فَعل دوي وجهي ويل لکه له

علِمَ څخه عَلْم ويل اوله کتفَ څخه کتفٌ کتفٌ ويل اوپه فعل حکمي کي يوه وجه ويل جائز ده لکه له وَهِي څخه وَهيَ له فَهِيَ څخه فَهيَ ويل اوپه دغومذکورواوزانوکي يوه وجه ويل جائز ده،لکه دقانون په عبارت کي چي دي .

(۱) **حکم** : کلمه له خپله اصله ماسواپردري وجهي ويل جائز دي .

اول شرط: داکلمه به حلقي العين ويعني پرعين کلمه به ئي حرف حلق وي احترازي مثال علِم دلته حرف حلق پرعين کلمه نسته .

دوهم شرط :داکلمه به پروزن فعِل وي حقيقةً ياحکماً احترازي مثال سئَلَ داپروزن دفَعَلَ ده

اتفاقي مثال له شهِد څخه شِهدَشِهْدِ شِهدِ ويل جائز ده ،

(۲) **حکم** :په فُعِل حقيقي کي له اصل ماسوادوې وجهي اوپه فَعِل حکمي کي يوه وجه ويل جائزده .

اول شرط: داکلمه به حلقي العين نه وي يعني پرعين کلمه به ئي حرف حلق نه وي احترازي مثال شهد دلته پرعين حرف حلق سته .

دوهم شرط:داکلمه به پروزن دفعِل وي حقيقةً ياحکماً احترازي مثال سئل ، داپروزن دفَعَل ده

اتفاقي مثال له عَلِم څخه علَم ،علِم ويل ،اوکه کتِفٌ څخه کتفٌ کِتُفٌ ويل جائز ده داپه فعل حقيقي کي اوله هِيَ څخه وهي ،له فَهي څخه فهي ويل داپه فَعِل حکمي کي .

(۳) **حکم** : له اصله ماسواکلمه پريووجه ويل جائز دي که فَعِل حقيقي وي که حکمي وي .

اول شرط: چې له دغو اوزانوبه پريوه وي ،فَعُلٌ فَعِلٌ فُعُلٌ ،فُعَلٌ ،احترازي مثال شهِد دافعِل پروزن ده اتفاقي مثال له عَضُد څخه عضد له اِبِلٌ څخه اِبلٌ له عُنُقٌ څخه عُنقٌ له قُفُلٌ څخه قُفل ويل جائز دي ،

فائدة: فُعِلَ حكمي دامعنا چې له كلمې بعض حروف حذف فرض كړل سي نود فُعِلَ وزن څني جوړسي يايو زائد حرف پسې راسي اوفُعل وزن څني جوړسي

(ددې قانون اجراء)

داقانون په اسماء ،افعالو دواړو كې جاري كيږي چې دكلمې په شروع كې ياپه آخركې ياپه مينځ كې دفَعِل ،فُعُل ،فِعل ،فُعل،وزن راسي بس داقانون جاري كيږي اودثلاثي مزيددا نفعال او افتعال دباب په ماضي مجهول كې ډيرجاري كيږي اودامرصيغه چې واو ،يافاء ،ياثم ،راسي هم جاري كيږي خوداجوازجاري كيږي نه وجوبالكه بعض شراح چې وائې په امركې وجوباجاري كيږي داصرف په امركې ډيرجاري كيږي نوددوى قلم سهوسوى اووائې په امر كې واجب ده اوداخوله حكم څخه هم معلوميږي.

(قانون ۲۳) داِعلم ،تِعلم ،نِعلم واِلا

هرباب كه ماضي او مكسورالعين ومضارع اومفتوح العين يادراول ماضي همزه وصليه ،ياتاء زائدة مطرده باشد درمضارع معلوم اوغير اهل حجاز حروف اتين رابغيرياحركت كسره مي دهند جوازاًودرمضارع معلوم ابي يابي رانيز.

تشريح : ددې قانون نوم داِعلم ،تِعلم ،نِعلم.واِلاقانون يادابي يابي والاقانون دي ددې لپاره يوحكم دري كامل شرطونه دي

خلاصه : هرباب چې ماضي مكسورالعين وي اومضارع به ئې مفتوح العين وي يادماضي په شروع كې ئې همزه وصليه وي ياتازائده مطرده وي ،يعني هغه تاچې زائده وي اوپه ټول باب وي نوپه مضارع معلوم كې دغيراهل حجاز په مذهب له وحروف اتين ته ماسواله ياحركت دكسري وركول جائز دي اوپه أبي يابي كې ويا ته هم كسره خلاف القياس وركول كيږي.

حكم : په مضارع معلوم کي وحروف اتين ته حرکت دکسرې ورکول جائز ده ،ماسواله یاپرمذهب دغیراهل حجازو ،
اول شرط: داسي باب وي چي ماضي مکسور العین او مضارع به ئي مفتوح العین وي احترازي مثال ضرب ،یضرب ،دماضي مفتوح العین مضارع مکسور العین ده اتفاقي مثال له أعلم ،نَعلم،نَعلم، څخه اعلَم ،تعلم ،نعلم ویل جائز دي .
دوهم شرط :دماضي په شروع کي به ئي همزه وصلیه وي احترازي مثال أكرم داهمزه قطعیه ده اتفاقي مثال له اکتسبَ ، تَکتسبَ ، نَکتسبَ څخه اکتسب ،تِکتسب ،نِکتسبَ ویل جائز دي .
دریم شرط: دماضي په شروع کي به ئي تاء زائدهٔ مطرده وي ،احترازي مثال أکرم دلته نسته اتفاقي مثال له تَتَصرف ،أتَصرف ،نَتَصرف ،څخه تِتصرف ،اِتصرف، نِتصرف.ویل جائز ده .
(ددې قانون اجراء)
داقانون په فعل مضارع کي جاري کیږي له فعل مضارع معلوم څخه مراد ده چي هغه فعل چي له مضارع معلوم جوړوي نو که نفي معلوم وي که جحد معلوم وي الخ خوپه ثلاثي مجرد کي چي دعلم یعلم له بابه وي اوپه غیرثلاثي مزید کي دافعال ،تفعیل ،مفاعلة ،فعللة ،له باب ماسواپه ټولوبابو کي جاري کیږي .
سوال: په اَبي یابي کي ولي یاء ته کسره ورکړه؟
جواب: داشاذده مخالف القانون اوموافق الاستعمال ده .
سوال: له ابي یابي ماسواپه نوروصیغو کي ولي یاته کسره نه ورکوي ؟
جواب: ځکه یاء خپل قائم مقام ددوو کسروده او که کسره ورکړي نودرې کسرې به جمع سي اوداثقل راولي .
سوال: په هغوځایو کي چي داقانون پکي جاري کیږي ولي فایاعین یالام کلمي ته کسره نه ورکوي ؟
جواب: ځکه که ئي فاکلمه ته ورکړي نوتوالي اربع حرکاتوراځي او که ئې عین ته ورکړي باب نه معلومیږي اولام کلمه خوداعراب تابع ده .
سوال: دکوم باب په شروع کي چي همزه وي ولي حرف اتین ته کسره ورکوي ؟
جواب: ځکه چي پردي دلالت وکړي چي داهمزه په ماضي کي مکسوره ده .

(قانون ۲۴) دمنع يمنع والا

درباب فَعَل يَفعَلُ ،ازصحيح عين يالام كلمه ازحروف حلقي شدن واجب است.
تشريح : دد ې قانون نوم دمنع يمنع والاقانون ده دد ې لپاره يو حكم اودوه شرطه دي .
خلاصه : هرباب چې په هفت اقسام كې صحيح وي اودفَعَل يَفعَلُ له باب وي نوعين يالام كلمه ئې حرف حلق كيدل واجب دئ.
حكم: چې عين له حروف حلقي كيدل واجب دى.
اول شرط: دفَعَل يَفعَل له باب وي احترازي مثال ضرب يضرب دافعَل يفعِلُ له بابه ده .
دوهم شرط: داباب په هفت اقسام كې صحيح وي احترازي مثال ابي يابي ،قلي يقلي، سجي يسجي ،دلته صحيح نه ده اتفاقي مثال منع ذهب .

(ددې قانون اجراء)

داقانون په هرباب كې چې دماضي مفتوح العين مضارع هم مفتوح العين وي اوپه هفت اقسام كې صحيح وي جاري كيږي .
سوال: په ركَنَ يركَنُ كې دوم شرط نسته بياهم قانون پكي جاري سوى دى.
جواب: په دې كې تداخل ده يعني دادوه بابه دي له ضرب اوعلم څخه دي ،بيائي په استعمال كې ماضي له ضرب اومضارع ئې له سمع څخه مشهورسوه نودخلكوپه ذهن كې دادې چې داركن يركن دئ لكه حِبُكَ ،حُبِك كې چې تداخل ده.(شافيه.)

(قانون ۲۵) دشرائف يالف مفاعل والا

هرحرف علت كه واقع شودبعدازالف مفاعل آن رابهمزه بدل كنندوجوبازائدرامطلقاواصلي رابشرط تقدم حرف علت برالف مفاعل .
تشريح : دد ې قانون نوم دشرائف يالف مفاعل والاقانون ده دد ې لپاره يو حكم دحرف علت زائد لپاره يوشرط اودحرف علت اصلي لپاره دوه شرطه دي تردي قانون مخته وزن پيژندل پكاردي لكه چې په مقدمه كې ذكرسو.
فائدة :وزن دري قسمه ده ،صرفي ،عروضي ،صوري.

صرفي: چې دتعداد دحروفو، حرکاتو، سکناتو، اصلي حروف، زائد حروف اعتبارپکښې وي لکه دشرائف وزن فعائل.
صوري: چې دتعداد دحروفو، حرکاتو، سکناتو، لحاظ پکښې وي خود اصلي اوزائد لحاظ نه وي پکښې، لکه دشرائف وزن مفاعل.
عروضي: چې دتعداد دحروفولحاظ په کښې وي يعني ساکن پرساکن اومتحرک پرمتحرک برابره وه لکن دمعلوموحرکاتواواصلي حروفواوزائدحروفولحاظ نه وي پکښې کي، يعني دضمي وفتحي وکسري ته نه کتل کيږي لکه دشرائف وزن فعول.
فائدة: دلته مراد له وزن څخه صوري ده.
خلاصه: هرحرف علت چې وروسته ترالف دمفاعل راغلي وي که زائدوومطلقاپه همزه بدلول واجب يعني که له ده وروسته بل حرف علت وي که نه، اوکه داحرف علت اصلي وونوپه همزه بدلول واجب دی په دې شرط چې ترالف دمفاعل مخته به هم حرف علت وي.

اول شرط: دحرف علت زائد لپاره داحرف علت په الف دمفاعل وروسته وي احترازی مثال اواعدادترالف دفواعل وروسته ده اتفاقي مثال له شرائف عجاوزُ څخه شرائف عجائز ويل واجب دي دحرف علت اصلي لپاره يوشرط دغه مذکوره ده.
دوهم شرط: چې دالف دمفاعل مخته به هم حرف علت وي، احترازي مثال مقاول، دلته ترالف مخته حرف علت نسته اتفاقي مثال له قواول بيايع څخه قوائل بيائي يائع ويل واجب ده.

(ددې قانون اجراء)

داقانون صرف په اسماؤکي جاري کيږي چې په جمع اقصي کي له الف علامه دجمع اقصي وروسته همزه راسي نوداقانون هلته جاري وي اوپه ثلاثي مجردکي داجوف واوي اولفيف مقرون دپرجمع مؤنث مکسرجاري کيږي لکه قواول، اوکه باب مهموزالفاء اواجوف واوي وو يعني مختلط وو نوداسم تفضيل پرجمع مذکرمکسره باندي ئې هم جاري کيږي اوپه

اسماؤجوامد کې اکثره جاري کيږي په مشتقاتوکې دصفت مشبه پرجمع مکسره باندې جاري کيږي.

دثلاثي مجرد قانونات ختم سو.

صيغ مجردات

موزون	اصل	وزن	ماده	اقسام	شش اقسام	هفت اقسام	نظير	صيغه	بحث	باب	قانون
من المحراب	محرابٌ	مِفعالٌ	حرب	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	مضرابٌ	واحد	اسم آله كبري	ض	اضافت همزه وصل

موزون	اصل	وزن	مادہ	سہ اقسام	شش اقسام	ہفت اقسام	نظیر	صیغہ	بحث	باب	قانون
وَاشْرَبْنَ	تَشْرِبِين	افعلن	شرب	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	اضربی	واحدہ مؤنث	امر حاضر	م	امر حاضر ہمزہ وصلیہ نون اعرابی
اَسْمِعْ بِهِم		أَفْعِلْ بِهِم	سمع	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	امنع بهم	واحد	فعل تعجب	ع	ہمزہ قطعیہ توالی.
سَنَكْتُبُ		سَنَفْعَلُ	كتب	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	لننصر	متکلم مع الغیر	فعل مضارع	ن	توالی
فَاعْبُدْنِي	تعبُدُ	افعلني	عبد	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	أنصر	واحد مذکر	امر حاضر	ن	امر حاضر ہمزہ وصلیہ توالی
وَلَاتَحْزَنْ	تحزنُ	لاتفعل	حزن	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	لاتمنع	واحد مذکر مخاطب	فعل نہی	ع	توالی
قذفنها	قذفنا	فعلنا	قذف	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	ضربنا	متکلم مع الغیر	ماضی معلوم	ن	توالی
ان يَلْمُسْنَ		ان يفعلنَ	لمس	فعل	ثلاثی مزید	صحیح	ان ينصر	جمع مؤنث غائبات	فعل مضارع	ن	يرملون ہمزہ قطعیہ توالی
بَصُرَتْ		فَعُلَت	بصر	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	شَرُفت	واحد مؤنث	ماضی معلوم	ک	ضربت
لَبِثْتُم	لبثتمو	فعلتم	لبث	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	علِمْتم	جمع مذکر مخاطب	ماضی معلوم	ع	ضمیر جمع توالی
كَانِ كَان		فاعلان	كنك	اسم	ثلاثی مجرد	مضاعف ثلاثی	ضاربان	تثنیہ مذکر	اسم فاعل	ض	اسم فاعل
فالتقطیه	اِلْقُطِي	افعلی	لقط	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	اضربی	واحد مؤنث	امر حاضر	ض	امر حاضر ہمزہ وصلی توالی
طَفِقَا		فَعِلا	طفق	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	علِما	تثنیہ مذکر	ماضی	ع	توالی

موزون	اصل	وزن	مادہ	سہ اقسام	شش اقسام	ہفت اقسام	نظیر	صیغہ	بحث	باب	قانون
لم حَشَرْتَني	حشر	فَعَلْتَ	حشر	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	ضربتَ	واحد مذکر مخاطب	ماضی معلوم	ن	توالی

لاتركعوا	تركعون	لاتفعلو	ركع	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	لاتفعلو	جمع مذكر	نهي معلوم	م	نون اعرابي توالي
ثَنيتْ	ثني	فُعِلتْ	ثني	فعل	ثلاثي مجرد	ناقص يائي	مُنعت	واحده مؤنث	ماضي مجهول	ن	ماضي مجهول ضربت
الخُبثُ	خَبثٌ	فُعلٌ	خبث	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	ظرف	جمع مذكر مكسر	صفة مشبه	ش	همزه وصلي اضافت حلقي العين
مَنْسَكا	نسک	مَفْعَلٌ	نسک	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	منصر	واحد	اسم ظرف	ن	اخفاء اظهار اللام
كفورٌ		فعولٌ	كفر	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	شكورٌ	مبالغه	اسم مبالغه	ن	
نَاسِكوهُ	ناسكون	فاعلوه	نسک	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	ضاربوه	جمع مذكر سالم	اسم فاعل	ن	اضافت
لاتخشَوهُ	تخشون	لاتفعلوه	خشي	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	لاتمنعوا	جمع مذكر حاضر	نهي معلوم	م	نون اعرابي توالي
القواعدُ	قَوَاعِدُ	فواعل	قعد	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	نواصر	جمع مؤنث مكسر	اسم فاعل	ن	مده زائده
رحمُوت		فعلوت	رحم	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	ملكوت	مبالغه	مبالغه	م	
ببالغيه	بالغين	فاعلينَ	بلغ	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	ناصرين	جمع مذكر سالم	اسم فاعل	ن	اضافت
مَفَاتِحهُ	مفاتح	مفاعل	فتح	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	معانع	جمع	اسم آله صغري	م	
فَلْيَحذَرُوا	يحذرون	فليفعلو	حذر	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	فليمنعوا	جمع مذكر غائبين	امر حاضر معلوم	ع	حلقي العين نون اعرابي
فَرِحُونَ		فعلون	فرح	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	حزنون	جمع مذكر سالم	صفة مشبه	ع	
ان يَحضرون		يفعلون	حضر	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	ان ينصرو	جمع مذكر غائبين	مضارع معلوم	ن	يرملون .توالي
فَمَكَرْتُ		فَعلتُ	تک	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	نصرت	واحدمتكلم	ماضي معلوم	ن	توالي

موزون	اصل	وزن	مادہ	سه اقسام	شش اقسام	هفت اقسام	نظير	صيغه	بحث	باب	قانون
السَحَرةُ	سَحَرَةُ	فعلة	سحر	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	منعة	مذكرمكسر	اسم فاعل	م	شمس قمري
خَزَنَتُها	خزنة	فعلة	خزن	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	منعة	جمع مذكرمكسر	اسم فاعل	ن	اضافة علثة

حمالة الحطب	حمالة	فعالة	حمل	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	طاهة	واحد	اسم مبالغه	ض	اضافت ملك
اعلم علم امر	أعلم	أفعل	علم	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	أضرب	واحدمتكلم	فعل مضارع	ع	اعلم تعلم توالي
اعلما	تعلمان	افعلا	علم	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	اضربا	تثنيه مذكر	امر حاضر معلوم	ع	امر حاضر. نون اعرابي. توالي همزه وصلي
اعلما	إعلمَن	افعلَن	علم	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	إضربَن	واحدمذكر	امر حاضر بانون خفيفه	ن	امر حاضر. نون اعرابي توالي همزه وصلي
اعلما	تعلمان	افعلا	علم	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	اضربا	تثنيه مؤنث	امر حاضر معلوم	ع	امر حاضر نون اعرابي. توالي همزه وصلي
اشكر	أشكرُ	أفعلُ	شكر	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	انصرُ	واحدمتكلم	فعل مضارع معلوم	ن	همزه قطعي .توالي
اشكري	أشكرِن	أفعلَ	شكر	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	أنصرِن	واحده مؤنث	امر حاضر مع بانون	ن	امر حاضر. توالي نون خفيفه
فلا تفضحون		لاتفعلون	فضح	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	لاتنصرو	جمع مذكر مخاطب	فعل نهي حاضر معلوم	م	نون اعرابي .دليل نون دوقاني ده توالي
شهداء		فعلاء	شهد	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	ظرفاء	جمع مذكر مكسر	صفة مشبه	م	
ضُرَّب		فُعَّل	ضرب	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	نُصَّر	جمع مذكر مكسر	اسم فاعل	ض	
شُرُف	شُرُف	فُعُل	شرف	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	شُهُد	جمع مذكر مكسر	صفة مشبه	ش	حلقي العين نون خفيفه عنديونس
نُصَّر		فُعَّل	نصر	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	ضُرَّب	جمع مذكر مكسر	اسم فاعل	ن	
نُصَّر		فُعَّل	نصر	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	ضُرَّب	جمع مذكر مكسر	اسم فاعل	ن	
نُصَّر		فُعَّل	نصر	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	ضُرَّب	جمع مذكر مكسر	اسم فاعل	ن	
حُسبانا	حسب	فعلان	حسب	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	ضربانٌ	جمع مذكر مكسر	اسم فاعل	ح	نون خفيفه عنديونس
طرقة		مفاعلة	فرق	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	مضاربة	جمع	اسم ظرف	ن	
لخزنة جهنم	خزنة	فعلة	خزن	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	ضربة	جمع مذكر مكسر	اسم فاعل	ن	اضافت ملك
مانعتهم	مانعة	فاعلة	منع	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	ضاربة	واحده مؤنث	اسم فاعل	م	اضافت .ضربت
اوتركتها	تركت	فعلت	ترك	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	ضربتُ	واحدمتكلم	اسم فاعل	ن	توالي
لكنود	كنود	فعول	كند	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	ضفور	واحد	اسم مبالغه	ض	

موزون	اصل	وزن	مادہ	سہ اقسام	شش اقسام	ہفت اقسام	نظیر	صیغہ	بحث	باب	تعلیل
ليعبدوا	ليعبدون	ليفعلو	عبد	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	لينصروا	جمع مذكر غائب	امر غائب معلوم	ن	حذف النون عن امر الي نوالي
خسار		فعّال	خسر	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	غفار	واحد	اسم مبالغه	ف	نون خفيفه تنوين
مقراض		مفعال	قرض	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	مضرابٌ	واحد	اسم آله	ن	نون خفيفه تنوين
هُمَزة		فعلة	همز	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	غيرمشهور	جمع مذكر مكسر	صفة مشبه	ف	عطف
الابتر		افعل	بتر	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	أضربُ	واحد	صفة مشبه	ض	همزه قطعيه
الخناس	خناس	فعّال	خنس	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	غفار	واحد	اسم مبالغه	ض	اضافة
مثقال		مفعالٌ	ثقل	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	مضراب	واحد	اسم آله	ض	
شهود		فعول	شهد	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	غفور	واحد	اسم مبالغه	م	
ضبحت	ضابحات	فاعلات	ضبح	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	ضاربات	جمع مؤنث سالم	اسم فاعل	ض	ضربن ضربت.
قسيسين		فعّيلين	قس	اسم	ثلاثي مجرد	مضاعف ثلاثي	غيرمشهور	جمع	اسم مبالغه	ض	الف تثنيه
تحبونها		تفعلون	حبب	فعل	ثلاثي مجرد	مضاعف ثلاثي	تمدون	جمع مذكر مخاطب	فعل مضارع معلوم	م	توالي
شفعاء لهم		فعلاء	شفع	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	شهداء	جمع مذكر مكسر	صفة مشبه	م	
ركّعا		فعّل	ركع	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	ضُرّب	جمع مذكر مكسر	اسم فاعل	م	
ولقد علموا	علموا	فعلوا	علم	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	حسبوا	جمع مذكر غائب	فعل ماضي معلوم	ع	حلق العين
بالغيه	بالغين	فاعلين	بلغ	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	ناصرين	جمع مذكر سالم	اسم فاعل	ن	الف تثنيه اضافت اسم فاعل
القواعد		فواعل	قعد	فعل	ثلاثي مجر	صحيح	نواصر	جمع مؤنث مكسر	اسم فاعل	ن	مده زائده

موزون	اصل	وزن	مادہ	سہ اقسام	شش اقسام	ہفت اقسام	نظیر	صیغہ	بحث	باب	فوائد
یاصاحبی السجن	صاحبین	فاعلین	صحب	اسم	ثلاثی مجرد	صحیح	ناصرین	تثنیہ مذکر	اسم فاعل	م	اضافت الف تثنیہ اسم فاعل
تخطفہ	تخطف	تفعل	خطف	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	تسمع	واحدہ مؤنثہ غائبہ	مضارع معلوم	س	توالی
لبث	لبث	فعل	لبث	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	علم	واحد مذکر غائب	فعل ماضی معلوم	م	حلقی العین
ولاتقہر	ان لاتقہر	لاتفعل	قہر	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	لاتضرب	واحد مذکر مخاطب	فعل نہی معلوم	ع	ہمزہ قطعیہ یرملون توالی
اراذلنا		افاعلنا	رذل	اسم	ثلاثی مجرد	صحیح	اضارب	جمع مذکر	اسم تفضیل	ض	ہمزہ قطعیہ
تعجبین	تعجبین	تفعلین	عجب	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	تسمعین	واحدہ مؤنث مخاطب	فعل مضارع معلوم	م	توالی
مشربہم	مشربٌ	مفعل	شرب	اسم	ثلاثی مجرد	صحیح	مضرب	واحد	اسم ظرف	م	اسم ظرف توالی
لنسفعا	لنسفعن	لنفعلن	سفع	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	لنمنعن	متکلم مع الغیر	فعل مستقبل معلوم	م	توالی
تشربا	تشربان	لتفعلا	شرب	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	لتمنعا	تثنیہ مذکر	امر حاضر مجہول	م	نون اعرابی توالی
نتقنا	نتقنا	فعلنا	نتق	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	ضربنا	متکلم مع الغیر	فعل مضارع معلوم	ض	توالی
انظرونا	تنظرونا	افعلو	نظر	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	انصروا	جمع مذکر مخاطب	امر حاضر معلوم	ن	امر حاضر، اخفاء اظہار، ہمزہ وصلی نون اعرابی، توالی۔
تارکی آلہتنا	تارکون	فاعلون	ترک	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	ناصرین	جمع مذکر سالم	اسم فاعل	ن	الف تثنیہ اسم فاعل
تمنّن		تفعلن	منن	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	ظلمتن	جمع مؤنث مخاطبات	فعل ماضی معلوم	ح	اخفاء توالی
اکابر مجرمیہا		افاعل	کبر	اسم	ثلاثی مجرد	صحیح	اضارب.	جمع مذکر	اسم تفضیل	ف	
ننظر		نفعل	نظر	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	ننصر	متکلم مع الغیر	فعل مضارع معلوم	ح	اخفاء توالی
فما اصبرہم		ما افعل	صبر	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	ما اضرب	واحد	فعل تعجب	ض	ہمزہ قطعیہ .توالی.
النفر	نفر	فعل	نفر	اسم	ثلاثی مجرد	صحیح	شرف	جمع مذکر مکسر	صفت مشبہ	ن	اضافت شمسی قمری
الخراصون		فعالون	خرص	اسم	ثلاثی مجرد	صحیح	فہامون	جمع	اسم مبالغہ	ض	
لتلفتنا		لتفعلنا	لفت	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	لتضربنا	واحد مذکر مخاطب	فعل مضارع معلوم	ض	توالی
المصدقون		فعالون	صدق	اسم	ثلاثی مجرد	صحیح	غیر مشہور	جمع	اسم مبالغہ	ض	شمسی .قمری.

الزارع	زراع	فعال	زرع	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	ضُرّاع	جمع مذكر مكسر	اسم فاعل	م	قمسي قري اضافت
رافدات	راف دات	فاعلات	رفد	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	ضاربات	جمع مؤنث سالم	اسم فاعل	ض	ضربن، ضربت

. فائدة: لَنَسْفَعاً كي نون خفيفه دتنوين په شكل ليكل سوي ده فعل مستقبل ده علامه دلام تاكيده او فحواء دكلام ده او داچي نون خفيفه په شكل دتنوين كي ليكل سوي په قرآن كريم كي دوه ځايه دي يو دغه په سورة علق كي اوبل په سورة يوسف كي لَيَكُوْنًا دلته هم دتنوين په شكل ليكل سوي ،فافهم.ی

موزون	اصل	وزن	ماده	سه اقسام	شش اقسام	هفت اقسام	نظير	صيغه	بحث	باب	قانون
كَبُرت		فعلت	كبر	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	ضرفت	واحدمؤنثه غائبه	ماضي معلوم	ك	ضربت
رُفُودٌ		فعول	رفد	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	ضروبٌ	جمع مذكرمكسر	اسم فاعل	ض	نون خفيفه متنوينس
شَرُفَ		فَعُل	شرف	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	كرم	واحدمذكرغائب	فعل ماضي معلوم	ك	
شَرُفَ		فعل	شرف	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	كرم	واحد	فعل تعجب	ك	
بُعثِرَ		فعلل	بعثر	فعل	رباعي مجرد	صحيح	دحرج	واحدمذكرغائب	فعل ماضي معلوم	دحر	ماضي مجهول
أصلَحُ		افعل	صلح	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	اضرب	واحدمذكر	اسم تفضيل	م	همزه قطعه توالي
صُلّحٌ		فُعّلٌ	صلح	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	ضرّبٌ	جمع مذكرمكسر	اسم فاعل	م	
صُلّحٌ		فُعّل	صلح	اسم	ثلاثي مجرد	صحيح	ضُرّبٌ	جمع مؤنث مكسر	اسم فاعل	م	
كَبُرن	كبرتن	فعلن	كبر	فعل	ثلاثي مجرد	صحيح	نصرن	جمع مونث غائبات	فعل ماضي معلوم	ك	ضربن؟ توالي
رُفِعن	رُفعتن	فُعلن	رفع	فعل	ثلا ثي مجرد	صحيح	منعن	جمع مؤنث غائبات	فعل ماضي مجهل	م	ماضي مجهول
لازِمَاتٌ	لازمتاتٌ	فاعلات	لزم	اسم	ثلا ثي مجره	صحيح	ضاربات	جمع مؤنث سالم	اسم فاعل	ض	ضربن ا ضربت
لن يَجلِسَ	لن يجلس	لن يفعل	جلس	فعل	ثلا ثي مجره	صحيح	لن يضرب	واحدمذكرغائب	فعل نفي مؤكدبلن	ض	يرملون ضربن.
لاتَلبِسُوالحق	تلبسون	لا تفعلو	لبس	فعل	ثلا ثي مجرد	صحيح	لاتضربوا	جمع مذكرمخاطب	فعل نهي معلوم	ض	نون اعرابي .التقاء ساكنين توالي
اِضرِبَا	تضربان	افعلا	ضرب	فعل	ثلا ثي مجرد	صحيح	احسبا	تثنيه مذكر	فعل امرحاضر	ض	همزه وصلي توالي

											امر حاضر نون اعرابی
اضربا	تضربان	افعلا	ضرب	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	احسنا	تثنیہ مؤنث	فعل امر حاضر معلوم	ض	ہمزہ وصلی توالی امر حاضر نون اعرابی
اضربنْ	اضرب	افعلن	ضرب	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	احسنْ	واحد مذکر	امر حاضر بانون خفیفہ	ض	ہمزہ وصلی توالی امر حاضر نون خفیفہ

صیغہ	اصل	وزن	مادہ	سہ اقسام	شش اقسام	ہفت اقسام	نظیر	صیغہ	بحث	باب	قانون
ساجدۃ	ساجد	فاعلۃ	سجد	اسم	ثلاثی مجرد	صحیح	ناصرۃ	واحدہ مؤنث	اسم فاعل	ن	ضربت تانیث، اسم فاعل۔
حفظت		فعلت	حفظ	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	علمت	واحدہ مؤنث غائبہ	ماضی معلوم	ع	ضربت
شہدتم	شہدتم	فعلتم	شہد	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	علمتم	جمع مذکر مخاطبین	ماضی معلوم	ع	حلقی العین اشم ضربتم توالی وعدت
کفروا	کفرو	فعلو	کفر	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	نصروا	جمع مذکر غائبین	فعل نفی مجہول	ع	توالی مضارع مجہول
لایعلمون		لایفعلون	علم	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	لایمنعون	جمع مذکر غائبین	فعل نفی مجہول	ع	توالی مضارع مجہول
حامدٌ	حامدٌ	فاعلٌ	حمد	اسم	ثلاثی مجرد	صحیح	ضاربٌ	واحد مذکر	اسم فاعل	ض	نون خفیفہ تنوینی
ضویربۃ	ضاربۃ	فویعلۃ	ضرب	اسم	ثلاثی مجرد	صحیح	نویصرۃ	واحدہ مؤنث مصغر	اسم فاعل	ض	مدہ زائدہ تانیث۔
عوالم	عالمۃ	فواعلُ	علم	اسم	ثلاثی مجرد	صحیح	موانع	جمع مؤنث مکسر	اسم فاعل	ع	مدہ زائدہ
موزونٌ		مفعول	وزن	اسم	ثلاثی مجرد	مثال	مضروبٌ	واحد مذکر	اسم مفعول	ض	اسم مفعول
العالمُ		فاعلٌ	علم	اسم	ثلاثی مجرد	صحیح	ضاربٌ	واحد مذکر	اسم فاعل	ع	اسم فاعل
اضربوا	تضربون	افعلوا	ضرب	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	احسبوا	جمع مذکر حاضر	امر حاضر معلوم	ض	امر حاضر ہمزہ وصلی توالی نون اعرابی
اضربی	تضربین	افعلی	ضرب	فعل	ثلاثی مجرد	صحیح	احسبی	واحدہ مؤنث	امر حاضر معلوم	ض	امر حاضر ہمزہ وصلی توالی نون اعرابی
اضربِنْ	اضربن	افعلن	ضرب	فعل	ثلاثی	صحیح	احسن	واحدہ مؤنث	امر حاضر معلوم بانون تاکید خفیفہ	ض	نون خفیفہ

					مجرد						امر حاضر [illegible]
إضربنّ	اضربْنَ	افعُلْنَ	ضرب	فعل	ثلاثي مجرد	صحیح	احسبن	جمع مذكر	امر حاضر معلوم بنون ثقيله	ض	[illegible]
لن ينصرا	ينصران	لن يفعلا	نصر	فعل	ثلاثي مجرد	صحیح	لن يمنعا	تثنيه مذكر غائبين	نفي مؤكد بلن	ن	[illegible]
فلتنصبْ	انصب	فافعل	نصب	فعل	ثلاثي مجرد	صحیح	فلتمنع	واحدمذكر	امر حاضر معلوم	ع	امر حاضر [illegible]
مَوْعِدٌ		مفعل	وعد	اسم	ثلاثي مجرد	مثال	موجل	واحد	اسم ظرف	ض	اسم ظرف [illegible]
مَفَاتِيْحُ		مفاعيلُ	منع	اسم	ثلاثي مجرد	صحیح	مضاريب	جمع مؤنث مكسر	اسم آلة	م	ضروب مضارب
ضُرَيْبَاتٌ		فُعَيْلات	ضرب	اسم	ثلاثي مجرد	صحیح	عليمات	جمع مؤنث	اسم تفضيل	ض	الف مقصورة
وَهَمَ	وهم	فعل	ثلاثي مجرد	فعل	ثلاثي مجرد	صحیح	ضرب	واحدمذكرغائب	ماضي معلوم	ض	حلقي العين
افْهَمْ بيرامر	افهم	افعل	فهم	فعل	ثلاثي مجرد	صحیح	اعلم	واحدمتكلم	مضارع معلوم	م	اعلم نعلم [illegible]
نَصَائِحُ	نصايحُ	فعائل	نصح	اسم	ثلاثي مجرد	صحیح	غرائف	جمع مكسر	صفة مشبه	ض	غرائف

قوانین مزیدات

بسم الله الرحمن الرحيم

دلته بناگاني نورنه ذکرکوو دضرب دباب له بناء څخه نوري بناگاني خپل معلوميږي.

(قانون ۲۶: دهمزه وصليه همزه قطعيه والا)

هره همزه وصليه که واقع شوددراول کلمه وصلي باشد يا قطعي .حکم وصلي اين که دردرج کلام بمتحرک شدن مابعد بيفتد .وحکم قطعي عکس اين است .وهمزه قطعي سه يازده باشد همزه باب افعال .وواحدمتکلم واسم تفضيل .وجمع .واعلام .وبناء .وفعل تعجب .واستفهام .وندا .واسماء وصفت مشبه .ولفظ البتة .وهمزه لفظ الله باياد نداء وماسوا ايشان وصلي است .

تشريح : ددي قانون نوم همزه وصليه همزه قطعيه والاقانون دي ددي لپاره دوه حکم دي دااول حکم لپاره دوه کامل شرطونه اوددوهم لپاره يو شرط ده .اول حکم دهمزي وصلي لپاره اودوم دهمزه قطعي لپاره دی.

خلاصه هرهمزه چي په شروع کي راشي هغه به يا وصلي يا قطعي وي دوصلي حکم دادی چي په درج کي راسي يائي مابعد متحرک سي نو حذف کيږي اوقطعي په هيڅ حال کي نه حذف کيږي اوهمزه قطعي پرديارلس قسمه ده : اول همزه دباب افعال لکه اکرم .اودوهم واحدمتکلم لکه أَضربُ ا .دريم داسم تفضيل أَضربُ، څلورم دجمع اقوالٌ ، پنځم داعلام نومونه دانسانانو لکه ابراهيم ، شپږم دمبنيا تو لکه انّ انت .اووم دفعل تعجب لکه ماأضربه ، اتم داستفهام ، لکه اعبدالله ، نهم داسماؤ ،يعني دعاموشيانو نومونه لکه ابريق، داويو جيک ابريسم .لسم صفة مشبه لکه اسوداحول .يوولسم دلفظ البتة دوولسم دنداء همزه .ديارلسم .دلفظ دالله ج ، چي له ياحرف نداسره راسي لکه ياالله .دادالله ج صرف ددغه نوم خصوصيت ده لکه نورخصوصيات چي هم لري مثلاله ياء څخه عوض په آخرکي ميم مشدده هم راتلی سي.

فائدة : دهمزه وصلي تعريف .تثبت في الابتداء وتسقط في الدرج .فائدة همزه وصليه اوقطعيه دواړه دهمزه زائداقسام دي.

(۱) حکم دهمزه وصليه دپاره ده همزه وصليه حذف کول واجب ده

اول شرط : همزه وصليه به په درج دکلام کي وي يعني بل حرف به ورسريوځاي سوي وي احترازي مثال اضرب دلته په درج کي نه ده اتفاقي مثال واضر .فاضرب.

دوهم شرط ، دهمزه وصلي مابعد به متحرک سوي وي احترازي مثال اضرب اتفاقي مثال سَل
په اصل کي اسئل وو بيائي دهمزي حرکت سين ته ورکړه نو همزه هم حذف سوا و دا په شروع
کي وصلي همزه هم حذف سو دا سي حصّم وغيره.

(۲) حکم همزه قطعيه پر خپل حال هميشه ثابت پرېښول واجب ده .

اول شرط : همزه به قطعيه وي وصليه به نه وي احترازي مثال واضرب دلته وصلي ده اتفاقي
مثال اکرم .

(ددې قانون اجراء)

دا قانون په اسماؤ افعالو کي ، حروف په دروسره وو کي جاري کيږي څکه د حروفو وزن صرفين
نه راباسي لکه چي ذکر سو .

فائدة : همزه وصلي صرف په لفظ کي حذف کيږي نه په رسم خط کي مګر يو څو ځايه دي چي په
رسم خط کي هم حذف کيږي .

اول چي پر همزه وصليه چي لام جاره داخل سي لکه للخير په اصل کي ل الخيرو و.

دوهم : چي له همزي استفهام ورسته به همزه وصليه مکسوره وي لکه اصطفي البنات
، اتخذناهم ، استغفرت.

دريم : چي پر همزه وصليه باندي ، فا ، داخل وي اوله همزي ورسته بله همزه وي لکه فائتنا .

څلورم : چي پر همزه وصليه باندي واو داخل وي اوله همزي ورسته بله همزه وي لکه وأتمروا په
اصل کي ائتمروا وو .

پنځم : چي دهمزي قرأت ويل د مابعد د متحرک کيدو څخه ساقط سوي وي لکه سلوني .

شپږم: چي دداسي په وجه په درج کي همزه راغلي وي چي دا ورسته کلمه ئې په منزله دجزء
ګرځيدلي وي لکه له اکتسب څخه يکتسب.

اووم : چي همزه په کثير الاستعمال کلمه کي راسي لکه ، بسم الله الرحمن الرحيم ، بسم الله
مجرها.

اتم : چي لام تاکيد پر همزه وصليه داخل سي نو په اسم کي همزه له کتابت څخه حذف کيږي نه
له فعل څخه لکه وللآخرة للهدي د فعل مثال لاانفضوا.

نهم : دلفظ ابن همزه چي په مابين ددوو اسمونو کي راسي لکه محمد بن اسمعيل بن ابراهيم .
فائدة : داذکرسوه چي دقرآن رسم خط له قانون وتلي ده نو ځکه کله کله همزه قياس پرلفظ سي او خط ځخه حذف سي لکه فسئلوهم .

قانون ۲:........ ۲۷) دیُکرمُ یَصَرِّفُ والایادچهارحرفي والایادمضارع معلوم اول

هرباب کي ماضي اوچهارحرفي باشددرمضارع معلوم اوحرف اتين راحرکت ضمه مي دهندوجوباً .

تشريح : ددې قانون نوم دیُکرم ،یُصَرِّفُ،والایادچهارحرفي والایادمضارع معلوم اول قانون ده ددې لپاره يو حکم يو شرط ده ،

خلاصه :هرباب چي ماضي ئې ځلورحرفيزه وي نوپه مضارع معلوم کي وحرف مضارعت ته ئې ضمه ورکول واجب دی.

فائدة فرق به ئې په ماقبل اخرسره کيږي يعني که ئې ماقبل آخرمکسوروو معلومه صيغه اوکه مفتوح وومجهوله ده .

حکم :په مضارع معلوم کي حرف مضارعت ته ضمه ورکول واجب ده

اول شرط: داسي باب به وي چي ماضي ئې پرځلورحرف وي احترازي مثال يضرب،ينصرف ،دلته ئې ماضي پرځلورحرف نه ده اتفاقي مثال له أکرم ،صرّف،ضاربٌ ،دحرج ،ځخه یُکرمُ ،یُصرف،یُضاربُ،یُدحرِجُ،ويل واجب ده .

(ددې قانون اجراء)

داقانون په ځلوروبابوکي درې دثلاثي مزيدافعال ،تفعيل ،مفاعلة،اويودرباعي مجردفعللة کي دمضارع معلوم په صيغوکي اوچي له مضارع معلوم جوړوي لکه جحدمعلوم ،ماسواله امرحاضرمعلوم اوچي په يوکلمه کي داعلم تعلم نعلم ،والاقانون جاري سي داقانون بيانه جاري کيږي .

فائدة : داقانون که په هره صيغه کي جاري سودیُکرم يتصرّف والاقانون به خامخاکي جاري کيږي .

فائده: له دغه قانون ورسته چي دماضي دوه قانونان ذکردي ،دي ته ضرورت نسته ځکه مروړدي قانون ذکرکړي چي هغه مغني ده له داټولو څخه .

سوال: په دغو بابونو کي ولي حرف مضارعت ته ضمه ورکول کیږي ؟

جواب: ځکه کي فتحه ورکړي واي له یضرب مجرد سره ئې التباس راتلی .

سوال: التباس خوصرف د افتعال په باب کي راتلی دانوروته ئې ولي ضمه ورکړه ؟

جواب: هغه نورپردي حمل دي .

سوال: حمل خو وائې یو شی دبل شی په حکم کي کول چي یو څه مناسبت سره لري دلته مناسبت څه شی دی ؟

جواب: مناسبت ئې په څلورحرفیز والي دماضي کي دی .

سوال: قانون خو داده چي لږپرډیر حمل کیږي تاډیرپرلږ حمل کړي دی ؟

جواب: کله کله ډیرهم پرلږ حمل کیږي .

(قانون ۳........ ۲۸) دیُکرِم ،یتصرّف والایادتاء زائده مطرده والادمضارع معلوم دوهم .

هرباب که دراول ماضي اوتاء زائده مطرده باشد درمضارع معلوم اوماقبل آخررابرحال مي دارندوجوباواگرتاء زائده نباشد کسره کي دهندسوائي ابواب ثلاثی مجرد .

تشریح : ددي قانون نوم دیُکرِمُ ،یتصرفُ والایادتاء زائده مطرده والایادمضارع معلوم دوهم قانون دي ددي لپاره دوه حکم دي دهرحکم لپاره یویو شرط ده .

خلاصه : هرباب چي دماضي په شروع کي تاء زائده مطرده وي ،یعني چي په ټول باب کي زائده وي ،په مضارع معلوم کي ماقبل پرخپل حال پریښول کیږي یعني لکه په ماضي کي چي وو،اوتاء زائده مطرده نه وه نوماقبل آخرته کسره ورکول کیږي بیله ابواب دثلاثي مجرد .

(۱) **حکم :** په مضارع معلوم کي ماقبل آخرپرخپل حال پریښول واجب دي .

اول شرط: په ماضي کي به ئې تاء زائده مطرده وي ،احترازي مثال یصرّف دلته نسته اتفاقي مثال له تصرّف څخه یتصرّف ویل واجب ده .

(۲) **حکم** : بغير له بابو د ثلاثي مجرد په نورو بابو کي د مضارع ماقبل آخر ته کسره ورکول واجب دي.
اول شرط : په ماضي کي به ئې تاء زائده مطرده نه وي احترازي مثال يتصرف دلته تاء زائده مطرده سته ،اتفاقي مثال له أکرم څخه يکرم ويل واجب دي ،

(ددي قانون اجراء)

دا قانون د مضارع معلوم او چي له ده څخه جوړ وي په ټولو بابو کي له ثلاثي مجرد ماسوا جاري کيږي اول حکم ئې په تفعل ،تفاعل ،تفعلل، او بل حکم ئې په باقي ابوابو کي جاري کيږي.

(قانون ۴ .... ۲۹) دتتصرف ،تتدحرج ،تتضارب والايادتاء مضارعت والايادمضارع معلوم دريم قانون .

هر تاء مضارعت که داخل شود برتاء تفعل ،ياتفاعل ،ياتفعلل، درمضارع معلوم او حذف يکي جائز است .

تشريح : ددې قانون نوم دتتصرف ،تتدحرج تتضارب ،والايادتاء مضارعت والايادمضارع معلوم دريم قانون دئ ددې لپاره يو حکم يو شرط دی .

خلاصه :هرتاء مضارعت چي داخله سي پرتاء دتفعل تفعلل باندي داخله سوي وي احترازي مثال تصرف دلته تادمضارعت نسته اتفاقي مثال له تتصرف ،تتضار ب ،تتدحرج څخه تصرفُ ،تضاربُ ،تدحرجُ و يل جائز دي .

اول شرط: تاء دمضارعت به پرتاء دتفعل،تفاعل ،تفعلل،باندي داخله سوي وي احترازي مثال تصرف دلته تادمضارعت نسته اتفاقي مثال له تتصرف تتضارب ،تتدحرج ،څخه تصرف ،تضاربُ ،تدحرج،ويل جائز دی .

فائدة: که ته وائې چي بيابه ئې له ماضي څخه فرق په څه شي کوونو فرق ئې په آخر حرف کيږي يعني پرآخر د مضارع ئې ضمه او ماضي پر آخر فتحه بنائي وي او که يو ځای د مضارع په آخر کي الف راغلي وو بيائې فرق په معني کيږي او په مقام ۰

(ددې قانون اجراء)

داقانون په مضارع معلوم اوچې څنې جوړوي سو اله امرحاضرد تفعل ،تفاعل ،تفعلل ،په با ب کي جاري کيږي .

سوال: په مضارع معلوم کي له دووتا څخه ولي يوه حذف کيږي ؟

جواب: ځکه دامستلزم وثقل ته دي نو که څه هم وجوباخونه حذف کيږي ليکن جائز دي .

سوال: په مضارع مجهول کي ولي تانه حذف کيږي ؟

جواب: ځکه هلته بياالتباس راځي ځکه خوکه اوله تاءحذف کړي له مضارع معلوم سره ئې التباس راځي اوکه دوهمه تاحذف کړي خو،تُدحرج ،تُصرف،تُضارب،به سي دتضارب التباس له مضارع مجهول باب مفاعله سره راځي اودتصرف التباس له مجهول باب تفعيل سره اودتدحرج التباس دفعللة دمضارع مجهول سره راځي .

(الاختلاف)

فائدة: علامه ابن هشام اوکوفيين پرمذهب په مضارع معلوم کي اوله تاحذف کيږي ،نه دوهمه تاء ځکه دوهم علامه ده والعلامة لاتحذف اودسيبويه اوبصريين پرمذهب دوهمه تاء حذف کيږي ځکه اوله علامه دمضارع ده والعلامة لاتحذف ،اوس نودواړي پرځپل حال پريښول هم جائز دي اويوحذف کول هم جائز دي ،اوپه قرآن کريم کي دواړي طريقي راغلي دي :تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ : فَانْتَ لَهُ تَصَدّي .(انوارالاشرفيه جاربردي.)

(قانون ۵.....۳۰) داتّقداتّسروالاياداتّخذيتّخذوالا

هرواو ،وياء غير بدل ازهمزه که واقع شودمقابله فاکلمه باب افتعال ،ياتفاعل، ياتفعّل ،آن رتاکرده تادرتاادغام کنندوجوبابراکثرلغت اهل حجاز درافتعال وربعض لغت اهل حجاز در تفعل وتفاعل مگراتخذيتخذ شاذ است .

تشريح: ددې قانون نوم داتّقداتّسروالاياداتّخذيتّخذوالاقانون دي ددې لپاره يوحکم دوه ناقص شرطونه دي .

خلاصه :هرواو ،وياء چي له همزي بدل نه وي اوپرفاکلمه دباب افتعال ،ياتفعُل،ياتفاعل راسي ،هغه واو ،ويايه تابدلول اوتاء په تاء کي مدغمول واجب دي ،ليکن په باب دافتعال

کي پر اکثر لغت داهل حجاز په تفعل او تفاعل. کي پر بعض لغت داهل حجاز او اتخذ یتخذ شاذ ده .ځکه داپه اصل کي پر منصور مذهب باندي ائتخذ وو بیائې همزه په یا بدله کړه یائې په ت. بدله کړه تاء ئې په تاء کي مدغمه کړه .

حکم: فاء دافتعال ،تفاعل ،تفعل ،په بدلول او تاء په تاء کي مدغمول واجب دي .عنداهل الحجاز اکثرا وبعضا.

اول پرفاء دافتعال یاتفعل ،یاتفاعل ،به واو یا ،راغلي وي احترازي مثال اکتسب ،تکتسب ،تکاسب ،دلته پرفاء باندي کاف راغلي دی .

دوهم شرط: داواو ،یابه بدل له همزه نه وي احترازي مثال یومن ،ایمانا ،دلته بدل له همزي دي په اصل یؤمن ائمانا وو .اتفاقي مثال له أوتعد ،ایتسر ،ځکه اتّعد اتّسر ویل واجب دی .

فائدة : داقانون بعض علماء دمثالو په قانوناتو کي ذکر کوي .

(ددې قانون اجراء)

داقانون صرف دثلاثي مزید فیه په دروبابو کي جاري کیږي افتعال ،تفعل،تفاعل ،خو په دې شرط چي په هفت اقسامو کي به مثال وي یالفیف مفروق ،یعني پرفاکلمه به ئې واو یا یاء وي

فائده : اتخذ یتخذ شاذده ،ځکه داپه اصل کي پر منصور مذهب باندي ائتخذ وو بیائې همزه په یابدل کړه یائې په تابدله کړه تاء په تاء کي مدغمه کړه ،خو په دې کي درې مذهبه دي.

اول : په اصل کي تخذَ وو بیاچي ئې دافتعال باب ځني جوړوي یوئې تادافتعال باب ځني جوړوي یوئې تادافتعال ورته راوړه بیائې تاپه کي مدغم کړه لکه داچي دعلامه بیضاوي مسلک دی لیکن داکمزوري ده ځکه په اتّزر کي هم داادغام سوی دی.اوحال داچي هغه معلوم ده چي په اصل کي ائتزر وو له ازار ځخه ده نوښه داده چي اتخذ او اتّزر دواړه شاذدي .(الانوارا شرفیه ،بستاني مطبع دهلي :ج ۱:ص ۴۲: حاشیه ۱۴منجدبحث ازروغیره من الکتب.)

دوهم : په اصل کي اخذده او أخذ په اصل کي وَخَذ وو بیائې واو خلاف القیاس په همزه بدل کړ لکه له وَحدٌ ،وناةٌ ،وجم ،وکدٌ ،ځخه أحد ،اناة ،اجمٌ ،اکد ،ویل کیږي.

دریم : په اصل کي أخذ دی لکه په متن کي چي ذکر دي او دامنصور مذهب دی.

(قانون ۶...... ۳۱) داسمع ،اشبه والایادسین شین والا

اگریکي ازسین وشین واقع شود مقابله فاءکلمه باب افتعال تائي وي راجنس فاءکلمه کرده جوازب جنس رادرجنس ادغام مي کنندوجوباً .

تشریح : ددې قانون نوم داسمع ،اشبه والایادسین شین والاقانون ده ددې لپاره یو حکم یوشرط ده .

خلاصه : که پرفاء دافتعال سین یاشین راغلي نوتادافتعال له جنس دفاءکلمي کول جائز اوجنس په جنس کي مدغمول واجب دي ،

حکم: تاء دافتعال له جنسه دفاء کرځول جائز اوجنس په جنس کي مدغمول واجب دي .

شرط: پرفاء دافتعال چي سین یاشین راغلي وي احترازي مثال اکتسب ،اجتهد ،دلته پرفاء کلمي کاف اوجیم راغلي ده ،اتفاقي مثال له استمع اشتبه څخه اسمع ،واشبه ویل واجب دی.

فائدة :بعض علماء داحکم په جیم اومیم کي هم بولي مثلاله اجتمع اوله امتنع څخه امّنع وائي نودقانون په عبارت کي بیاداالفاظ بایدراوړل سي ،ودرجیم ومیم نزدبعض .

(ددې قانون اجراء)

داقانون صرف په باب افتعال کي چي پرفاء ئې سین یاشین راغلي وي جاري کیږي.

فائدة : دلته بعض علماء شارحین په حواله درضي داخبره ذکرکوي چي په دې قانون کي دوه شاذراغلي دي یوداچي دحرف صفیرادغام په غیرصفیرکي سوي دی اوبل داچي ادغام داول په دوهم کي اودلته برعکس دي ،لان لایفوت فضیلة الصفیر.

(قانون ۷..... ۳۲)داطّلم ،اظّلم والایادطاء ،ظاء صاد،ضاد،والا

اگریکي ازصاد ،ضاد ،طا،ظا.واقع شوددرمقابه فاءکلمه افتعال تاءوی راطاکنندوجوباپس اگرمقابله فاءکلمه طااست ادغام واجب است واگرظااست اظهاریک طرفه وادغام دوطرفه یعني طاء راظاء کردن وعکس اوجائز است واگرصاد ،ضادباشد ادغام واظهاریک طرفه یعني طاراصادضادکردن جائز است ونه عکس او .

تشريح : ددې قانون نوم داطّلم ،اظّلم ،والايادطاء،ظاء ،صاد ،ضاد، والاقانون ده ددې لپاره ځلور حكمونه اودهر حكم لپاره يويو شرط ده ،اول حكم ئې عام ده يعني د ځلوروسره ووحرفو لپاره اودانورئې خاص دي يعني ديوه يوه حرف لپاره دي اواول دوه حكمونه وجوبي اوآخردوه حكمونه جوازي دي.

خلاصه : كه فاء دافتعال باندي طاء ،ظاء ،صاد ،ضاد ،څخه يوحرف راغلوتادافتعال په طا بدلول واجب ده ،كه پرفاكلمه باندي طاء وه بياادغام واجب ده ،اوكه پرفاكلمه ظاء وه اظهاريوطرف يعني پرخپل حال چي صرف اول حكم پكي جاري سي اوادغام دوطرف يعني طاپه ظاء بدلول اوعكس ئې جائز ده اوكه پرفاكلمه صاد ،ياضادراغلي وونواظهارهم يک حرف اوادغام هم يک حرف كول جائز ده،يعني طاپه صاد اوضاد سره بدلول جائز دي اوعكس ئې نه ده جائز .

(۱) حكم عام : تادافتعال په طابدلول واجب دي.

اول شرط : پرفاء دافتعال به له داځلوروحرفويوحرف راغلي وي ،طاء ظاء صاد ،ضاد .احترازي مثال اكتسب ،دلته پرفاءكلمه كاف ده اتفاقي مثال له اطتلم ،اظتلم ،اضتبر،اصتبر، څخه ،اططلم، اظطلم ،اضطبر ،اصطبر،ويل واجب دي .

(۲) حكم: طاءپه طاءمدغمول واجب دي .

اول شرط: پرفاء دافتعال به طاء راغلي وي احترازي مثال اكتسب دلته پرفاءكلمه كاف ده اتفاقي مثال له اططلم څخه اطّلم ويل واجب دي.

(۳) حكم : اظهاريک طرفه ادغام دوطرفه جائز ده.

اول شرط: پرفاء دافتعال به ظاء راغلي وي ،احترازي مثال اكتسب دلته پرفاكلمه كاف ده اتفاقي له اظطلم څخه اطّلم ،اظّلم ،اواظطلم ويل جائز ده .

(۴) حكم : اظهارهم يک طرفه ادغام دوطرفه جائزده .

اول شرط : پرفاء دافتعال به صاد ياضاد راغلي وي ،احترازي مثال اكتسب دلته پرفاكلمه كاف ده اتفاقي مثال له اصطبر ،اضطبر څخه اصّبر اضّبر .ويل اواصطبرويل جائز دي.

(ددې قانون اجراء)

داقانون صرف دافتعال په باب كي جاري كيږي،چي شرطونه ئې پكي موجودسي .

(قانون ۸.... ۳۳) داد ّكر اذ كر والاقانون يا ددال ذال والا

اگر يكي از دال ،ذال ،زاء واقع شود مقابله فاكلمه باب افتعال تائي وي را دال كرده وجوبا و در دال ادغام مي كنند وجوبا و ذال مثل ظاء و زاء مثل صاد ،ضاد است .

تشريح : ددي قانون نوم دادّكر ،اذّكر والاقانون يا ددال ذال والاقانون ده ددي لپاره څلور حكمه دي اول حكم عام ده يعني ددرو سرو حروفو لپاره ده او دانور خاص دي ديوه يوه حرف لپاره دي وهر حكم لپاره يو يو شرط ده اول دوه حكمونه وجوبي دانور جوازي دي .

خلاصه كه پرفا دافتعال باندي دال ،ذال زاء څخه يو حرف راغلو تادافتعال په دال بدلول واجب دي كه پرفا كلمه باندي دال وه بيا ادغام واجب ده اوكه پرفا كلمه ذال وه اظهار يو طرف يعني پرځپل حال چي صرف اول حكم پكي جاري سي او ادغام دوطرف يعني دال په ذال بدلول اوعكس ئي جائز ده اوكه پرفا كلمه زاء راغلي وونو اظهار هم يک طرف او ادغام هم يک طرف كول جائز دي ،يعني دال په زاء سره بدلول جائز دي .اوعكس ئي نه ده جائز .

(۱) حكم : عام ،دافتعال په دال بدلول واجب ده .

اول شرط : پرفاء دافتعال به له دادرو حرفو څخه يو حرف راغلي وي ،دال ،ذال ،زاء ،احترازي مثال اكتسب دلته پرفا كلمه كاف ده اتفاقي مثال له ادتكر ،اذتكر ،ازتجر ،څخه اددكر ،اذدكر ،ازدجر ويل واجب ده .

(۲) حكم : دال په دال كي مدغمول واجب دي .

اول شرط : پرفاء دافتعال به دال راغلي وي احترازي مثال اكتسب دلته پرفاء كلمه كاف ده اتفاقي مثال له اددكر څخه ادّكر ويل واجب ده .

(۳) حكم : اظهار يک طرفه ادغام دو طرفه جائز ده .

اول شرط : پرفاء دافتعال به ذال راغلي وي ،احترازي مثال اكتسب دلته پرفا كلمه كاف ده اتفاقي مثال له اذدكر څخه ادّكر اذّكر ،اذدكر ويل جائز ده .

(۴) حكم : اظهار هم يک طرفه ادغام هم يک طرفه جائز ده .

اول شرط : پرفاء دافتعال به زاء راغلي وي ،احترازي مثال اكتسب دلته پرفا كلمه كاف ده اتفاقي مثال له ازدجر څخه ازّجر ويل او ازدجر ويل جائز دي .

(ددې قانون اجراء)

دا قانون صرف دافتعال په باب كي جاري كيږي چي شرطونه ئي پكي موجود سي.

(قانون ۹.....۳۴) داثّبت ،اتّبت والايادثاوالا

اگرثاء واقع شود مقابله فاء افتعال اظهار يک طرفه ادغام دوطرفه جائز است مگرتاء راثاء كردن اولي است.

تشريح: ددې قانون نوم داتّبت ،اتّبت والايادثاوالاقانون ده ددي لپاره يو حكم يو شرط ده.

خلاصه : كه پرفاء كلمه دباب افتعال باندي ثاء راغله نو اظهار يک طرفه ادغام دوطرفه جائز ده مگرتاپه ثابدلول اولي ده.

(۱) حكم : اظهار يک طرفه ادغام دوطرفه جائز ده.

اول شرط : پرفادافتعال به ثاء راغلي وي احترازي مثال اكتسب دلته كاف ده اتفاقي مثال له اثتبت څخه اتّبت اثّبت اثتبت،ويل جائز ده.

(ددې قانون اجراء)

دا قانون صرف دافتعال په باب كي جاري كيږي ،چي شرطونه ئي پكي موجود سي.

(قانون ۱۰.....۳۵)

اگريكي ازده حروف مذكوره بالاواقع شود عين كلمه باب افتعال تائي وى راجنس عين كرده جوازاادغام وجوباواگرتاواقع شودادغام جائز است،

اگريكي ازحروف مذكوره واقع شود مقابله فاء كلمه باب تفعل يا تفاعل تائي آنهاراجنس فاء كلمه كردن جوازاادغام مي كنند وجوبا ،واگرتاباشدادغام جائز است.

تشريح: ددې قانون نوم دخصّم كظّم والا يادعين كلمي والاقانون ده ددې لپاره څلورحكمونه دي دهرحكم لپاره يو يو شرط ده اول دوه حكمه په باب افتعال پسي خاص دي اودانوردوه ئي په باب دتفعل ،اوتفاعل،پسي خاص دباب افتعال والائي ترعين تعلق لري اوتفعل ،تفاعل والائي ترفاء تعلق لري.

خلاصه : كه له دالسو مذكوره حروفو څخه ،طاء،ظاء ،صاد ،ضاد .دال ،ذال ،زاء ،سين ،شين ،ثاء ،يو حرف دافتعال پرعين كلمه راغلي نوتادباب دافتعال دعين كلمي له جنسه گرځول جائزجنس په جنس كي مدغمول دادغام په قانون واجب دي ،اوپرعين كلمه ئې تاء وه ،ادغام جائزده .

(۱) حكم : تاء دافتعال له جنس دعين كلمي كول جائز او جنس په جنس كي مدغمول واجب دي

اول شرط : پرمقابله دعين كلمه به يوله دالسو حروفو راغلي وي ،طاء ،ظاء،صاد ،ضاد ،دال ،ذال ،زاء ،سين ،شين ،ثاء ،احترازي مثال اجتهددلته هاده .پرعين كلمه اتفاقي مثال كتّب كتّب ،بشّر،بِشّر، خَصّم ،خِصّم،خصّر،خِصّر،خطّا،خِطّا،كَظّم،كظّم ،قَدّر ،قِدّر ،حَذّر ،حِذّر، مَزّج ،مِزّج،نَثّر ،نِثّر،په اصل كي اكتسب ،ابتشر،اختصم ،اختضر، اختطأ، اكتظم ،اقتدر ،احتذر ،امتزج ،انتشر،وو ،نورتحقيق به اوس انشاء په يوفائده كي ذكركړو .

(۲) **حكم** : تاء په تاء كي مدغمول جائز دي .

اول شرط: پرمقابله دعين كلمي به دافتعال به تا راغلي وي احترازي مثال اكتسب اتفاقي مثال ،له اقتتل څخه قتّل،قِتّل اقتتل ويل جائزدي .

(۳) **حكم**: تاء تفعل ياتفاعل له جنس ده فاء كلمي گرځول جائز او جنس په جنس كي مدغمول واجب دي .

اول پرمقابله دفاء دتفعل ياتفاعل باندي به يوله دالسو حروفو څخه راغلي وي احترازي مثال تجنب ،تجانب ،،اتفاقي مثال اسّبب ،اسّابب،اشّبه ،اشّابه ،اصّبر ،اصّابر،اضّبر، اضّابر، اطّلم ، اطّالم،اظّلم،اظّالم ادّرت ،ادّارت،اذّلل ،اذّالل ،ازّجه ،ازّاجه ،اثّبب،اثّابب ،په اصل كي تسبب ،تسابب،تشبه ،تشابه ،الخ وو بيائې تا په سين بدله كړه سين ئې په سين كي مدغم كړي بيا ابتدا په ساكن راغله همزه وصليه ئې راوړه .

(۴) **حكم** : تاء تفعل،ياتفاعل په فاء كلمه كي مدغمول جائزدى .

اول شرط: پرفادتفعل یاتفاعل کي به تاء وي احترازي مثال تکسب ،تکاسب ،اتفاقي مثال تترک ،تتارک ،څخه اتّرک،اتّارک،ویل اوتترک ،تتارک،ویل جائزدي .

(ددي قانون اجراء)

داقانون ترباب افتعال ،تفعل ،تفاعل ،پوري خاص ده ،دافتعال پرعین کلمه اوتفعل ،تفاعل ،پرفاء کلمه جاري کیږي ،

(مهم تحقیق)

فائدة: ادغام په دووطریقو کیږي اول نقل حرکت لکه مُعَذِّرونَ په اصل کي معتذرون وو یا په دي قانون سره معذرون سوبیائي دذال حرکت ماقبل عین ته ورکړي بیائي ادغام وکړي.

دوهم : حذف حرکت لکه قتّل په اصل کي اقتتل وودتاحرمت ئي حذف اقتتل سوبیادوه ساکنان جمع سوا ول ته ئي حرکت کسره ورکړه لان الساکن اذاحرک حرک بالکسر،بیااقتتل سوبیائي ادغام وکړي اقتّل سوهمزه وصلیه ئي حذف کړ.

اوس نوطالب جانه دلته بعض علماء لکه دحنفیه شرح مراح والادهمزه وصلیه چي دمابعدپه متحرک کیدوسره حذف کیږي دوي ئي نه حذف کوي ځکه دامابعد ئي په حرکت عارضي سره متحرک ده اوهغه په حکم دسکون کي ده نودي له اقتتل څخه مثلااقتل اقتتل وائي.

اوجمهور علماء حذف کوي ځکه وی دابتداء لپاره صرف متحرک والي کافي ده نوله اقتتل څخه قتّل ،قتّل واي اویاپه اتفاق وفاء کلمي ته کسره ورکول هم جائزده ،ځکه الساکن اذاحرک حرک بالکسر،اودمابعدفتحه هم ورکولاي سي چي ادغام په نقل حرکت ،مي اویافتحه ورکولي سي،یعني دمابعد فتحه نه بلکي له خارج څخه فتحه راوړلي سي دخفت په خاطر.

نوخلاصه داسوه چي بیائي ماضي پرپنځه طریقي راځي ،اکتسب ،اکسّب ،کسّب،کِسّب،

مجهو ل هم پرپنځه طریقي راځي ،اُکتُسِب،اُکسب،اکِسب،کُسّب،کِسب،دلته په بعضو وجهو کي فرق په اصل کیږي ،

مضارع ئي پردري طریقي راځی ،یکتسب ،یَکِسب،یَکسب،

مصدرئي پرپنځه طريقي راځي اکتسابا، اِکِتسابا اِکَسّابا اَکَسّابا کِسّابا

په اسم فاعل کي څلور طريقي جائز دي ، مُکْتَسِبٌ، مُکَسِّبٌ، مِکِسِّبٌ مُکِسِّبٌ.

په امرحاضرکي پنځه طريقي جائز دي ، اُکْتَسَبْ، کَسِّبْ، کِسِّبَ اِکَسِّبْ ، اِکِسِّبْ ، دانورته پرقيا س کړه .

(قانون ۱۱........۳۶)

اگريکي ازيازده حروف مذکور، وراونون بعدازلام تعريف واقع شودلام راجنس ايشان کرده وجوباادغام مي کنندوجوبا، واگريکي ازايشان بعدازلام ساکن غير تعريف واقع شودلام راجنس ايشان کرده جوازاادغام مي کنندوجوبا، سوائي راچراکه درين جاواجب است .

تشريح : ددې انون نوم دشمسي ، قمري والاقانون ده ددې پاره دوه حکمه ديدهرحکم لپاره دوه‌دوه ناقص شرطونه دي .

خلاصه: که له دايو ولسو مذکوره ؤحروفوسره له رااونون څخه يوحرف ترلام تعريفي يعني کلمه دال راغلونولام ددوي له جنس گرځول واجب دي اوادغام هم واجب دي اوکه داحروف له لام ساکن يعني (ل) چي دکلمي يوجزء وي لکه علم ورسته راسي ، نولام ددوي له جنس کول روجائز ، اوجنس په جنس کي مدغمول واجب دي ماسوا اله راپه راکي بدلول هم واجب دي.

(۱) **حکم :** لام دمابعد له جنسه کول جائز جنس په جنس کي مدغمول واجب دي .

اول شرط: له لام وروسته به له دغه ديارلس مذکورحروفوڅخه چي شمسي حروف دي يوحرف راغلي وي ، احترازي مثال الحمدلله حاء ده داله قمري حرفوڅخه ده .

